

څرک

نهم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې ۸۱ مه ګڼه، سرطان ۱۳۹۳ل،شعبان المعظم ۱۴۳۵ق،جون ۲۰۱۴م

په نایجیریاکې نوې پېښې اودلته دلویدیځ شوم پلانونه



دتوکمیزو ستونزو زېږنده ټولټاکنې !!

استقبال از ماه مبارک رمضان



دسنګین عملیاتوغلیم له سنګین شکست سره مخ کړ !

رسنۍ، دامریکا د جګړې زبرځواکه وسله فتحې او لاسته راوړنې



سر لیکنه :

دسنګين عملياتوغليم له سنګين شکست سره مخ کړ !

په دې ورستيوڅوورو ځوکې دهيواد په جهاد پروره سيمه (هلمند)په شپږوولسواليو(سنګين ، مارجه ، کجکي ، موسى کلا ، نادعلي اونوزاد) کې د اسلامي امارت سيمه ييزو جهادي قطعاتو پراخ تهاجمي او تصفيوي عمليات پيل کړل ، چې په نتيجه کې په يادوولسواليوکې نه يوازې دګوډاګې اداري زرګونه پوځيان پرشاتګ او تيښتي ته اړشول ، په لسګونه تنه يې مړه ټپيان اوهم په لويه سطحه پوځي تجهيزات ، وسلې اومهمات دمجاهدينو لاسته ورغلل .

په دغوولسواليوکې ورستي عمليات په داسې شرايطوکې پيل شول چې دګوډاګې اداري دملي دفاع ، داخله اوامنيت ملي وزارتونوپه مسلسل ډول داتبيليغات په کاراچولي وو اوبادارانويې هم ورسره دتائيدمهرلګاوه چې ګواکې کابل نورپه بشپړډول داتوان اوچمتوالى لري چې دمجاهدينوپه وړاندې وجنګيږي اوله خپلواهدافواو تاسيساتوڅخه په يوازې ځان دفاع وکړي .

خود هلمندولايت په شپږوولسواليوکې دخيبرروانوچاڼيږوعملياتوپه اثبات ورسوله چې دخپلوبادارانوله هراړخيز هوايي اوجاسوسي ملاتړاوسره له دې چې تنهاپه هلمندولايت کې دا اردو ، پوليسواواربکيانوله لسوزروډيرعسکر وجودلري ، خوبياهم دالله تعالى په لوى فضل اودولس په مستقيمه همکارى ونشوکړاى چې دڅوسووتنومجاهدينو په مقابل کې ودريږي اودخپلوتاسيساتو ، امنيتي پوستواوجنګي کرښوڅخه دفاع وکړي ، بلکې دمجاهدينوله ړومبنيوګوزارونوسره يئ هرڅه ځاى پرځاى پريښوول اوپراخې ساحې يې تخليه کړي !

ګوډاګې اداري چې دهلمند په لايت کې لوى اوتاريخي شکست وليدنودمعمول مطابق يې بياهماغه زړه نغاره وډنګوله چې له طالبانوسره په ورستى جګړه اوتعرضي عملياتوکې دکوم ګاونډى هيوادمرسته شريکه ده !

خواوس هرڅوک په دغونغاروا ومنفي تبليغاتوپوه دي اوپوهيږي چې کله اشغالګراويادوى لاسپوڅي درنه ماتي اوغاښ ماتوونکى ځواب ووينې ، نوپرته لدې چې په خپل شکست اورسوايى اعتراف وکړي اودماتي عوامل خپله بې همتى اوباطل صف وبولي ، نوروسوليدلوپلمواوتورونوته چې له تيرو۱۴ کلونوراهيسي يې پرې په کراتواومراتوشخوندوهلى پناه وروړي اودعام ولس داذهانودبدلولوهڅه کوي .

دکابل اداره اوباداران يې بايدځان په دې خبره پوه کړي چې دانتخاباتي ډراموادوکوپه ترسره کولوبه هيڅکله افغان مجاهدولس دخپلودينې اوملي ارزښتونوتمسخراوسپکاوي ته اجازه ورنکړي ،ځکه ددغوټاکنوترشااوپه همدې بڼه کې دامريکااوغرب سترشيطاني اوافغان دښمنه دسيسي پټې اوراروانې دي اوپه سلوکې لس فيصده هم دافغانانو دخيراوفلاح تضمين اوډاډ پکې نشته ، نواسلامي امارت داشغالګرودغه ډول حربودټکولواوله اسلامي ارزښتونو څخه ددفاع په نيت خپله ديني اوملي دنده بولي چې دهلمنددسنګين دعملياتوپه څيردهيوادپه هره سيمه اونقطه کې پراخ اوپريکنده تهاجمي اوسنګين عمليات پيل کړي اوداستعمارپټې اوښکاره حربې شنډې اودغلامانوخيالي ماڼې يې وردړي وړي وګرځوي ، انشاالله تعالى

استقبال از ماه مبارک رمضان

منقاد

ماه رمضان در میان مسلمانان از احترام اهمیت و جایگاه ویژه‌ای برخوردار و ماه سلوك روحی آنان است و مؤمنان با استقبال و مقدمه‌سازی و فراهم کردن زمینه‌های معنوی در ماه های رجب و شعبان هر سال خود را برای ورود به این ماه شریف و پربرکت آماده می‌کنند، و با حلول این ماه با شور و اشتیاق و دادن اطعام و افطاری به نیازمندان، شب‌زنده داری و عبادت، تلاوت قرآن، دعا، استغفار، دادن صدقه، روزه‌داری و ... روح و جان خود را از سرچشمه فیض الهی سیراب می‌کنند.

ماهی که درهای آسمان در شب اول آن گشوده می شود و تا آخرین شب این ماه بسته نمی شود.

ماهی که در فضای ملکوتی آن تمام گناهان و لغزشها و کوتاهیهایی که در طول سال گذشته از انسان سرزده بخشوده می‌شود. به فرموده رسول الله صلی الله علیه و سلم رمضان تا رمضان کفاره و بخشش گناهان در میان است، چنانچه از گناهان بزرگ و کبیره دوری شود!

ماهی که نزد خدا افضل از سایر ماه ها است روزهای آن بهترین روزها، شبهای آن با فضیلت‌ترین شبها و ساعتهای آن بهترین ساعتها است.

ماهی که چهره گیتی در مقابل دیدگان خلایق بکلی عوض می‌شود. جهان و جهانیان پوستینی نو به تن نموده، زندگی نوینی را آغاز می‌کنند.

ماه رمضان ماه خداوند، ماه نزول قرآن و از شریف‌ترین ماه های سال است. در این ماه درهای آسمان و بهشت گشوده و درهای جهنم بسته می‌شود، و عبادت در یکی از شبهای آن (شب قدر) بهتر از عبادت هزار ماه است .

در ماه رمضان همه قوانین و ترازوهای عدالت الهی برچیده شده در جایش اقیانوسهای بی ساحل رحمت و بخشایش و سخاوت نصب می‌گردد. خداوند عالم به فرشتگان مسئول ثبت و شمارش و تعیین اجر و پاداش نیکوئیهای بندگان دستور می‌دهد: مگر روزه!.. روزه از من است.. و من شخصا اجر و پاداشش را می‌دهم!..

عجب شرف و مکانتی است روزه را!... و عجب سعادتی روزه دار را!..

ماهی که شما به مهمانی خدا دعوت شده اید و درآن ماه از اهل کرامت «خدا» قرار گرفته اید نفسهای شما درآن ماه تسبیح است و خوابتان درآن عبادت و عملتان در آن مقبول و دعایتان در آن مستجاب است پس بخواهید از خداوند پروردگارتان با نیّات راست و دلهای پاك که شما را به روزه در آن ماه و تلاوت کتاب خودش موفق فرماید زیرا بدبخت کسی است که در این ماه بزرگ از آمرزش خدای نومید محروم شود به گرسنگی و تشنگی خودتان در این ماه گرسنگی و تشنگی روز قیامت را بیاد آورید و بر فقرای خویش و بینوایان خویش تصدق نمائید و در آن ماه بزرگان تان را توقیر و احترام کنید به کوچکتران رحم نمائید و ارحام خود را صله کنید و

زبانهایتان را نگاهدارید و چشمها را از آنچه نگاه به آن حلال نیست بپوشید و گوشهاتان را ازآنچه شنیدن آن نارواست ببندید و بر یتیمان مردم ترحم و مهربانی نمائید تا بر یتیمان شما ترحم شود و از گناهان خود به سوی خدا بازگشت نمائید و دستهایتان را در هنگام نمازهایتان به دعا بردارید زیرا وقت نماز افضل ساعاتیست که خدای عز و جل به بندگانش به نظر رحمت می نگرد و چون چیزی بخواهند و با او مناجات کنند جوابشان را میدهد و چون ندا کنند لبیک میفرماید و دعایشان را مستجاب می نماید

کسی که روزه می‌گیرد، روزه‌اش را خداوند از آن خود می‌نامد. و خودشان بکرم و سخاء و جودشان مقدار اجر و پاداش آنرا بر عهده می‌گیرند. حال خودت بنگر! آیا بخشایش پادشاه جهان و جهانیان قابل تصور است؟!

پیامبر حق و رسول هدایت و شیفته دیدار پروردگار از ذات پاك یکتا طول عمری می‌خواهد تا لطافت و جمال وجلال رمضان را به آغوش کشد، و در فضای ملکوتی رمضان بیش از پیش به خدایش نزدیك، و در نزد او عزیزتر شود.

رمضان می‌آید تا ما را آلایش دهد و از پستیها و زشتیهای اخلاقی و عادات زننده، و رفتار و گفتار سوء پاك ساخته بسوی پرهیزکاری و تقوا سوق دهد.

شایسته عاقلان است که از همین امروز خود را برای رسیدن رمضان آماده سازند. آمادگی رمضان در انباشت اسباب خورد و نوش نیست، رمضان بر خلاف آنچه بسیاری از مردمان درك نمی‌کنند ماه استراحت دستگاه گوارش است. ماهی که با تنظیم سیستم گوارشی روح و روان انسان را تعالی می‌بخشد.

در مدرسه رمضان مؤمن چگونگی شکر نعمت و سپاس پروردگار بر فضل و کرمش را می‌آموزد. در مکتب رمضان مؤمن سعی می‌کند از صفتهای بی‌منتهای کمال الهی بویی ببرد. سخاوت و گذشت و ایثار و شفقت بر زیر دستان می‌آموزد. معنا و مفهوم بندگی را دریافته از عبادت الهی لذت می‌برد. صفتهای فرعونی‌گری و خودخواهی، و نفس‌پرستی و خودستایی در او ضعیف می‌گردند.



و او خود را برای ساختار جدید و انسانی بکلی تغییر یافته آماده می‌سازد. تا با نیروی برگرفته از رمضان سالی دیگر را با روحیه خوشبختی، و تلاش و همتی سازنده شروع کند.

ماه مبارك رمضان در حقیقت یکی از نعمات بزرگ پروردگار بوده که به منظور شستشوی وجود مان از گناهان به ما اعطاء گردیده است. لذا به هر خواهر و برادر با درك ماست تا از این لحظات گرانبها و از این شانس طلایی به منظورمحو نمودن اشتباهات، خطاها وگناهانی که از ما سرزده است استفاده نماید، و با باز گشت این ماه مبارك و پر فیض همزمان با آنکه از فواید طبی آن برخوردار می‌شویم، از فواید دنیوی و اخروی آن نیز مستفید گردیم.

خوشا به حال آن خواهر و برادرکه هر لحظه این ماه پر فیض و پر برکت را غنیمت شمرده و از آن در جهت مغفرت و بخشش گناهان‌شان استفاده نمایند وحسرت و افسوس به حال آن خواهر و برادری که با فرا رسیدن این ماه مبارك هنوزهم از خواب غفلت بیدار نگردیده و با بی‌تفاوتی و بدون احساس مسئولیت، به گناهان گذشته‌شان ادامه داده و از این شانس طلایی مستفید نمی‌گردنند.

رمضان در راه است و ما در شوق دیدار آن لحظه شمار..

دتوکمیزو ستونزو زیږنده ټولټاکنې !!

خپلواك

انتخابات تیرشول خودموسمي تبې په څیریې لاجراثیم زموږدخلګوپه وجودکې پاتي دي؛ ژبې لاهم هغسي دیوبل په وړاندي تیرې او اوږدې دي؛ کنځلې، پیغورونه، دیوبل سیمي اوژبې ته سپکې سپوري ویل اولیکل روان دي؛ دامریکا ،برتانیې اوناټو استازوغوږنیولی اودیوې ستري لوبې او ورستۍ حربې دبري انتظارباسي !

یوه پیړۍ وړاندي لاانګریزانوداسلامي هیوادونو دوهلولپاره دتقسیم فارموله غوره کړې وه اودهمدې فارمولې له لاري یې عربان اوترکان پخپلوکې سره واچول اودمسلمانانو دوحدت ورستۍ سمبول عثماني خلافت یې له مینځه یوړ، چې بیایې عربان هم په خپلوکې په یودرجن وړوهیوادونو وویشل.

افغانستان چې دوه ځله یې انګلیسي استعمارته ماتې ورکړې اوهمیشه دانګریزانو دسمه ایزوګټو په وړاندي خنډپاتي شوی دی، نن هم دلوید یځونیوا ګکرودسترګو ازغی دی اوددې هیواد وحدت ته یې ارادې سمې ندي.

په همدې موخه له تیرې څه باندې یوې لسیزې راهیسې په هیوادکې ژبني اوسمتي اختلافاتوته لمن وهل کیږي، ددواړوغاړومتعصبوخبروته امکانات ورکول کیږي او تبلیغاتي اسانتیاوې ورته برابریږي.

دانتخاباتو مشروعیت اواصلیت:

دامریکایي تیري له اولې ورځې زموږپه هیوادکې هرهغه څوک چې ددغه اشغال سره یې فکري یاعملي مخالفت کاوه، ددښمن په نامه ونومول شول، چې بیایې په وړاندي هرډول غبرګون ددیموکراسي ترشعارلاندي مشروع عمل وګڼل شو ،له همدې امله هرهغه څوک چې له امریکایي اشغال نه دهیواد دخپلواکي فکریې لاره له صحنې وایستل شول.

دلوید یځواستخباراتي اوسفارتي کړیوپه هڅونه په هیوادکې داسې میډیا رامینځ ته شوه چې ریموټ کنترول یې له اولې ورځې دلوید یځواستخباراتوپه لاس کې و، چې د۹۵فیصده مسلمان ملت دعقایدو، عنعناتواوتاریخ خلاف نشرات اوتبلیغات یې پیل کړل، دیرغلګرو وحشت، ظلم اوناوړدي یې پټولې اوددې یرغل پرمخالفت کوونکویې دپردي پالو، غلامانواودې ته ورته ناوړه تورونه پوري کول.

بل پلوهرهغه څوک چې ددغه سپین سترګي یرغل حمایت اومرسته یې نه ده کړي، له لومړۍ ورځې دسیاسي عمل داجرا حق ندی ورکول شوی، دلته دموجودې لاس پوڅې میډیا له لارې یوازې هغې څیرې ځلول کیږي اوتبلیغاتي کمپاین ورته کیږي چې دلوید یځ استعمار چوپړیې وهلی دی، ډیری داسې کسان چې دخارجي قوتونو دشتون مخالفت

کــوي اویـــا یې دد ایمـــي اډو دمخالفـــت روحیـــه لرلـــه دکاندیداتوري له حقه محروم ګرځول شوي دي.

دداخل انتخاباتو لپاره چې څومره کاندیدان وو، نو ټولو داعهد کړی و، چې دبریالتوب په صورت کې به دامریکا سره ددایمي غلامي تړون(استراتیژیک تړون) امضاکوي، چې په حقیقت کې داعهد دکاندیداتوري یو شرط و، ورستیو مخکښو دواړو کاندیدانو ترد وهم ځل ټاکنو وړاندي بار بار داخبره تکراروله چې دبري په صورت کې به یې لومړی کاردامنیتي سند امضاکول وي، دا ددې لپاره چې دواړو خپل بری یوازي دامریکا په رضایت کې لیده، نه دخلګو په رایو کې.

په مخکښو کاندیدانو کې داسي څوک نه و، چې له تیرو دیارلسو کالودې پدغه فاسد رژیم کې په دندونه وي پاتې شوی، اوسني دواړه سیالان دامریکایي یرغل له لومړۍ ورځې ددغه یرغل په چوپړ کې وو، په لومړي لاسپوڅي رژیم کې یې یو خارجه او بل دمالیې وزیرو.

دکوم هیواد اساسي قانون، اجرایه قوه او واکمنان چې دپردو په لاس رامینځ ته شوي وي، هلته دټاکنو دخپلواکي اومشروعیت تصورهم نشي کیدی، البته ولس دخپلې بدې ورځې نه ځک ته هم لاس اچوي، چې ګنې لږبه یې ورځ ښه شي.


له بلې خوا دمیډیا له لارې دقوم او سیمي په جزباتو خلګ په ټاکنو کې ګډون ته هڅول کیږي، ترڅو خلګ دیوه او بل له ویري انتخاباتو ته ارزښت ورکړي.

افغانستان چې دا وخت په رسمي توګه دپردیو په ولکه کې دی او هیڅ خپلواک بنسټ نلري، دیوه بې وارثه هیواد په توګه یو جریان هم ورکې بې لوري او خپلواک ندی، دلته دفساد او درغلیو په وړاندي هیڅ یوه داسي منصفه او ځواکمنه اداره نشته چې څوک دې ترلاسه را ونیسي، موږ ولیدل چې دجعلي رایو مستندې ویډیوګانې په انټرنیټ خپرې شوي، خو نه څوک چاملامت کړای شول او نه څوک پرې وشرمیدل.

دافغانستان اتیافیصده ابادي کلیوالي سیمي دي، په دواړو پړاوونو کې دیودرجن ولایتونو په کلیوالو سیموحتی دولسوالیو په مرکزونو کې رایې ونه لویدې، خو کاندیدان او لاسپوڅي میډیا دواړه پرې تراوسه خاموشه دي او ددغه ولایتونو دټولوسیمو په نامه رایې هم شمیرل کیږي.

دسمت اوژبې زهرجن شعار:

دسیمت اوژبې شعارترټولو زهرجنه حربه وه، چې داخل وکارول شوه، داحربه دافغانستان دوحدت ددښمنانو لپاره یوښه فرصت دی، ترڅو افغانستان په عملي توګه توکمیزبحران ته ورټیل وهي.



پداسي حال کې چې دواړه مخکښ کاندیدان نه دهیواد او نه دهیواد دکوم توکم استازیتوب کولای شي، بلکې دپردیو په فرمایش دپردیو اهدافو لپاره رامیدان ته کړای شوی دی.

دپردیوفرمایشي خیرې هیڅکله دپردیو ګټو په وړاندي دخپلو خلګو او خپل هیواد ملی او بین المللي ګټو ته وفادارنه وي، دافغانستان سره مینه ددې هیواد خپلواکي ده، خودغه دواړه ښاغلي دامریکا ددایمي شتون لپاره دسند امضاکولو ته لیواله دي.

ترکی، امین او نجیب تر ټولو زیات پښتانه وټکول، بې کوره یې کړل او د پلیګون په څیر وحشي ډیرانو نه یې پرې ډک کړل، داکتر نجیب د شاهي کورنۍ (چې پښتانه توکمه وو) بندیانې ښځینه هم په عزت کې پرې نښودې، بلکې پخپله به زندان ته ورته (د جنرال عمرزي د کتاب: شبهای کابل په حواله)

خو نن بیا زاړه کمونستان او دهغوی زامن په ډېره سپین سترګي د پښتنو د حقوقو نارې وهي، غواړي اوس پرځان دغه څرمن واغوندي او خپله زړه وطن فروشي او افغان کشي پټه کړي.

د نجیب دواکمنې پر مهال چې موږ ماشومان وو، زما په یاد دي د ګیلم جم ملیشو له ویرې مو کورونه پرایښې وو، نورو سیمو ته مو هجرت کړی و، دغه ملیشو د خلکو کورونه چور کړل او څاروي یې هم په ګولیو ویشتلي و او چې څوک په کورونو کې پاتې وو، دهغوی شیدې رودونکي ماشومان یې هم په ځانګو کانو کې ویشتلي وو، نجیب پر همدغو ملیشو زیاته اتکا کوله او اکثره به یې زموږ سیمو ته د عملیاتو لپاره رالیږل، روسي جنرال الکساندر (مایوروف) په خپلو خاطرو کې لیکلي: څو تنو روسي عسکرو د ننګرهار په ولایت کې په څو پیغلو انجونجنسي تیری وکړ، کرملین د دغو عسکرو د مجازات غوښتنه وکړه، خو نجیب یې دفاع کوله چې دا یوه عادي پیښه ده، چا چې د پښتنو د عفت پروا نلرله هغه هم د ځینو په اند د پښتنو خواخوږی دی، دا ډول څیرې که په هر دورکې تیرې شوې دي، نه یې د هیوادپرسرننګ کړی او نه هم د کوم توکم.

له بده مرغه دا ځل یو شمیر هغه خلک چې ډیرې یې د اسلامي دعوت او جهاد په شعارونو کې سپینې شوې دي، د دښمن د دې حربې ښکار شول او د توکمیزو جزباتو پر بنسټ د دغو بې هویته او پردو ایجنټانو ترشا ودریدل!!!

د طالبانو ثابت دریځ:

طالبانو د امریکایي یرغل له لومړۍ ورځې د اشغال ترسیوري لاندي هر عمل نامشروع بللي او د سبوتاژ کولو هڅه یې کړې، چې پدې کې ټولټاکنې هم دي، البته په کومو سیمو کې چې طالبانو زیات قوت لاره، هلته یې زیات زور ښکاره کړی او په کومو سیمو کې چې یې کم نفوذ لاره، هلته یې د هم هغه نفوذ په کچه کوشش کړی، پدې اړه طالبان له لومړۍ ورځې پخپل دریځ ثابت پاتې شوي دي، که طالبانو کوم خاص کاندید ته پرسمتي او ژبني معیار د مرستې لاس ورکړی وای او یا یې په همدې جزبه او یا د ځینې وعدو په بدله کې د هغه له مخالفته لاس اخیستی وای نو دا به د طالبانو د فکري جوړښت او مضبوط دریځ لپاره سخته ضربه وای، بلکې طالبانو به د لنډ مهاله او فرضي ګټو لپاره خپل تلپاتې شعارته شا اړولي وای، او د خپلې دعوې خلاف به یې یو غیرمشروع جریان په رسمیت پیژندلی وای.

طالبان پدې پوهیږي چې که یو کاندید یې پرو ړاندي د جګړې پالیسي لري، نو بل یې په وړاندي د سولې په نامه د داسې جریان په لټه کې دی، چې تر جګړې ورته خطرناک دی، چې هغه لدې تحریکه د افرادو او اشخاصو د بیلولو پالیسي ده.

سی آی ای پوره هڅه وکړه چې طالبان پدې جریان کې ملوث کړي، ترڅو له خپله ثابت دریځه واړول شي، خو طالبانو له ځیرکتیا نه کار واخیست!

د اسلامي حزب مشر ښاغلی حکمتیار د همدې د سیسې ښکار شو، چې یو ځل یې د انتخاباتو ټول جریان نامشروع او پردو ترسیورلاندي ګڼه، خو بیا یې همدغه جریان په رسمیت و پیژاند او خپل کاندید یې ونوماوه!

دمصر اوسني انتخابات او داسلامي نړۍ په اړه دلویدیځ ارادې

حسن مومند

دفوځي طاقت په زورپه مصرکې دولسمشریزوا نتخاباتو په نوم په ترسره شوې نوې لوبې کې فوځي واکمن السیسي خپل ځان بریالی اعلان اودمصر دمنتخب ولسمشر په صفت یې لوړه وکړه ؛ داسرائیلو دولسمشر اولومړي وزیر په شمول ورتـه د نـړۍ ګڼـو مشـرا نو دمبـارکۍ پیغامونـه راولیږل اودځني اسلامي هېوادو نومشرا نو خودا ورځ دمصرلپاره تاریخي ورځ وګڼله .

په لومړۍ ورځ چې څوک د رایوا چولولپاره راو نه وتل نوخبره دوهمې ورځې ته ولاړه اوچې په دوهمې ورځ هم څوک درایوا چونومرکزو نورا نغلل نوخبره دریمې ورځې ته ولاړه خوپه درې واړو ورځوکې هم درایـوا چونکـو شمېره له ۱۲ سلنې وا نوړېـده ؛ یـا نې دمصـر ۸۸ سـلنې دتـش پـه نامـه دې ا نتخاباتو سره عملاً پرېکوڼ وښود خوبیـا هـم نـړۍ دا ا نتخابـات قـا نوني اودیموکراتیک وګڼل اودکودتایي نظام ترچترلا ندې دزرو نوبې ګنـاه مصریا نوقاتل ، فوځي مشرالسیسي چې په حقیقت کې یواځنی کا ندید و دا نتخاباتو قا نوني ګټونکی یې وګڼلو.

پوښـتنه داده چـې د نړیوالـو ټولـو قوا نینودمخالفـت سـره سـره هـم دبشریت ددې ستر دښـمن السیسـي پـه ناقا نونـه کړنـو اوظلمونـو نـړۍ اوخصوصاً امریکا اوټول لویدیځ ولې سـترګې پټـې کړیـدي ؟ ولـې یـې قا نوني ولسمشر بولي ؟ اودبشریت سره دادومره ستره جفـا ولـې کېږي ؟ ددې پوښتنې جواب ایله هغه مهال موندلی شوچې کله داسلامي نړۍ په اړه دټول لویدیځ اوپه ځا نګړي ډول دامریکا دارادو نه ځا نو نه خبر کړو.

نولویـدیځ چـې داوسـېدو نکوقاطع اکثریـت یـې دتحریـف شـوي مسیحیت دی داسلام او مسلما نا نو سره یې دښمني لا له هغې زما نې نه پیـل شوی چې کله داسلام پیغام د نړۍ ترزیاترو برخوورورسېد او دمسلما نا نو دفتوحاتو لمن ترمسیحي نړۍ خپره شوه؛ داسلام او مسلما نا نو سره ددې دښمنۍ په پټولو لویدیځ هیڅکله هم ندی توا نېدلی؛ دښمني یـې خامخـا ښکاره شوې خو ظهوریې کله دوحشت نـه ډکـو ګرمـو جنګونـو پـه صورت کې او کله د نفاق نه ډکو پټو توطئو او شومو پلا نونـو پـه شـکل کې ؛ ددې لړۍ تسلسل دپیل نه تر ننه نـدی پـرې شـوی خـواوس د ۲۱ مـې پېړۍ په پیل کې چې دامریکا پـه مشـرۍ کـې ټـول لویـدیځ داسـلام او مسـلما نا نولـه منځـه وړلـو لپـاره سـره رایـو ځـای شـو نـودا چـې دا د دوئ دمادیاتو، حربي وسلو او عسکري وسایلو دعروج زما نه وه نو پدې تمه یې پرافغا نستان نظامي یرغل وکړ چې دا به پیل وي او ورپسې به یـو پـه بـل پسې ډېر ژر دمسلما نا نو هیوادو نه قبضه کړي؛ دخپل پلان سـره سـم یـې دافغا نستان نه پس ډېر ژر پرعراق هـم حملـه وکـړه خـو چـې پـدې دواړو هیوادو نـو کـې بدبـد راښـکېل شـول ؛ دشـرمونکې مـاتې سـره مخـامخ شول ؛هیلې یې دخاورو سره خاورې شوې او یقـین تـه یـې پربوتـه چـې پـه نظامي ډګر کې دمسلما نومجاهدینو مقابله ناشوني ده نو ټوله توجو یې داسلامي نړۍ دکمزورې کولو لورته واړوله او ښه په سپین سـترګۍ یـې مسلما نا نو ته دهراړخیزوتاوا نونو رسولو په موخه ټـول شـوم پلا نونـه پـه کارواچول.

په کومو هیوادو نو کې چې دمسلما نا نو اقلیت دی پسـې یـې دهغـه هیواد داکثریت دراپا څولو کوښښونه وکړل ترڅـو پکـې دمسـلما نا نو قتل عام وشي لکه په برما او ورپسې په وسطی افریقا کې چې همداسـې وشول ؛ په کومو هیوادو نو کې چې شیعه ګان او سنیان یـا مسـلما نان او مسیحیان د نفوس برابرې برخې وي دهغه هیوادو نو د حتمـې تجزیـې ډېـرې زیاتې هڅې کوي لکه دسوډان دجنوبي برخو مسیحیان یې چې دمرکـزي دولت خلاف بغاوت تـه وهڅـول ؛ د مسـلما نا نو او مسـیحیا نو تـرمنځ اوږده جنګونه رامنځته شول چې پکې له دواړو لورو ګـڼ ا نسـا نان لـه منځـه ولاړل؛ لویدیځ ددې هرڅه پړه پر مرکزي دولت ورواچوله او دخپلو رسـنیو له لارې یې ډېر زیات تبلیغات وکړل چې دمسیحیا نو په وژنو کې مرکزي

دولت لاس لري ؛ په همدې پلمه دملکرو ملتونو په نوم لاسپوځې ادارې مداخله وکړه؛ ولسمشر عمرالبشیر یې په جنوبي سوډان کې ټولپوښتنې ته اړ کړ او چې ټولپوښتنه رامنځته شوه نو نتائج هغسې اعلان شول ځرنګه چې لویدیځ غوښتل؛ وویل شول چې دجنوبي سوډان قاطع اکثریت جدا هیواد غواړي؛ بس د نتائجو داعلان نه سمدستي پس دټولې نړۍ په رسنیو کې جنوبي سوډان دجدا هیواد په صفت یاد او دملګرو ملتونو ادارې دمستقل هیواد په صفت په رسمیت وپېژندلو.

لویدیځ اوس په نایجیریا کې هم همدا دسوډان پلان تطبیقول غواړي؛ نایجیریا دمساحت په لحاظ دافریقا دوهم او د نفوس په لحاظ ترټولو ستر هیواد دی ؛ مسلما نان یې د نفوس ۵۵ سلنه او مسیحیان یې ٤۵ سلنه تشکیلوي؛ دهېواد ولسمشربايد مسلمان وای خو دیو شمېر داخلي لاملونو او خارجي فشارونو له امله دمسلما نا نو ددې هیواد اوسنی ولسمشر مسلمان نه بلکې مسیحي دی؛ دهمدې مسیحي ولسمشر په مشرۍ کې د نایجیریا دولت ړومبی دمسلما نا نو ، ،بوکوحرام، ، نومې یو فعال تنظیم دتروریست تنظیم په صفت اعلان کړ او بیا ورسره دتړاو په پلمه دمسلما نا نو په سونو مدرسې او مکتبونه ړنګ شول او په مختلفو وختونو کې دفوځ او پولیسو له لورې د نومړي تنظیم پرضد دعملیاتو په ترځ کې په زرونو مسلما نان زندا نیان یا شهیدان شول؛ ددولت له لورې دمسلما نا نو پرضد دهمدې ظلمونو او بیا ددې ظلمونو په مقابل کې دمسلما نا نو دغبرګون ښکاره کولو له لارې لویدیځ دمسلما نا نو اومسیحیا نو ترمنځ دمنافرت او ددښمنۍ اورته لمن ووهله چې په نتیجه کې مسیحیان ورو ورو جنوبي او مسلما نان شمالي نایجیریا ته په ورټولېدو شول؛ کله چې ټول مسیحیان جنوبي نایجیریا ته ورټول او دمستقل هیواد غوښتنه وکړي نو دسوډان په څېر به دلته هم دمستقل هیواد درامنځته کېدو لپاره ټول مراحل طی شي او یو داسي مسیحي دولت به رامنځته شي چې ټوله لویدیځه نړۍ به یې ترشا ولاړه وي او دشمالي نایجیریا دمسلما نا نو ددولت په پرتله به په هرلحاظ ډېر ځواکمن وي.

همدا راز په شیعه مېشتو او سني مېشتو سیمو دعراق اوسوریې دتجزیه کولو لپاره هم دامریکا په مشرۍ دلویدیځ دې شیطا ني اتحاد خپل ټول وسایل په کار اچولي دي؛ او زموږ په ګران هیواد افغا نستان کې یې هم دسمتي اوژبني تعصب زهرجن تخم شیندلی دی ترڅو ددې هیواد نه دتېښتې پرمهال یې دتجزیه کولو او دمستقل هیواد په صفت ورنه دشمال دجدا کولو هڅې وکړي.

دکومو اسلامي هیوادونو نوعیت چې داسې نه وي او په شیعه مېشتو او سني مېشتو یا مسلمان مېشتو او مسیحي مېشتو برخو نه شي ویشل کېدای نو په هغې هیوادونو کې یې سیکولرستان واکتـه لـه رسولو نه پس پراسلام خوښو دومره زیاتو ظلمونو ته هڅولي دي چې له امله یې طبعاً دهیواد ټول وګړي په دوه طبقو ویشل کېږي: لبرال او سیکولر طبقه چې نړیوال یې روڼ اندي یا روشنفکران بولي اوبله طبقه اسلام خوښي چې نړۍ یې په بنسټپالو، سخت دریځو او نورو نومونو یادوي؛ لویدیځ دسیکولر طبقې سره مسلسلې مادي مرستې او ورنه سیاسي حمایت کوي؛ مرستې او حمایت یې ښکاره کوي او په ډېرې سپین سترګۍ یې کوي ترڅو اقتدار ته دسیکولر طبقې درسېدلو او لاسپوځې ادارې درامنځته کېدلو په صورت کې دلویدیځ موخې هم ترسره شي او ددواړو طبقو ترمنځ اختلافات هم دومره جور شي چې دقتل وقتال ترحده ورسېږي او داسلام خوښو ښې ډېرې وینې توی شي لکه دمصر روان حالات دهمدې شاهد دی.

دملي پاڅون په نتیجه کې دډیکتاتور حسنی مبارک دراپرځېدو نه پس چې اسلام پال ډاکټر محمدالمرسي دمصر دمسلمان او مبارز ولس دقاطع اکثریت په خوښه او دلویدیځ دجمهوري اصولو سره سم دازادو او شفافو انتخاباتو له لارې منتخب ولسمشر شو؛ او په انتخاباتو کې یې دحسنی مبارک ددورې وزیر احمد شفیق، دبا ندنیو چارو وزیر عمروموسی، د نړیوالې اتومې انرژۍ پخوانی مشر محمد البرادعي او احمدبن صباجي ته ماتې ورکړه؛ لویدیځ ګومان کاوه چې ددوئ دمادي مرستو پرته به اسلامپالي څو میاشتې هم دمصر اداره ونشي چلولای؛ لویدیځ فکر کاوه چې واکتـه دمرسي درسېدلو نه ۳ یا ٤ میاشتې پس به په مصر کې ستر اقتصادي بحران رامنځته شي چې په پایله کې به ولس دمرسي پرضد راپورته شي؛ دمرسي اداره به ړنګه شي او عبوري اداره به دامریکا او نورلویدیځ ترچتر لا ندې په ترسره شویوا نتخاباتو کې دمحمدالمرسي په مقابل له ماتي خوړلو تنا نو نه هغه څوکبريالی اعلان کړي چې دحسنی مبارک نه هم لویدیځ ته زیات وفاداروي او په شتون کې به یې دغرب ټول شوم پلا نونه په اسا نۍ پوره کېږي خوچې دلویدیځ دتمو خلاف دمحمدالمرسي اداره نه یواځې دا چې ژر ناکامه نه شوه بلکې په یو کال کې په هیواد کې د ننه دګڼو مثبتو بدلونو نوراوستلو او اسلامي نړۍ ته دمصر دورنېږدې کولو له امله دا اداره دمصر ولس ته ډېره محبوبه او په نړۍ کې

تر ډېره حده نېک نامه شوه نو دامریکا په حکم دمصري سیکولر فوځ مشر جنرال السیسي دمحمدالمرسي اداره دفوځي کودتا په نتیجه کې ړنګه کړه ؛ قانوني ولسمشر محمدالمرسي یې کوم نامعلوم ځای کې زنداني کړ او دفوځ ددې ناقانونه او وحشي عمل پرضد دکرکې ښکاره کولو او بېرته محمدالمرسي ته دواک سپارلو دغوښتنې په موخه په راوتلو مسلمانانو چې فوځ او نورو امنیتي ځواکونو هوایي او ځمکنۍ حمله وکړه نو پکې دمېرمنو او کوچنیانو په شمول تر ٤ زره او ٥ سوه پورې مسلمانان شهیدان د ۱۰ زرو په شاوخوا کې ټپیان او په زرونو زندانیان شول خو بشر پال لویدیځ، ملګري ملتونو یا دبشر دحقوقو په نوم نړیوالو ادارو پدې هرڅه سترګې پټې او خوله چوپه کړې وه؛ نه یې دا نسانانو دا قتل عام ګناه ګڼله او نه یې دجمهوري نظام ړنګول او دقانوني ولسمشر زنداني کول جرم بللو؛ ځکه چې دا هرڅه ددوئ په حکم او ددوئ په خوښه کېدل نو که السیسي ددې په لس چنده نور ظلمونه او ناقانونه چارې ترسره کړي وای هغه به بیا هم سپین بازوای او پرضد به یې دکوم کوچني اقدام اړتیا هم نه لېدل کېدای.

که کوم مسلمان جنرال دمسیحي یا سیکولر ولسمشر او دولس د نا مسلمانو وګړو پرضد دا ډول اقدام کړی وای نو دامریکا، نورې لویدیځې نړۍ او دملګرو ملتونو ادارې غبرګون به څه وای؟ پدې هرڅوک پوهېږي.

لویدیځه کفري نړۍ خو طبعي ده چې دالسیسي پدې ټولو وحشتونو خوښه وه خو دافسوس ځای دی چې ددې لپاره چې دمصر دا نقلاب اثر خپور نشي دسیمې ځنې عربي هیوادونو نه یوازې دا چې پدې هرڅه خوښ وو بلکې دمحمدالمرسي خلاف دالسیسي دکودتا په ستاینلو کې یې هم دشرم احساس ونکړ او ددې لپاره چې په مصر کې بې دینه وګړي دمصر دا نقلاب پرضد استعمال شي او دمصر مسلمان ولس چې څه غوښتل هغه ترلاسه نه شي دسیمو ځینو عربي هیوادونو جنرال عبدالفتاح السیسي او دمحمدالمرسي په مقابل کې ماتې خوړلو محمدالبرادعي، احمدشفیق او عمروموسی ته ٥ ملیارده ډالر ورکړي وو؛ دالجزیره تلویزون چې ددې پټې معاملې نه پرده پورته کړه په مخالفو یادو تنانو کې تر یو هم انکار و نشو کړای.

دا پنځه ملیارده ډالر له هغې پرته وو چې امریکا او اسرائیلو له لورې السیسي او خپلو نورو ایجنټانو ته ورکړل شوي وو دامریکا او اسرائیلو له لورې چې کومې پیسې دوئ ته ورکړل شوې وې هغه خو له دې ډېرې زیاتې وې ځکه چې السیسی امریکایې اخبار واشنګټن پوسټ سره په مرکې کې ددې خبرې څرګند اقرار کړی و چې دډاکټر مرسي پرضد د ترسره شویو اقداماتو اصل هڅونکي امریکا او اسرئیل وو؛ دهمدې دواړو هیوادونو په ډاډ مونږ داسرائیلو دموخو دساتلو لپاره دمرسي پرضد اقدام وکړ، ،

رښتیا هم چې السیسي یوازې او یوازې داسرائیلو دموخو او ګټو دساتنې لپاره راوستل شوی دی چې اسرائیل هم اوس له دې خبرې انکار نه کوي.

دالسیسي دکودتا نه پس داسرائیلو تلویزون یو ځل په ، ، یومان، ، پروګرام کې چې ایالاحسون یې چلونکی دی دعربي نړۍ کارپوه عودبرغرا نوت او نظامي کارپوه بارشادوم ول رادعوت کړی وو چې دپروګرام په پیل کې ایالاحسون ددوئ دواړو نه داسې وپوښتل: تاسو ته معلومه ده چې دحسنی مبارک دواکمنۍ پرمهال به دمصري فوځ سره زموږ ددولت له لورې دمصر له ولسه پټې مرستې کېدلې او دا رابطه به دمصر داستخباراتو مشر عمرادیب جوړوله، خواوس دالسیسي سره دامرستې په ښکاره کېږي؛ موږ او مصر سره ولې دومره نېږدې شوی یو لامل یې څه دی؟ بادشادوم په لنډو ټکو ځواب ورکړ او ویې ویل: که دهر اسرائیلي فوځي نه دا پوښتنه وکړې نو ځواب به یې دا وي چې دالسیسي دمرستو مثال نه پیدا کېږي او نو موړی زموږ اصل اتل یا hero دی، ،

السیسي چې دملیکه تیتاني نومي مراکشی یهودۍ مېرمنې ځوی او ماما یې عوري صباغ په اسرائیلو کې د ښوونې وزیر تېر شوی دډاکټر محمدالمرسي پرضد کودتا ؛ دمظلومه مسلمانانو قتل عام، داخوان المسلمین دمشر په شمول د ٦٨٣ تنانو پرضد جعلي دوسیې جوړول او ورته دمرګ سزا اعلانول او نور ټول وحشتونه چې دالسیسي دخپل اعتراف له مخې دامریکا او اسرائیلو په ډاډ او داسرائیلو دموخو او اهدافو دساتنې لپاره شوی وي ؛ اسرائیل یې خپل اتل بولي دا نتخاباتو په بریالیتوب ورته داسرائیلو ولسمشر او لومړي وزیر مبارکي وویله نو که دمصر اوسني انتخابات سراسر له درغلیو ډک او سل په سلو کې دجمهوري اصولو خلاف وي بیا به یې هم نړۍ شفاف بولي، السیسي به قانوني او مقبول ولسمشر وي، ټوله نړۍ به یې ترشا ولاړه وي او ترهغې به په مصر مسلط وي تر څو چې یې پرضد د ۲۰۱۱ په څېر ستر او اوږد ملي پاڅون نه وي ترسره شوی ؛ دا چې ظلمونه یې اوج ته رسېدلي او دمصر ولس ته یې اصلي څېره روښانه شوې نو تمه کېږي چې ډېر ژر به یې پرضد ټول ولس راپاڅېږي او دمصر ولس به ددې دیکتاتور نه هم دتل لپاره نجات ومومي. ان شاءاللّه

دعراق دملي امنيت مشاور :

صدام حسين که څه هم زموږ دښمن و
خودمرګ ترورستي سلګۍ پکې دبزدلۍ اوډارنښې ونه ليدل شوې

دعراق دملي امنيت مشاور(موفق ربيعي)له رسنيوسره په روميې مرکه کې دعراق دمخکينــي ولسمشر صـدام حسـين داعـدام دلاملونواوورستيوشيبوپه اړه چې څه تيرشول يولړ رازونه لوڅ کړي .

الربيعي ، وايي په يوه غونډه کې دامريکاولسمشرجورج ډبليوبوش دعراق له ولسمشر ! نورالمالکي څخه وپوښتل چې له صدام حسين سره څه کوي ، مالکي ورته فوراً وويل چې اعدام ؛بوش ورته دتائيد ګوته پورته کړه چې همداسې سزاور کړی .

دربيعي په خبره دبوش له موافقت ورسته موږ دصدام داعدام په لاروچارو پيل وکړ .

دعراق امنيت مشاورچې دغه خبري يې دفرانسې له اژانس سره کـولي زياتــه کـړي : داخبـره سـمه ده چـې صـدام دهغـه پـه انـدظالم اوجنايتکاروو ، خو له نيول کيدو څخه داعدام ترتختي پوري موږ په هغه کې دتزلزل او بزدلۍ کوم حرکات اواثارونه ليدل .

هغه وايي ، ځيني وخت ماته دمالکي دولت چاروا کي وايي چې دصـدام دقـوت اوهمـت خبـري ولـي کـوي ، بلکـې کمـزوري او ډارن بايدمعرفي شي ، خو دالربيعي په قول حقيقت بايدپټ نشي اوهيڅکله به تـاريخ تـه ناسمي کرښي ونـه سپاري، نوځکـه وايـم چـې پـه صدام کې ترورستي سلګۍ پوري دډاراوترس نښي ونه ليدل شوي .

صدام حسين دامريکاله اشغال ورسته ، د٢٠٠٣ کال ددسامبرپه ١٣ نيټـه پـه عـراق کې ونيـول شـو اود٢٠٠٦ کـال ددسـامبرپه ٣٠ نيټـه دلـوی اخترپه ورځ اعدام کړل شو.

الربيعي په دغه مرکه کې ويلي : کله مې چې صدام حسين دقاضي دفترته راوست په يوه لاس کې يې دقرانکريم نسخه وه ، پـه داسې حال کې چې قاضي دهغه داعدام ورستی حکم اعلاناوه ، صدام حسين په مکرر ډول مـرګ پـه امريکـا، مـرګ پـه اسـرايلو ، مـرګ پـه ايـران ،اومـرګ دامريکاپه ګوډاګيانوجذاب اوقهرجن شعارونه ورکړل .

دعـراق دامنيـت پخـوانی مشـاوروايي : کلـه مـو چـې صدام داعـدام خوني ته بوته ، داعدام رسی ته وکتل اوتبسم يې وکړ اوماته يې پـه دقيـق انداز وکتل اووي ويل چې دغه کار دمردانګي او نرتوب ندی ، اعدام به مـو په بله طريقه کړی وو!!

ربيعي وايي په دغو شيبو کې ځينوخلکو دغه اوازونه پورته کړل (زنده بادمحمدباقرصدر ...مقتدی مقتدی) خوصدام پـه ځـواب کې ورتـه وويـل دوی دې مړه وي ، دوی دشيطان زامن دوی دامريکاجاسوسان ،لـدې ورسـته صدام دشهادت کلمي ولوستي اوداعدام مرحله پري ترسره شوه .

ربيعي وايي په يوځل داعدام رسی کش شوه خو صدام ژوندی پاتې وه ، بيادوهم ځل بل کس رسی کش کړه اوصدام اعدام شو.

نوموړي زياتوي ، کله چې صدام اعدام شو ، دهغـه جسدپه خاصـه امريکايي چورلکه داعدام له ځايه دنورالمالکي ،قصر بغدادته يووړل شـو ، مالکي دصدام دجسددليدلولپاره امريکايي چورلکي ته راپورته شـو، کلـه يې چې دصدام مخ وليد، نووي ويل ، افرين شاباس تاسي ډيرلوی کاروکړ اولـه عـراق څخـه موديـوې پيـړی لپـاره دسـرخوږی او بغـاوت جـرړي وويستلي !!!

په نایجیریا کې نوې پېښې او دلته دلویدیځ شوم پلانونه

شهید زوی

په نایجیریا کې دمسلمانانو دبو کوحرام نومي تنظیم له لورې د کابو ۲۵۰ زده کونکوانجونو د تښتول کېدو نه پس نایجیریا ځان ته د ټولې نړۍ توجو راجلب کړه ؛ د پېښې په اړه په نړیواله سطحه د ډېر زیات غم ، تشویش ، غصې ، سریع عکس العمل او زیاتې توجو سبب دا دی چې تښتونکي مسلمانان او تښتول شوی انجونې مسیحیانې دي .

نایجیریا د نفوس په لحاظ د افریقا د لویې وچې تر ټولو ستر او د نړۍ په سطحه اووم هېواد دی د نفوسو شمېر یې کابو ۱۷۳ میلیونو ته رسېږي ، چې ۵۵ سلنه یکې د مسلمانانو ۴۵ سلنه د مسیحیانو او ۵ سلنه یکې د نورو عقائدو لرونکو ده .

خود دې لپاره چې د نفوس په لحاظ د افریقا پدې تر ټولو ستر هېواد کې مسلمانان اقلیت ثابت کړای شي د ((پیو ریسرچ سنټر)) نومي امریکایې موسسې له لورې د ((مذهب او ښاري ژوند)) تر عنوان لاندې په یو خپور شوي راپور کې راغلي وو چې مسلمانان ددې هېواد ۴۸،۸ او مسیحیان ۴۹،۳ سلنه تشکیلوي ، همدا راز ((ایسوسی ایش آف ریلیجن ډیټا نومي)) لویدیځې ادارې ویلی چې د دې هېواد دنفوس ۴۵،۵ سلنه مسلمانان او ۴۶،۵ سلنه عیسویان اوباقي پاتې دنورو عقیدو لرونکي دي ، دا دواړه غربي ادارې د ځېر نېزو ادارو په نوم کار کوي چې محدود اداري تشکیل او وسائل لري ؛ سرویګانې د دې دواړو ادارو کار دی چې د هغې نتایج او اعدادو ارقام هم غیر حقیقي دي ؛ د یو هېواد دنفوسو سر شمېرنه ډېره پراخه او اوږده پروسه وي چې د لسګونو زرو کار کوونکو پر ته یې تر سره کېدل نا ممکن وي .

د سوډان په څېر نایجیریا هم په عیسوي مېشتو او مسلمان مېشتو برخو ویشل شویدی، په شمال او شمال غرب برخه کې یې مسلمانان او په جنوب کې یې عیسویان مېشت دي ، په جنوب غرب کې د مسلمانانو شمېر تر عیسویانو کم دی خو په مر کزي برخه کې د مسلمانانو اکثریت دي ، دا هېواد ۳۶ ولایتونه لري ؛ دلته تر ۵ سو پورې لساني ډلې شتون لري ؛ نایجیریا د ټولې افریقا دوهم ستر افتصاد دی ؛ د اقتصاد زیاته اتکاء یې په تېلو ده چې یواځې په ۲۰۱۱ م کې د نایجیریا د صادرو شویو تېلو حجم د ۶۱ ملیارد و ډالرو نه اوړېدلی و .

نو سره له دې چې دا هېواد د تېلو ډېری سترې زېرمې لري خوچې ورباندې مسلط حاکمان ټول په مالي فساد کې ډېر زیات ککړ دي نو دا هېواد د تېلو د لویدیځوالو شر کتونو لپاره خورا په زړه پورې هېواد دی ؛ د اوسېدونکو اکثریت یې د غربت ښکار او دا هېواد د نړۍ په وروسته پاتې هېوادونو کې شمېر دی .

د خپل دین سره د نایجیریا د مسلمانانو مینه مثالی ده ؛اکثریت یې د صوم او صلاة پابند خلک دي او په جمعې د لمونځونو داداکولو یکې دومره اهتمام کېږي چې د سر کونو په غاړو قدم په قدم د لارویانو لپاره تل جای نمازونه غوړېدلي تر ستر ګو کېږي او هر کال په سونو زره د حج او عمرې داداکولوسعادت حاصلوي .

سره له دې چې پدې هېواد کې د مسیحیت د خپرولو لپاره لویدځ شپه او ورځ پر ځان یوه کړیده او دلته د غربي کثیف کلتور د رواجولو لپاره په زرونو این جی اوګانې کار کوي خوچې په هېواد کې په لسګونو زرو وړو او سترو مدرسو کې علماء په ډېر اخلاص د

مسلمانانو د بچو په ديني ښوونې او روزنې بوخت دي نو له بر کته يې تر ډېره حده د مسلمانانو د فکرونو او عقايدو ساتنه شوېده .

د ديني علومو سره د دې هېواد د علماء و مينه هم مثالي ده تر دې چې هر کال د هېواد د خپلو ديني مدرسو نه فارغ شوي ګڼ شمېر علماء د لازياتو ديني علومو دزد کړو لپاره سعودی عربستان ، مصر ، هندوستان ، او په لږ شمېر کې پاکستان ته مخه کوي ؛ د انفرادي ديندارۍ تر څنګ د دې هېواد مسلمانان په اجتماعي ژوند کې هم دين ته په ډېر لوړ مقام قائل دي ؛ د شريعت دنفاذ لپاره يې په تېرو وختونو کې ډېر کوښښونه کړي اوپه نفاذ يې کامياب شوي هم دي .

په ۱۹۰۳م کال کې دا هېواد بر تانې قبضه کړ ؛ دبر تانې دقبضې نه وړاندې د شمالي نايجيريا زياتره بر خې د سو کوټو خلافت بر خه وه ؛ ۱۸۰۲م کې نامتو ديني عالم عثمان دان فوديو د ځايې بی دينه حاکمانو پر ضد د جهاد بيرغ پور ته کړی او په نتيجه کې يې په ((سو کوټو)) کې اسلامي خلافت رامنځته شوی و چې د نايجيريا شمالي بر خې هم ورسره يو ځای شوې وې ؛ دا خلافت تر هغې قائم و تر څو چې انګريزانو سيمه قبضه کړه ؛ په سو کوټو کې د خلافت دهمدې اوږد تاريخ دشتون له امله اوس هم دلته سلطان ته امير المؤمنين ويل کېږي.

داچې دنايجيريا مسلمانانو دشريعت دنفاذ لپاره خپل کوښښونه مسلسل روان ساتلي نو کوښښونويې اوس هم نتيجه ور کړی او ويل کېږي چې د کال ۲۰۰۰م نه راپدېخوا د هېواد په شمال کې د مسلمانانو په ۱۲ ولايتونو کې شريعت نافذ شويدي .

په ۱۹۹۹ م کال کې چې کله دفوځ له لورې ملکي سياستوالو ته واک سپارل کېدلونو تر څنګ يې دا تړون هم شوی و چې ولسمشر به د شمالي او جنوبي نايجيريا نه نوبت په نو بت راځي .

د جنوب سره تړاو لرونکی ,, او باسانجو ،، لومړی ولسمشر شو ، د ولسمشرۍ د مودې په پوره کېدو اوباسانجو په ډېری چالاکۍ دا معاهده تبديله کړه ؛ د دوهمې مودې لپاره بيا د ولسمشرۍ په چوکۍ قابض شو او وعده يې وکړه چې ورپسې به د شمال سره تړاو لرونکی مسلمان ولسمشر هم د دوه دورو لپاره ولسمشر وي ؛ په ۲۰۰۷م کې ,, عمر موسی يار دوا ،، دنايجيريا ولسمشر شو خو په ۲۰۱۰م کې هغه ومړ چې په نتيجه کې يې د ولسمشر مرستيال ,, ډاکټر ګډلک جوناتن ،، ولسمشر شو کوم چې د جنوبي سيمې سره تړاو لرونکی عيسوي و ؛ د ولسمشرۍ د مودې په پوره کېدو نوموړي د خپل ګوند په نمايندګۍ بيا ځان ولسمشرۍ ته کانديد کړ حال دا چې د ولسمشرۍ نوبت د شمال سره د تړاو لرونکو مسلمانانو و؛ په انتخاباتو کې نوموړی بريالی اعلان شواو يوځل بيايې د ولسمشرۍ واک په لاس کې واخست ، مسلمانانو ددې کار سره شديد مخالفت ښکاره کړ چې له امله يې په مر کزي ولايت کدونه کې د مسلمانانو او مسيحيانو تر منځ نښتې رامنځته او په يوې ورځ کې ۵ سوه تنان مړه شول خوهغه واک پرېښودو ته چمتو نه شو .

د عيسوي دولت په دوره کې د مسلمانانو په تاوان ډېر بدلونونه رامنځته شول چې تر ټولو خطرناک يې په عيسوي مېشتو سيمو کې د تابعيت ، سياست کې د برخې اخستلو او د رای د ور کولو د حق نه د مسلمانانو محرومول دي ؛ ځکه چې دولت سياسی ليډرانو ته داحق ور کړی و چې ديو چا په باره کې ددې پريکړه وکړي چې ځايې اوسېدونکی دی يا نه ، نو د هېواد په جنوب کې چې اکثريت دعيسويانو دی د عيسويانو د ګوندونو مشرانو يو مسلمان ته هم د ځايي اوسېدونکي سند نه ور کوي چې له امله يې په جنوب کې مېشت ټول مسلمانان د تابعيت نه ورو ورو د بې برخې کېدلو له امله د دولتي وظيفو ؛ خپلو ځمکو او جايدادونو او په سياست کې د برخې اخستلو نه بې برخې کېږي .

۱۹۹۰ م نه راپدېخوا چې له لږې مودې پر ته پر دې هېواد تر ننه د عيسويانو واکمني ده ، پکې ګڼې کلېساوې ؛ مسيحيت ته دعوت ور کونکې اداري او مسيحيت ته د مسلمانانو د بچو اړولو په موخه په مسلمان مېشتو سيمو کې داين جی او ګانو په لاس ډېر زيات مکتبونه رامنځته شول چې مقابله يې يوائې مدارس کوي اوعلماءو ددې مقابلې لپاره پر ځان شپه او ورځ يوه کړيده تر څو د مسلمانانو بچي د بې لاريتوب او مسيحيت ته د اوړيدلو نه بچ شي .

بو کوحرام چې ړومبنی مشر یې ،، ملام لاول ،، و ابتدايي تشکيل يې په ۱۹۹۵ کې د (مسلم یوت ار ګنایزیشن) په نوم دهمدې هدف لپاره رامنځته شو چې د بې لاریتوب او مسیحیت ته د اوړېدلو نه دمسلمانانو دبچو ساتنه وشي ؛ ،، ملام لاول ،، چې څه موده پس د لوړو زدکړو د تر لاسه کولو په موخه د هېواد نه بهر ته ولاړ نو د دې منظمې مشري محمد یوسف ته پاتې شوه ؛ محمد یوسف په ۲۰۰۲ م کې په مېرو ګوري نومي ښار کې د دې منظمې لپاره نوی یانې ،، جماعة اهل السنة للدعوة والجهاد،، نوم کېښود چې پدې نوي نوم دنومولو هدف د هغه مهال د سناتور علي مودو شریف په مشرۍ کې په یورنو نومي ولایت کې د شرعي نظام نفاذ و خو دا چې دې تنظیم د فساد ، بدو اخستلو او نورو بدیو پر ضد ډېر زیات کوښښونه وکړل نو ځایي خلکو ور ته بو کوحرام ویل شروع کړل ؛ په ځایي ژبې ((هوسا)) کې بو کو دروغو ،فریب ، دوکې ، بدۍ او ګناه ته ویل کېږي او حرام خو د عربۍ ژبې لفظ دی چې هر مسلمان یې په معنی پوهېږي نو د بو کوحرام مفهوم ګناه بدي دروغ حرام دي ، شوه خو لویدیځې رسنۍ او مخالفین وايې چې بو کوحرام د ،، عصري علومو زدکړې حرام ،، معنی لري ، ددې تنظیم مخالفین په نړۍ کې د دې تنظیم د بدنامولو په موخه تر دې حده تللي چې وايې د بو کوحرام معنی ،،زدکړې حرام ،، ده .

هو! بهر نو این جی اوګانو چې ددې هېواد په مسلمانانو کې د مسیحیت د خپراوي په موخه کوم مکتبونه جوړ کړیدي محمد یوسف د دې مکتبونو خلاف و او د مسیحیت نه د مسلمانانو د بچو ساتنه یې غوښتله نو ځکه یې ستر جومات او ددیني اوعصري زدکړولیه اداره جوړه او دابن تیمیه کمپلکس په نوم یې و نوموله ، پدې ستر دیني مرکز کې د زدکړو لپاره د ټول هېواد تر څنګ د نیبږدې بهرنو هېوادونو نه هم مسلمانانو خپل بچي راوستل ، د بورنو ولایت چې د انګریزانو د قبضې نه وړاندی یو مستقل هېواد او شریعت پکې نافذ و او د کنوري قوم په نوم د مسلمانانو پکې اکثریت دی همدا ولایت یې د خپل فعالیت مرکز ګرځولې او د عیسوی مکتبونو په مقابل کې یې داسې ګڼ مکتبونه جوړ کړي و چې هم پکې مسلمانانو کوچنیانو ته عصري علوم ورښوول کېدل ؛ هم یې دیني روزنه او د مسیحیت په شمول د ګمراهۍ د ټولو لارو نه ساتنه کېدله چې همدا دځایې او بهرنو اسلام د ښمنو مسیحیانو اوپه ځانګړې توګه دلته دفعالو این جي اوګانولپاره د زغم وړ نه وه نو دهمدې این جي اوګانو دفشار په نتیجه کې لومړی دامدرسې ددولت له لورې دګڼو محدودیتونوښکار شوې اوبیایې دولت دورانولو اقدام وکړ .

دروان ۲۰۱۴ م کال په پیل کې دلندن نه خپرېدونکې دالقدس العربي نومي جریدې له لورې په یوخپور شوي راپور کې راغلي وچې دنایجیریا په شمالي بر خو کې موجودودیني مدارسواومکاتبو دفعالیتونو دمحدودولو په موخه دنویواصلاحاتوپه نوم دولت دمدارسواو مکاتبوپر ضد ګڼ ناوړه اقدامات ترسره کړیدي ؛ ددیني زدکړو لپاره دبهرنوهېوادونواوپه هېواد کې دننه دنورو سیمونه دراغلو طالبانو په باره کې دولت پرېکړه کړې چې باید دمدرسونه اخراج اوخپلو سیمواوهېوادونو ته ولېږدول شي ؛ مدارسو کې دمسافرو طالبانو لپاره له پخوانه درائج لیلیه نظام ختمولو پرېکړه یې کړیده ؛ دمدرسومشرانو ته یې حکم کړیدی چې ساعتونه دې راکم اودنورومذهبونودبطلان یاکمي خبره دې استاذان طالبانو ته نه کوي ؛ ددې تر څنګ به پر دولتي تلویزون دمدارسو پر ضد داتبلیغات هم کېدل چې نصاب یې ډېر زوړاوبې ګټې دی ؛ مدارس بې کاري زیاتوي او ورنه فارغ عالمان دټولنې داوړو بار وي نوځکه باید دمدرسو نصاب بدل اواوپکې عصري مضامین ورننویستل شي.

پدې اړه داناطولیه نومي ترکي خبري اژانس له لورې په خپور شوي راپور کې راغلي وچې له ۱۱ مې عیسوي پېړۍ نه دانګرېزانو تر قبضې پورې په نایجیریا کې دمدارسونظام ډېر ښه روان و او ترې ستر ستر علماء فارغېدل خودانګرېزانو دقبضې سره سم چې دملي بودیجې نه مصارف ور کول بند اوپرې ګڼ بندیزونه ولګول شول نوپه هېواد کې دمدارسوفعالیت ډېر کمزوری شو ؛ دبدایو خلکو بچودانګریزانوله لورې جوړوشویوسترو تعلیمي موسساتومخه کړه اودغریبوبچیان کابوټول بې سواده پاتې شول ځکه خودانګرېزانو دوتلونه پس نایجیریا دانساني قاچاق ستر مرکزوګرځېد اوله همدې بې سواده طبقې نه په نړیواله سطحه دفسادنه ډکو کارونو زیات کار واخستل شو ؛ دیني عالمانو همت وکړ اودهمدې غریبانولپاره یې په

هېوادکې په زرونو مدارس اومکاتب جوړ کړل چې پکې په یووخت کې دزده کونکو تعداد ۹ میلیونو ته ورسېدلو؛ دلته داستعدادونو دکمښت له امله په ټولومدرسو کې دعربیت اړوند ټولو فنونو او ددیني علومودعالي زدکړو اسانتیاوې نشته خوچې ناظره ، حفظ ، ابتدائي دیني زدکړې اولیک لوست په ټولو مدرسو کې ښودل کېږي نودمسلمانانو تر څنګ پکې غریبو عیسویانو هم خپل بچي داخلول؛ اوس چې دولت دامدرسې بندې کړې د هېواد پر غریبې طبقې به بیادبې سوادۍ توره وربځ راخپره شي ځکه دولت دغریبو وګړو لپاره بل هیڅ بدیل نه لري .

نوموړې اداري ددې هېواد دعلماءو داتحادې په وینا لیکلي وچې وړاندې به لیبیا ،سعودي عربستان ، کویت اودځني نوروخلیجي هېوادونوله لورې مدارسو سره مرستې کېدلې چې دنیمونه زیاتې به ددولتي مشرانو جبونو ته تللې نوهغه مهال دولت ددې مدارسو پر ضد کوم اقدام نه کولو خو اوس چې بهرنۍ مرستې بندې شویدي ؛ پکې ددوئ شخصي ګټې نشته اوبرعکس یې د اصلاحاتور اوستلوپه نوم او دمدارسو دورانولوپه سر دلویدیځ نه ښه ډېر مادیات ترلاسه کوي نواوس یې ددې مدارسواومکاتبوپسې راواخسته .

په مطبوعاتو کې یې ددې مدارسو پر ضد سخت تبلیغات وکړل اودایې مشهوره کړه چې د هېوادټولې مدرسې د بوکوحرام سره تړاولري اود بوکوحرام دادیني مرکزونه د جهادي تربیت ځایونه او د مستقبل لپاره د جهادي تشکیل مرکزونه دي ؛ورسره سم مرکزي دولت بوکوحرام تروریست ګوند اعلان کړ ؛ پر ضد یې دفوځي عملیاتو نه تم کېدونکې لړۍ پیل شوه او د ابن تیمیه کمپلکس په نوم د ستر ې تعلیمي اداري په شمول یې د مسلمانانو هر ښوونځی پدې نوم وران کړ چې دا د بوکوحرام مرکز دی .

په ۲۰۰۹ م کې دولت په بورنو ولایت کې فوځي بیړنی حالت اعلان کړ او په بوکوحرام یې یرغل وکړ ، داچې د بوکوحرام زیاتره غړي غیر مسلح یاېې وسلې د دولت د فوځیانو په پر تله ډېری کمزوری وې نو پکې په زرونو شهیدان شول او د بوکوحرام د مشر محمد یوسف په شمول ۷ سوه تنان فوځ او نورو امنیتی ځواکونو ژوندی ونیول ، چې د محمد یوسف په شمول نیول شوېو ټولو تنانو د زیاتو سکنجوله امله دپولیسو په مرکزونو کې خپل ژوند له لاسه ورکړ ؛ د پولیسو په توقیف ځایونو کې د خپل مشر او ۷سوه ملګرو قتل د بوکوحرام غړي سخت ودردول ؛ ابوبکر شیخو یې خپل نوی مشر وټاکلو او د خپلو ملګرو او مشر د انتقام په موخه یې د مسلح جدوجهد لار خپله کړه ؛ ابوبکر شیخو چې د لوړو استعدادونو لرونکی دی د بوکوحرام غړي یې په لږ وخت کې منظم کړل ؛ په شمالي نایجیریا کې یې دفوځ اوپولیسو په مرکزونوحملې ترسره اوډېری زیاتې سپکې اودرندې وسلې ؛ فوځي لباسونه او عراده جات یې تر لاسه کړل چې همدې د پولیسو او فوځ په لباس او عراده جاتو کې یې بیا په پلازمینې ابوجا کې د ملګرو ملتونو په دفتر او د پولیسو په مرکزي دفتر بریدونه وکړل.

ابوبکر شیخو ،،یاشیکاو،،چې د محمد یوسف مرستیال و په اړه یې دولت ګومان کاوه چې د ۲۰۰۹م په دولتی سختی حملې کې به وژل شوی وي خوچې په ۲۰۱۲ م کې پر یوټیوب د هغه ویډیو خپره شوه نو دولت یې ډېر ورخطا کړ ؛ هغه مخامخ ولسمشر او عیسوي مشران مخاطب کړي او ورنه یې د ۲۰۰۹ م په حملې کې د وژل شویو تنانو د انتقام اخستلو ګواښ کړی و.

دولت د ۲۰۱۳ م کال د اپریل په ۱۶ او ۱۷ نېټو دمسلمانانو په بورنو ، یوبی ، او آدم وانومي سیموحمله وکړه چې پکې ګڼ شمېر مسلمانان شهیدان شوي وو

د دې تر څنګ د پلیټو نومي ولایت مسیحي والي هم پر مسلمانانو حملې پیل کړې چې په سونو مسلمانان پکې قتل او په زرونو بې کوره شول ، د عملیاتو په جریان کې د فوځ او پولیسو له لورې پر مسلمانو مېرمنو جنسي تېري هم شوي وو .

د بشر د حقوقو د نړیوالې اداري له لورې په خپور شوي راپور کې راغلي وچې د ۲۰۱۳م کال یواځې په رومبو ۶ میاشتو کې ۹۵۰زره مسلمانان زندانونو ته وړل شوي وو.

د ۲۰۱۳ م کال د مئی په ۱۴ مې نېټې عیسوي ولسمشر ګډلک جوناتن په بورنو ، یوبو او آدم وانومي سیمو کې فوځي بېړنی حالت


اعلان کړ هوايي او ځمکنۍ حملې يې پيل کړې چې يواځې په هماغه ړومبۍ ورځ له ۲ سوه نه زيات مسلمانان ووژل شول ؛ فوځ ټولې سيمې محاصره کړې وې او د مسلمانانو کورونو ته يې اور اچولی و چې ګڼ تنان پکې ژوندي وسوځېدل ، دولت پدې دواړو ورځو کې د۲سوه مسلمانانو په وژل کېدو اعتراف کړی و خوازادو رسنيو د وژل شويو تنانو شمېر د ۲ سوه نه ډېر زيات ښودلو .

که مسلمانان په زندانونو او د پوليسو په توقيف خانو کې وژل کېدل ، که په خپلو کورونو کې سوځېدل که له خپلو کورونو بې ځايه کېدل او که پر مسلمانو مېرمنو جنسي تېري کېدل نه د ملګرو ملتونو اداري څه ويل ، نه لويديځو رسنيو ددې ستر و ظلمونو نه پردې پورته کولې او نه هم امريکا او نور لويديځ په حرکت کې راتللو خو اوس چې د مسيحي انجونو د تښتول کېدو خبره ده نو لويديځو دولتونو ، مدني ټولنو ، رسنيو او د بشر د حقوقو په نوم غربي ادارو نړۍ په سر راخستې ده.

هو! موږ چې د لويديځ دا اسلام دښمني غندو نو تر څنګ يې د بوکوحرام له لورې د انجونو د تښتونې دا عمل هم د شرعي اصولو له مخې د تائيد وړ نه بولو ، او پدې هم پوهېږو چې له ګټې يې تاوان زيات دی ؛د اسلام، عامو مسلمانانو ، په نايجيريا کې د شريعت غوښتونکو نايجيريايي مسلمانو او خصوصا د بوکوحرام سره تړاو لرونکو مسلمانانو د بدنامولو لپاره ددې پېښې نه لويديځ او لويديځو رسنيو ښه ګټه پورته کړه، نو داپېښه په نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو د بدنامۍ سبب شوه .

له بوکوحرام پر ته چې په نايجيريا کې کومې اسلامي دعوتګرې اداري په کار بوختې وې اوس به ور ته ډېر مشکلات پيداشي ؛ اوددې ډېر خطر ليدل کېږي چې د يومنظم پلان له مخې عيسويان هم د مسلمانو انجونو يوه ډله وتښتوي او بيا دا مسلمانې انجونې خدای مکړه بې عفته شي.

دجنوبي نايجيريا نه داسی راپورونه راغلي چې دعيسويانو له لورې د دې پېښې نه پس د مسلمانانو د کورونو ؛ ځمکو او تجارتي ځايونو غصبول پيل شوي چې له امله يې ګڼ شمېر مسلمانان د جنوبي نايجيريا نه شمالي نايجيريا ته په کډه شويدی ؛ دالړۍ شايد زور واخلي چې ور سره به د مسلمان مېشتو سيمو نه هم ټول مسيحيان جنوبي نايجيريا ته ورغونډ شي چې پدې سره به په پخپله په ډېری اسانۍ نايجيريا لکه دسوډان په جنوبي او شمالي برخو وويشل شي چې امريکا او نور لويديځ همدا غواړي.



جنوبي نايجيريا چې د تېلو ډېرې غني زېرمې او سمندر ته لار لري امريکا او ټول لويديځ پلان لري چې ور ته عيسويان راغونډ او له مسلمانانو خالي شي تر څو په نېږدې راتلونکي کې د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې دلته يوه ټولپوښتنه رامنځته شي چې په نتيجه کې به د ملګرو ملتوله لورې د مستقل هېواد منظوري ور کړل شي او دلته به هم د لويديځ په زور يو عيسوي دولت رامنځته شي چې ټولې سيمې ته به د مسيحيت د خپراوي ستر دعوتي مرکزو ګرځي، لکه لويديځ چې په سوډان کې همداسی وکړل .

دابه د دوئ پلان وي نور به کېږي هغه څه چې الله تعالی د څه اراده کړي وي ؛ موږ به د خپل خدای نه هغه څه غواړو چې پکې د اسلام او مسلمانانو خير وي.

ستر محدث او فقیه ، حضرت امام نووي رحمه الله

ژ : لطیف عزم

داسلام زرین تاریخ ددیني علومو په هغواماماتو، مجتهدینواواسلافو ځلنداوروښانه دی ، چې هغوډالله حکم اونفیرته په لبیک ویلوسره خپل ټول عمردشرعي علوموزدکړي ، تدریس ، تالیف اواستنباط ته وقف اودټولني غوښتنواواړتیاوو ته یې دالهي احکامواونبوي ارشاداتوپه رڼاکې ځوابونه پیداکړي .

یوله دغو اسلافواوامامانوڅخه (یحیی بن شرف الدین نووی شافعی) دی ، چې د۶۳۱ق کال دمحرم په میاشت کې دسوریې په یوې لیري پرتې سیمي (جولان . ګولان) کې دنووي په کلي کې پیداشوی .

پلاریې دیوې مغازي لرونکی اومتدین کس وو چې یحیی یې له وړوکي والي څخه دقرانکریم زدکړي ته ګمارلی و، په لس کلنی کې دقران کریم حفظ ته شروع وکړه

« یاسین بن یوسف مراکشی » وایي چې یوه ورځ مې یحیی ولیدچې نوروماشومانو له ځان سره لوبوته نه پریښوده خوده په دغه حالت کې هم هغه دقرانکریم تلاوت کاوه ، هغه وایي چې زمازیاته مینه پرې راغله ولاړم استادته یې اوهغه ته مې سپارش وکړه چې چې یحیی ماته ډیر ذهین اوذکي هلک ښکاري بایدنور کوشش هم ورسره وکړی، ترڅوکه الله ته منظوره وي اوله یحیی څخه یولوی عالم او مقتداجوړشي ، یاسین مراکشي وایي چې الله تعالی دي دیحیی استادته خیرونه ورکړي زماخبره یې ومنله زیاته توجه اوپاملرنه یې پرې کوله ، کله چې استادپرې پوه شو چې یحیی ته الله تعالی لوی ذکاوت ورکړی اوله دین سره ستره مینه لري نو دیحیی له پلارڅخه یې وغوښتل چې نوموړی دنوروعلوموفنونوله پاره دمشق ته بوځي اودلویو استادانو دپرورش غیږي ته یې وسپاري .

حضرت امام یحیی په خپله لیکلي چې په کال ۶۴۹ ددمشق په (رواحیه) مدرسه کې دوه کاله دیره شوم اوپه ډیرجدیت مې درسونه وویل اودزیاتونوفنونو متون مې یادکړل ، همدغه علت وو چې زمااستاد« کمال بن اسحاق مغربی » ماته زیات اهمیت راکاوه ، زیاربه یې راسره ویست اوزه یې دخپلو ګڼوشاګردانو داستادپه حیث ګمارلی وم .

امام نووی رح ، په کال ۶۵۱ کې له خپل پلارسره په حج مشرف شو، له راګرځیدووروسته یې دعلومو دترلاسه کولو روحیه نوره هم پرفیضه اوګړندی شوه ، «علاءالدین بن عطار» چې دامام نووی شاګرددی هغه وایي ، استاذبه یې دورځي ۱۲ کتابونه تدریسول اوپه هغو به یې تعلیقونه اوشرحي هم لیکلي .

دحضرت امام نووي رح ، استاذانوته په لاندې ډول اشاره کولای شو .

-اسحاق بن احمد مغربی
-عبدالرحمان بن نوح مقدسی مفتی دمشق
-عمر بن اسعد اربیلی
-سالار بن حسن اربیلی ملقب به امام مذهب شافعی
-ابن قدامه مقدسی
-عمادالدین ابوالفضائل قاضی القضاة دمشق

دامام نووي رح په مواصفاتو کې راغلي چې هغه ډیر منظم ،دوخت په ارزښت پوه اویوه لحظه یې هم پرته له درس ، تدریس ، تالیف اومطالعه څخه نه تیروله .

امام «ذهبی» وایي ،امام نووي رح لوی زاهد، متقي اودنیکواخلاقو څښتن وو، تل به یې ساده خوراک اولباس خوښاوه ،الله تعالی به یې په هرحال کې حاظراوناظربااله او الهي ویره به یې په زړه کې پرته وه .

علاءالدین بن عطار وایي : امام نووی رح په ددمشق میوه نه خوړله ، مایوه ورځ ترې وپوښتل چې ته ولي میوه نه خوري ، هغه راته وویل چې ددمشق اکثره ځمکي موقوفه اویادیتمیانو ملکیت دي ، له هغوسره دعدل اوانصاف معامله نکیږي ، نوځکه یې خوراک راته سُتره او له شبهي خالي نه ښکاري .

دامام نووي دهمدغه معنویت برکت وو چې لوی لوی خلک یې دشاګردانوپه زمره کې راغلل اولوی فیض یې ترې واخیست ، چې له هغوڅخه (علاءالدین بن عطار، احمد بن ابراهیم بن مصعب، احمد بن فرج اشبیلی، اسماعیل بن معلم حنفی، محمد بن ابوالفتح حنبلی، ابوالفرج بن محمد مقدسی، ابن جماعه یوسف بن عبدالرحمان مزنی) یادیږي .

دعلم اوتقوا دغه ځلیدونکی ستوری په کال ۶۷۶ هجري کې کله یې چې خپل ابایي ځای نووی ته له دمشق څخه دستنیدو اراده وکړه ، نوړومبی یې هغه ټول کتابونونه چې له کتابخانواو علماوو څخه یې امانت اخیستي وو هغه یې ورته وسپارل ، بیادخپلو وفات شوو استادانو هدیروته ورغی دعاګاني یې ورته وکړي .

امام نووي رح چې کله له دمشق څخه ستنیده په سوونو شاګردانو اوملګرویې ورسره تریوه ځایه پوري ملتیاوکړه اوپه ډیر درناوي یې خدای په اماني ورسره وکړه.

داسلام دغه لوی محدث اوفقیه ، په خپل ابایي ټاټوبي کې زیات وخت تیرنکړ دیوې ناځاپي ناروغی له امله د۴۶ کلونوپه عمر لدې فاني دنیاڅخه سترګې پټي کړي

دهغه دشاګردانوپه وینا امام نووي رح په کال ۶۶۱ په ۳۰ کلنی کې دکتابونوپه تالیف پیل وکړ اود۱۵ کلونوپه اوږدو کې یې ۵۰ عنوانه مقبول کتابونه ، رسالي اوشروحي په حدیثو ، فقه ، اصول اواخلاقو کې تالیف او ولیکلي ، په دې معناچې دحضرت امام نووي رح دبیش قیمته تالیفات دهغه مبارک له عمر څخه زیاتي وي

دامام نووي رح مشهور تالیفات اوتصنیفات په لاندې ډول دي .

-اربعین (۴۰ حدیث)
-ریاض الصالحین
-شرح صحیح مسلم (په ۲۶ جلدو)
-المجموع شرح مهذب (په ۲۲ جلدو)
-المنهاج
-الفتاوی
-الایضاح
-الترخیص
-الروضه
-الاذکار او. ..

په جرأت سره ویلای شو چې دامام نووي رح اثار داسلامي علومو دترویج ، تدریس اوتوضیح لپاره یوه تلپاتي او بیساري خزانه ده او دهر دور دعلماوو ، محققینواواسلافو لپاره دلاري دمشال حیثیت یې خپل کړی او دحدیثو اوفقه په میدان کې لوی خدمت سرته رسولی .

امام نووی رح دشرعي علومو له تالیف ، ددیني مسایلو له استنباط سره دومره ژوره مینه درلوده چې نکاح کولو ته یې فرصت پیدانکړ ، له همدې کبله ویلای شو چې حضرت امام له ځانه ورسته صرف خپل ارزښتمند دیني اثار ، کتابونو او سوونه فقهااوشاګردان پرې ایښي .

امام نووي دخپل کتاب په یوه حاشیه داسي لیکلي :

اموت و یبقی کلما کتبته فیالیت من یقرأ کتابی دعالیا لعل الهی ان یمن بلطفه و یرحم تقصیری و سوء فعالیا

زه مړ کیږم اوماچې څه لیکلي هغه په خپل ځای پاته کیږي ، خوکاش چې هغه څوک زما کتاب اونوشته ولولي اوبیاماته دعاوکړي ، امیدشته چې الله تعالی ، پرماشفقت وکړي اوزماله کوتاهیواوګناهونوراتیرشي اومرحمت راباندې وکړي .

نودرنو لوستونکو ، راځی چې دزړه له تله دخپلو دغو خواخوږو نیکواسلافو اوپه خاص ډول دامام نووي رح هغه کړاوونه اوزحمتونه چې ددین په لار کې یې ګاللي اولوړې کارنامي یې مونږ پرې ایښي دخیردعاوې وکړو چې یاالله ته خپل دغه نازولي او مخلص بندګان دخپل رحمت اولطف مستحق وګرځوه ، سعیي یې قبولي اودصدیقینو، شهداوو اوصالحینوپه زمره کې یې حساب اوراپورته کړه . امین ،

سعادت کامران

بَو برګډال د C I A په قفس کې

بَوبر ګډال هغه امریکایي ضابط وو چي پنځه کاله وړاندي دافغانستان په خوست ولایت کي دشهید مولوي صاحب سنګین فاتح دسري عملیاتو دګروپ له لوي په پوره مهارت سره په دَاسي حال کي ونیو چي له خپلې قرارګا دباندي راوتلی وو

برګډال چي دامریکایي وحشي پوځ یو ضابط وو او له نوم سره يې اوس هر څوک آشنا دي له نژ دې څخه يې دځان او خپلوملګرو هغه وحشتونه چي پر افغان ولس يې کول په وار وار په خپلو سترګو لیدلي ول دا فکر کاوو چي نور مي دژوند یو ستړی پړاو پیل شو

bragdallځکه دوی له افغان بندیانوسره که په دا خل دافغانستان کي ول لکه باګرام او قندهار او که په ګوانتانامو کي ول هغه څه کول چي دانسانیت په تاریخ کي چا نه لیدلي وو او نه يې اوریدلي وو حتی امریکایي سر غنه بش اباما او پاپانو يې دوی دجنګي مجرمینو له لیست نه هم وایستل دا ددې لپاره چي که دوی ور سره هر راز غیر انساني سلوک کاوو نو دوی به يې کولای شي او څوک به ورته دا نه وایي چي ولي ؟

دا ټول هغه څه ول چي دامریکایي ضابط بَو حواس يې مختل کړل بل داچي هغه چا چي دی يې دافغانستان وخاورې ته دناموجهې جګړې په موخه مرش کړی وو هم ورته دا دازادۍ غوښتونکي ځوانان داسي ورښودلي وو چي ده ورته اصلا دانسانانو په ستر ګه نه کتل نو ضرور به يې دیوه ستړي تعذیبي ژوند اټکل کاوو خو

دلته هر څه بر عکس وو هغه څوک چي ددوی خلاف يې دخپل هیواد دازادۍ او دیوه سوچه اسلامي نظام دپلي کیدلو لپاره په مبارزه بوخت دي مکمل له هغو سر توپیر لري چي ده ورته دخیال مزي غځولي وو دلته عدالت وو مینه وه سړیتوب وو رحم او عاطفه وه یو قانون موجود وو دلته دیوه داسي دین پیروي کیله چي ور کي دهرچا او هرشي حقوق ښودل شوي وو دلته یوازې او یوازې دبر ترۍ معیار تقوا وه او بس

نو همداوو چي بَو له پنځه کاله تیریدلو هغه څه زده کړل چي په بل ځای کي يې په کلونو کلونو نه شوای اوریدلای څه معنا دا چي یابه يې زده کول او یا به هم ورڅخه متأثر کیده

دمجاهدینو ژوند او ګوزاره له ده سره دیوه صمیمی دوست په شان وه هیڅ کله یې هم دنوموړي ته دا حساس ورنکړ چي ته یو بندي یې پخ وراک څښناک اعاشه او اباته کي یې هم له ټولو هغو امکاناتو برخمن کړی وو چي ده ورته ضرورت درلود حتی چي دځانو په نسبت یې وده ته توجه زیاته وه هم به یې په عامو مجالیسو کي ورسره اشتراک کاوو او هم به یې په لوبو او ننبه ویشتلو کي

امریکا چي داسلام له نور نه په ویره کي دي ویریدل چي هسي نه چي بَو مسلمان شوی وي او دتسلیمي په جریان کي دي داسي [ه وکړي چي هغه زموږ په مرک تمام شي نو یې مخکي له دینه چي والوتکې ته یې وخیژوي ښه سم تالاشي کړ چي دا پخپل ذات کي پر هغه نه باور او ورته له قانوني پلوه سپکاوی ګڼل کیږي

نو هر کله چي له نوموړي سره داسي یو انساني چلند کیدو نو طبعا دده په فکر او اراده کي به بدلون راځي نور که نوي دا خو به ضرور وایي چي له ماسره دبند په موده کي ډیر ښه انساني چلند شوی دی

خو دا او دې ته ورته ټول هغه کلمات دي چي امریکا نه غواړي چي ور څخه وایي وري نو یې ددې لپاره چي دپاپانو دتبلیغ په مټ یې له داسي څرګندونو نه ذهن ور ووینځي له امریکا دباندي یې په یوه کلیسا کي وساتو چي ترڅو ددوی په فکر سم شوی نه وي کورته به یې نه ور ولي خو موږ باور لرو چي له ده سره دامارت دمجاهدینو انساني چلند به هیڅ کله هم نه دتبلیغاتو په مټ پیکه کړي نه هم پر (بَو)باندي دفشارونو له لارې ۰

دروژي په اړه غوره یادونې

۱ ـ کوشش وکړه چي په دې متبرکه میاشت کې دخپل نفس ، محاسبه وراندي کړي ، دنیکو اعمالو تقویه وکړي اودتیروګناهونو دبښل کیدو لپاره اسباب برابر کړي.

۲ ـ دتر ایحوپه لمانځه کې دګډون لپاره حریص ووسه ،ځکه رسوالله صلی الله علیه وسلم فرمایی من قام رمضان ایمانا و احتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه)

۳ ـ په مال کې له اسراف څخه ځان وساته ، ځکه اسراف حرام اودصدقودورکړي مخه نیسي.

۴ ـ خپلې ارادي ته یقین اوکلک باوروبښه ، ترڅو په رمضان پوري ترلي ټول عبادات اوالهي اوامرپه ښه توګه ادااواستمراروروبښي.

۵ـ دغه میاشت په اصل کې دعمل اوعبادت ده ، نه دخوب اوسستی.

۶ـ خپله ژبه همیشه دالله په ذکر لمده ساته اوله هغو کسانو څخه مه ګرځه چي الله تعالی یې له یاده ویستلی وي.

۸ ـ کله چي تندې اولوژي درباندي زوروکړه ، نودا خبره په زړه راوړه چي ته همیشه دالله تعالی نعمتونو اوروزي ته اړ اومحتاج یې.

۹ ـ دغه میاشت لوی فرصت وګڼه ترڅو نورغیرضروري اوبیهوده امور شاته پریږدي.

۱۰ـ پوه شه چي عمل یو امانت دی اوخپل نفس محاسبه کړه چي نوموړي امانت دي ترکومه حده ځای ته رسولی ؟

۱۱ـ دهغو کسانو په حق کې چي له روژي وړاندې ظلم درنه صادرشوي وي ، هڅه وکړه چي عفوه ورنه وغواړي ، ترڅو نیکي دي درنه پورته نشي.

۱۲ ـ روژه نیونکوته دروژه ماتي په ورکولو کې ګړندی اوسه ، ترڅو لوی اجرونه اوبرکتونه دي په برخه وګرځي.

۱۳ ـ په دې خبره پوه شه چي الله تعالی لوی مهربان اوبښونکي ذات دی ، اودتوبه ګارانو توبې قبلوي ، همدارنګه الله تعالی سخت عذاب لرونکی هم دی ، چي یوچا ته مهلت ورکوي ولې پریږدي یې نه.

يوېشتمې پېړۍ ! د قارون خزانه .....

رحيمي

ډېری خلک په دې حیران پاته دي چې دا دومره پراخه او په ځولیو وچو او سمندرونو ویشل شوې نړۍ د څو سود خورو پانګوالو لخوا ګرواو اجاره کړل شوې، هغوئ څو تنه د ټولې نړۍ دسرو او سپینو خاوندان دي، تردې چې هغوئ دنړۍ له لویو، لو یو حکومتونوڅخه هم زیاتې شتمنۍ او پیسې لري آن د دریمې نړۍ زیاتره هېوادونه یې پوروړي دي.

په نژدې وروستیو کې د امریکایوې مشهورې اوونېزې "فوربس" دنړۍ دهغو شاوخوا زر کسانو نومونه خپاره کړي دي، څوک چې په ملیاردونو شتمنۍ او پیسې لري او دنړۍ په ۴.۵ تریلیون ډالرو قابض دي، د دغو ملیاردورانو لوی شمیر امریکایان دي، چې ملیاردونه پیسې لري، دې تازه انکشاف کې نوې نکته داده چې دملیاردونو په دې سیالۍ کې د میرمنو ونډه هم خورا چاغه ده ،فوربس کاږي: دنړۍ په ۱۱۲۵ ملیاردورانو کې ۸۱ میرمنې هم شته چې په ملیاردو ډالرا وشتمنۍ لري، دنړۍ په ملیاردورانو کې ۵۱۳ تنه داسې دي چې هغوئ پخپل همت او زحمت سره ملیاردونه شتمنۍ او ډالر دځان کړیدي، په دې سربیره هغوئ کې درې درجنه داسې کسان هم شته چې د ثناوي دورې زده کړې یې هم ندې کړي.

فوربس زیاتوي: سږ کال تر ټولو په زړه پوري پرمختګ دا شوی چې امریکایې پانګوال "وارن بفټ" دمایکروسافټ له مشر "بلګیټس" نه دزمکنۍ کرې دیوائینې لوی شتمن لقب واخیست!! "وارن بفټ" یو لوی شتمن امریکایي دی، چې دنړۍ په مختلفو کمپینو کې یې پانګونې کړې، څه موده وړاندې یې اعلان وکړ، چې هغه دخپلې سرمایې ۳۷ ملیارد ډالر یعنې دخپلې شتمنۍ ۸۵ سلنه په خیراتي کارونو کې لګوي!! تاسې اندازه ولګوئ! چې خپل ځان ته د ۱۵ سلنه سرمایې په پریښودو بیا هم هغه دنړۍ شتمن شخص پاته دی، که هغه خپله ټوله شتمني ځان سره ساتلې وای دنړۍ حشر به څه و؟

هغه ماسکو چې یو وخت د کمیونزم دواک پلازمینه و، نن سبا دنړیوالو شتمنو او پانګوالو په مرکز بدل شوی دی، هلته قدم په قدم پانګوال او ملیاردوران اوسي، دچا خبره هلته چې هره تیره اړوي ترېنه یو ملیا دار راوځي! هم دا وجه ده چې اوس په نړیواله توګه دلومړۍ درجه ملیاردورانو څخه ۸۹ تنه چې دهغوئ د شتمنیو اوسط ۶.۱ بلینه ډالر کېږي، ماسکو کې اوسي، دځینو په وینا: ماسکو اوس دلندن ځای نیولی
دی، فوربس لیکي: امریکا
۴۹۵، روسیه ۱۸۹ وجرمني
۵۹ ملیاردوران
لري، دجرمني
وروسته
هندوستان
هغه هېواد
دی چې
زيات



ملیاردوران لري، فوربس وايي: په لسو لومړی درجه ملیاردورانو کې دامریکا دوه، هندوستان څلور، لاطیني امریکا، روسیه، سویډن اوجرمني یو، یو تن ترنورو مخکې ځای لري.

د"روان بفټ (یا بوفیټ)" نه وروسته ملیاردار "کارلوس سالم" دی، دهغه دټولو شتمنیو مالیت له ۶۰ملیارده ډالرو زیات دی، کارلوس دمکسیکو اوسیدونکی دی، له لبنان څخه دسوداګر په توګه مکسیکوته دیوه لاړ سوداګر سړي ځوی دی، هغه لومړی سوداګري دزمکو او جایدادونو دپیر او پلور نه پیل کړه، بیا وروسته دونړ و مارکیټ کې یې کاروبار شروع کړ، بیا یې دمخابراتي شرکتونو په ځانګه کې کارو کړ، اوس مهال هغه دنړۍ دومره لوی شتمن سړی دی چې بلګیټس یې هم له ځان وروسته کړیدی، دسافټ ویر جوړونکي



په توګه دبلګیټس دنوم سره شاید نړۍ کې کم خلک اشنانه وي، هغه تر ۲۰۰۷ زیوري دنړۍ ترټولو دلوی شتمن انسان ریکارډ لري، لیکن دتیر کال په پای کې دا ویاړ دمکسیکو کارلوس سالم (یاسلم) ته په برخه شو، هغه بلګیټس له ځانه وروسته کړ، لیکن اوس هم دسوداګرۍ په ډګر کې چې بلګیټس څومره په تیزۍ سره ترقي کوي، هغه ته په کتو توقع شته چې هغه به بیرته په هغه برلاسي ترلاسه کړي، د تازه لاسوندونو او ارقامو له مخې: دبلګیټس دټولو شتمنیو بیه یا مالیت تخمیناً ۵۸ملیارده ډالر ښودل شوی دی، په کوم کې چې هره ثانیه اودقیقه پس زیاتوالی رازي، ددې مطلب دادی چې بلګیټس هره ورځ ۲۱.۶ملیونه ډالر ګټي، که دبل ګیټس دلاس نه زرډالر په زمکه پریوزي، دهغو بیرته پورته کولو ته اړتیا نشته، ولې دهغو په پورته کولو څلور ثانیې وخت ته اړتیاده او په دومره وخت کې هغه نور زر ډالر ګټلي وي، امریکا چې اوس مهال ۷.۳تریلیون ډالر پوروړې ده، که بل ګیټس وغواړي چې دامریکا دغه ټول پور ور کړي، نو لس کاله وخت ته اړتیا لري، هم دا راز که بل ګیټس دنړۍ هر اوسیدونکي ته ۱۵ډالر ورکړي، بیا به هم ور سره ۵۵ ملیون څخه زیات ډالر پاته وي

که بل ګیټس پخپل ذات کې یوجلا دولت تصور کړو، نو دنړۍ دشتمنو هیوادو په کتار کې به ۳۵ م شتمن اوبډایه هیواد وي، که بلګیټس خپلې ټولې پیسې په یو ډالري لوټونو بدلې کړې او وغواړي هغه له یوښارنه بل ښار ته انتقال کړي، نو دانتقالولو لپاره به یې ۷۱۳بوینګ الوتکو کارولو ته اړتیا وي، که هغه لوټونه په اوږدوالي وغځوي، ورته به دزمکې او سپوږمۍ ترمنځ شته فاصله ۱۴واره کمه وي، په ۲۰۰۸ز کې دا کتوبر په ۲۸ مه بلګیټس ۳۵ کلن شو، که هغه نور ۳۵ کاله ژوندی پاته شي، او په دې موده کې هغه وغواړي چې خپل ټول دولت خرڅ کړي نو هره ورځ به د۶.۷۹ملیونه ډالرو مصرفولو ته اړتیا وي

یوبل امریکایي ملیاردار "ایلیټ مایکل جارډن" چې هر کال ۳۰ملیونه ډالر ګټي، که هغه یو ډلر هم خرڅ نکړي، بیا چې هم هغه دبیلګیټس ځای ته رسیدو لپاره ۲۲۷ کلونوته اړتیا ولري.

بلګیټس دنن زماني دقارون په خزانه ناست دی، هغه بیشکه لوی شتمن دی، خو دایمان له رڼا محروم دی، بل پلو دنړیوالو لپاره دا ځورونکی پیغام دی چې دټولې نړۍ پیسې دځوتنو لاسو ته لویدلي، دا کار به په راتلونکي کې نړۍ کې دامن اوثبات په وړاندې ګواښونه زیات کړي، خپلواک هیوادونه به نورهم دفقر اوغربت ښکارشي، دادپانګوال مردود نظام هغه بدې غیر فطري پایلې دي چې دانسانانو له رګونو وینې زبیښي.

اهل سنت والجماعت یاناجیه فرقه

اوومه برخه

مشبهه ، معتزله اواهل سنت والجماعت

مفتي شاهد حقاني

دڅرک مجلې په تیرو بحثونوکې دومره وشنله چې داهل سنت والجماعت د عقایدو ،مفاهیمواو اصطلاح اسلامي اوتاریخي قدامت ،دسلفو اقوال او پدې باب د متقدمینو نظریات ،ددې وزینې اصطلاح ترکیبي او اضافي معاني ،مصداقات اودا چې نن سبا اهل سنت والجماعت چاته ویل کیږي اوپدې هکله دمعاصرو علماوو ترجیحات کوم دي ؟خو زیاته ځیرنه پدې باب کې د(فتاوی کفایت المفتي ،فتاوی رشیدیه ،دیوبند فتاوی دارالعلوم حقانیه فتاوی ،محمودیه اونورو معاصرو اومستندو فتاوو په سینو کې دسوال اوځواب په بڼه زیات څه شته، خومونږ به یې انشاءالله تعالی دفتوی برخه راتلونکیو مباحثو کې له کره حوالو سره مله پرله پسي رانقلوو، خو که مباحث نور ډیر شو اود وخت او مصلحت حوصله تنګه وه ، نو پخپله هم کولای شو، چې اړوندو مراجعو څخه استفاده وکړواو دحقیقت تل ته ځان ورسوو ،البته کوم مواداو مباحث چې اړین بریښیدل، دخپل لرلید له مخې مو پکې انشاءالله کوتاهي نده کړي او دلوستونکیو لپاره مو په سلسله واره بڼه ولیکل ،او بیا هم داسې کوو انشاءالله تعالی !

ددې څخه مخکې چې دموضوع نور عمق ته ورننوځو ، دحفظ ما تقدم لپاره به تر هغې مخکې (دمشبهه وو ،معتزله وو او اهل سنتو) په اجمالي پیژندنه کې څه تم شو ،او ترڅنګ به ددې درې ګونو فرقو داستدلال دنمط او سبک لنډه طریقه کار هم دلوستوالو سره شریک کړو !

مشبهه فرقه: دې فرقې ته مجسمه فرقه هم وایې ،دوئ دآیتونو او احادیثو په ظاهري معنی حملولو کې دومره زیاته مبالغه کوي ،چې دتشبیه او تمثیل تر سرحده پورې پکې رسیږي او پدې نظریه معتقد دي ، چې الله **جل جلاله** اعضاء یا جوارح لري ، هغه خوله ،لاس او قدم لري اولکه څنګه چې ددنیا یو بادشاه په شاهي تخت کښیني ، همداسې ګوندې الله **جل جلاله** هم په عرش ناست دی ،دوئ دالله تعالی په هکله له حماقت ،جهالت او غفلت له مخې دجسم او جسامت دتشکل فکر کوي او ددې آیتونو له تنزیه څخه سترګې پټوي، چې فرمایي [لیس کمثله شئ] یا [لم یکن له کفوا احد] یا [ولله المثل الاعلی] چې نصوصو کې په ډاګه ددې مشبهه فرقې ددې نظریې تردید راغلی، چې الله تعالی دخلکو غوندې ندی او نه څوک ددې مثل او مماثل شته، بلکې که کوم صفات ورته قرآنکریم کې راغلې دي ، لکه مشهور فقیه او محدث (ملا علي قاري رح)چې وایي ،نفي به یې څوک نشي کولای ،خو څوک به یې له خپله بطنه دتشریح حق هم نلري ، بلکې دا سې به ویل کیږي ،چې کوم صفات یې چې په نصوصو کې ثابت دي (کمایلیق بشانه) به وي او دمشبهه وو غوندې به ورته څوک دتجسم او مماثلت تعریفات نه کوي.

معتزله فرقه:دا معتزله فرقه دمشبهه فرقې پر عکس نصوص له ظاهري معنی څخه نفي کوي او د حقیقت پر ځای مجاز طرف ته دمعنی صرف کوي ، دنص د ظاهري معنی

په ترک کې دومره غلو کوي ،چې دتعطيل تر پولې پورې ورسيږي او دظاهري معنی له حيثه دالله تعالی له اسماوو او صفاتو څخه منکريږي ،ددې تر څنګ دکوم حجت او دليل پرته په نصوصو کې تاويلات کوي ،په بيلګې کې(حضرت مولينا ادريس کاندهلوي رح) په (عقايد الاسلام) لومړې ټوک داسې ليکي: ((مثلاً قرآن اورحديث مين جهان کهين حق تعالی کی لی لفظ يد آيا هی ،کبهی قوت اور قدرت کی ساتهاس کی تاويل اور کبهی نعمت کی ساتهاس کی تاويل کی ،کہ يد سی قدرت يا نعمت مراد هی حالانکہ قرآنکريم خود اس تاويل مهمل کی مفاسد هونی کا حکم کرتا هی اس ليئ کہ قرآن کريم مين يد کا تثنيہ يدين بمعنی دوهاتهبهی آيا هی چنانچہ حق جل شانہ کا ارشاد هی :[ما منعک ان تسجد لما خلقت بيدی]سورت ص آيت ۷۵---------------) يهان يد سی قدرت کی معنی لينا صحيح نهين اس ليئ کہ آيت مين صيغہ تثنيہ کا هی يعنے دونون هاتهون سی پيدا کيا اور ظاهر هی کہ خدا کی قدرت ايک هی ،خدا کی لی دو قدرت کا کهنا غلط هی ....] دمولينا آدريس کاندهلوي)دتحقيق مطلب دادی، چې کله قرآن او سنت کې د(يد)کلمه دالله تعالی لپاره راشي ، نو په قدرت ،نعمتاو نورو يې ترجمه غلطه ده ،ځکه کـه قدرت شي ، نو دحضرت آدم عليـه السـلام دا فضيلت چې الله تعالی وايې ،چې په دواړو يدينو مې پيدا کړ، بيا له نورو مخلوقاتو سره څه تفاوت شو او دآدم عليه السلام بيا کوم فضيلت شو ،نو دا سې تاويلات چې دالله جل جلاله صفات نفي کوي او دنصوصو ظاهري معنی ترک اوپکې بې ضرورته او له کوم شرعي دليل پرته تاويل کوي دمعتزله وو هغه کار دی ، چې دمجسمه وو بر عکس دی او دا ناروا دی.

اهل سنت والجماعت:دا داهل حقو هغه ډله ده، چې له نصوصو او دسلفو صالحينو له معتقداتو سره برابره او دبې لاريتوب او باطل پالنې څخه محفوظ ده ،مخکينی دواړو ډلو (مشبهه وو او معتزله وو)په باب دامت علماء وايې، چې دا دواړه ګمراه او په غلطو لارو او نظرياتو رواني فرقې دي ،فرقه مشبهه د[ليس کمثله شئ] له کريمه آيت څخه ګويا منکردي او معتزله ګويا دمتشابهاتو له آيتونو څخه انکار کوي او دا څرګنده خبره ده چې له تنطيهي آيتونو څخه انکار ګمراهي ده او له متشابه آيتونو څخه انکار هم ګمراهي ده .

اهل حق هغه ډله ده چې دالله تعالی ټول هغه صفات چې په نصوصو کې ثابت دي مني، او له خپلې رأی او قياس څخه پـه غيـر دا صفات بې دچون وچرا څخه تسليم کړي ،او دمعتزله وو په شان پکې تاويلات ونکړي ،ددې لپاره چې د(قدريه وو او معتزله وو) غوندې پکې له الهي صفاتو څخه انکار رانشي ، هم پکې العياذ بالله د(مجسمه وو او مشبهه وو) غوندې الله تعالی ته اعضاء او جوارح ثابت نشي ،او نه پکې دمجسمه غوندې داسې وويل شي ،چې الله تعالی په عرش باندې (العياذبالله) دمخلوقاتو غوندې ناست دی ،بلکې پـه مجموع کې پدې آيت ايمان بسنه کوي، چې [الرحمن علی العرش استوی] يعنې(کمايليق بشانه) يا لکه په تفسير قرطبي کې چې(علامه الوسي رح) د امام اهل سنت والجماعت (مالک بن انس رح) تشريح رانقل کړي، چې لـه آيت مبارکه سره داسې د ه [: {الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى} [طه: ۵] قال مالک: الاستواء غير مجهول ، والکيف غير معقول ، والإيمان به واجب ، والسؤال عنه بدعة ، الجامع لاحکام القرآن للقرطبي /ج۱/ص۲۵۴) امام مالک رح دفوق الذکر آيت په تفسير کې وايې ، چې استواء دالله تعالی په عرش مجهوله نده ،کيفيت بيانول ورته معقول ندي ، ايمان پرې هم واجب دی او سوال ترې بدعت دی .

دامام مالک رح دا قول پـه (اضواء البيان في القرآن بالقرآن) تفسير کې دنورو متشابهاتو سره يو ځای داسې نقل کړی:

ومما استحسن من إمام دار الهجرة مالک بن أنس أنه سئل عن قوله تعالى:{الرحمن عَلَى العرش استوى}[طه: ۵] فقال: الاستواء معلوم والکيف مجهول والسؤال عنه بدعة.

فلتجر آية الاستواء والمجيء وقوله: {لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيّ} [ص: ۷۵] ، {ويَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ} [الرحمان: ۲۷] ، وقوله {تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا} [القمر: ۱۴]. وما صح عن الرسول عليه السلام كخبر النزول وغيره على ما ذكرنا ، فهذا بيان ما يجب لله تعالى. اه.......

وكذلک أبو حامد الغزالي ، كان في زمانه من أعظم القائلين بالتأويل ثم رجع عن ذلک ، وبين أن الحق الذي لا شک فيه هو مذهب السلف.(اضواء البيان فی تفسير القرآن بالقرآن /ج/۷/ص۲۸۲)

په فوق الذكر آيتونو كې الله جل جلاله ته دمذكورو صفاتو ثبوت واجب دی او پدې كې كوم شک او شا يبه نشته او بې ضرورته تاويلات پكې دسلفو له آندونو او ترجيحاتو خلاف دي، لكه په مذكور عبارت كې چې ذكر شول ،(امام غزالي رح) په خپله زمانه كې دتاويلاتو له لويو منونكيو او تاييدونكيو څخه و ،او له هغو خلكو څخه و، چې داسې صفاتو كې به يې تاويلات كول ، چې بيا يې پايله كې يې لدې نظريې څخه رجوع وكړه او پدې ټينګ و دريد ، چې دسلفو صالحينو مذهب او پدې باب ددوئ عقايد حق او پر حقيقت ولاړې دي او پدې كې كوم شک او شبه نشته.

نور غوره داده ،چې دالله تعالى په ټولو صفاتو عام ددې څخه چې ذاتي وي كه فعلي ، داسې ايمان مسلمان ولري ،چې د خپل تاويل پر ځای پكې دسلفو صالحينو توجيهات اوتاويلات په نظر كې ونيول شي او هم ددې نص (ليس كمثله شئ) څخه چې كوم تقديس او تنزيه ښكارې، دا هم په كمال فهم او درک سره په پام كې ونيول شي ،هم ددې عقيده موجوده وي، چې الله تعالى (سميع او بصير) دی ،خو كتل او اوريدل يې زمونږ په څير ندي او نه يې (يد) او(قدم) زمونږ غوندې دی.

دا (اهل حق) فرقه نه دمعتزله وو په شان ده، چې د نص دظاهري معنى په نفي كې دومره زياته غلو وكړي ، چې دتعطيل تر حده پورې يې ورسوي ،او نه دمشبهه وو غوندې عقايد لري ، چې دنص ظاهري معنى كې جمود راولي او تشبيه او تمثيل باندې ګروهمن شي، بلكې د(مولينا ادريس كاندهلوي) په آند ددې تعطيل ،تشبيه او تمثيل له منځه داسې شيدې راوباسي ،چې هم يې پخپله او هم يې پر نورو ښونكيو وښبي ،چې دا د ټولو سلفو صالينو اوائمه اربعه وو عقيده ده ،لكه چې په (فقه اكبر) كې (امام اعظم رح)فرمايي :[فما ذكر الله فی القرآن من ذكر الوجه واليد والنفس والعين فهو له صفات ولا يقال ان يده قدرته ونعمته لان فيه ابطال الصفة و هو قول اهل القدر والاعتزال و لكن يده صفته بلا كيف انتهى]اندړه ژباړه: يعنې چې قرآن كريم كې الله تعالى دوجه ،يد ،نفس او عين يادونه كړې ، دا د ده صفات او دقدرت او نعمت په معنى يې ترجمه كول نا سم دي، ځكه دې ډو ل معنى سره دالله تعالى د صفت ابطال راځي او دا سې معنى ګانې كول دقدريه او معتزله وو نظريات دي ،بلكې د[يد]معنى يد دی، خو بلا كيفه .اوهمداسې دامام مالک رح ،امام شافعي رح ،احمد بن حنبل رح او داحاديثو له نورو امامانو څخه هم نقل شوي دي.

ديوه ضعيف البيان او قاصر اللسان انسان لپاره به ډيره سخته وي، د ذوالجلال ښبتن تعالى ذات ،صفات او ددې كمالات دې ، داسې بيان كړي ،چې سمه او په تول پوره معنى دې يې ورته كړې وي ،دا كار يوه انسان ته من حيث الانسان مشكل دی ،بلكې هغه چې انسان يې كولای شي ،هغه دادي چې ممكناتو كې ،صفات په لوړه درجه وفهموي او بهتر يې وبولي..............

نوربيا........

انتخابات تمام شد

اما انتصابات ادامه دارد !!

(منقاد)

کشمکش های نتائج انتخابات رژیم کابل درین روزها درسراسر کشور و میان احزاب سیاسی بشدت ادامه دارد ملت بجان هم افتاده اند درشرایطیکه بهترین فرزندان کشور پشت میله های زندان هستند ، ومردمان متدین وجهادپرور در حبس غیر قانونی نیروهای نظامی خارجی وغلامان داخلی دستگاه قضا گردیده اند منابع ملی در بستر و زیر بستر در حال چپاول و غارت است. انتخابات بازي در افغانستان البته با عرض پوزش دقیقا چون گاوبازیست !! با حرکت در آوردن یک بیرق آن گاو خشم وغضب ملت را گهي به راست وگهي به چپ مي كشاند. واقعا این فروخته شده گان چه می خواهند وازملت چه چشمداشتی دارند زیرا می دانیم، که اینها کارگزاران غربیان واجنبیان هستند ، نه کارگزاران مردم نه نمایندگان مردم. ازهمین رو است، هرقدری که این نمایش را مطالعه نمایم، نتیجۀ عملی آن همان است، که تا امروز شاهدش بوده ایم.

ملت شهید پرورما بجای شعارهای که «ماازرای خود دفاع میکنیم» باید «انتخابات انتصاباتی» و یا «انتصابات انتخاباتی» رژیم دزدان و جنایتکاران را فعالانه تحریم کنند «تحریم فعالانه» واین بدین معنی است، که در افشاگری همه جانبه و گسترده، در پرده برداشتن از سرتاپای این رژیم فاسد وجنایتکار فعالانه شعار بدهند.

کسانی که خود را مرد سیاست می دانند و می پندارند که نقش بالایی در حکومت دارند وسرنوشت ملت را بدست میگیرند. آیا ازعملکردهای سابقه شان خجالت نمی کشند ؟درجنب خود نیزهمچوافراد فاسد وجنایتکاران وخائینین ملی را گرفته عوام وملت را تحت نام مقدس جهاد فریب میدهند عوام که درطول اعصار فرصت آن را نیافته اند که از درد شکم به بیشتر فکر کنند ، بستری خوبی برای رشد این ستمکاران وغاصبان بوده اند عوام طوری در ورطه ناآگاهی نگهداری شده اند که همه امور آنان برمبنی گفتار این ستمگران بوده است نه اینکه خود در مورد استقلالیت فکری وشناختی باوری ومنطقی داشته باشند. این مشکل فرصت خوبی را بدست اشغالگران ومتجاوزین و این مزدوران فاسد داخلی داده است تا ازمردم علیه مردم وازمردم ودین علیه دین استفادۀ سو کرده به اریکه قدرت برسند.

شما شاهد هستید که درپهلوی عبدالله عبدالله کسانی قرار دارد که به جز از چپاول گری و رهگیری قصر سازی ثروت پرستی وقتل ملت وچند تن گم راه تاریک نگر خود پرست متعصب مانند امرالله صالح که روزانه پنج بار اندیشه راه و فکرش تغیر میکند ، دیگرصفت نیکی ندارند. اگر عملکردهای سابقه ایشان را ورق بزنیم خوب درمی یابیم که بجزازنفاق همکاری باغربی ها ، سپردن لجام کشور بدست اجنبیان، پریشانی وآواره گی ، خانه سوزی کشتار ،

جنگ و جفا ظلم ، چور و غارتگری در حق مردم کشور ارمغان دیگری ندارند... آرزو و سیاست همیشگی ایشان همین است.

این ها کسانی اند که گذشته ایشان مملو از رسوائی ویکدستی با اشغالگران درظلم و ستم علیه فرزندان حق پرست جامعه وفروختن خون شهداء جامعه و دیگر اعمال زشت و ناشایسته دربرابر جامعه بوده که یادآوری ازآن برایشان به بهاء سرافگندگی تمام میشود. این افراد میخواهند ازیکسو این گذشته نابکار خویش را کتمان نمایند از سوی دیگر با اغفال اذهان ملت وبرچشمان آنها خاک زده سرنوشت فردای ملت را نیز درقیمومت خود ویا خانوادهٔ خود داشته باشند. اما تاریخ بازگوی تجارب نیک وبد جامعه است، هرچند اگرافراد مغرض وجاه طلب به نفع مردم داران سیاه پیشه آن را جعل کنند ، بازهم فرزندان راستین جامعه کم نیستند که دربرملا ساختن چهره های ناروای این اشخاص فروخته شده باصداقت وراستی قلم بردارند وکردار سیاه ایشان را نسل به نسل نقل کنند.

شخص دیگری که میخواهد سرنوشت این ملت شهید پرور را بدست بگیرد داکتر اشرف غنی است که خانمش لبنانی الاصل تابعیت آلمانی دارد خود خانمش طی یک گفتگوی اختصاصی باشبکه اطلاع رسانی افغانستان به مسیحی بودن خود افتخار کرده میگوید « زنان افغانستان را نیز به گرویدن به دین مسحیت تشویق می کند.

رولا عبدالغنی در پاسخ به این سوال که آیا مسیحی بودن شما مشکلی برای ایفای نقش همسر ریاست جمهوری کشوری با ترکیب بیش از ۹۹ درصد مسلمان ایجاد نخواهد کرد گفت: مسیحی بودن من جرم نیست اگر چه من از طرف مادری به نوعی یهودی محسوب می شوم.

وی اضافه کرد ، به اعتقاد من بانوان افغانستان تحت فشار به دین اسلام گرویده اند چون راه دومی نداشته اند. اگر آیین مسیحیت به خوبی برای آنان تشریح شود ، شک ندارم بیش از نیمی از آنان به این دین خواهند گروید.

خانم اشرف غنی احمدزی ادامه داد: من در طول ده سال گذشته از فعالیت برخی گروه های تبشیری مسیحیت در مناطق مرکزی، شمال و کابل به صورت غیرمستقیم حمایت هایی داشته ام. در صورت حضور در کاخ ریاست جمهوری به طور حتمی این کار را گسترش خواهم داد تا مردم افغانستان بدانند مسیحیت آن چیزی نیست که ملاها در مغز آنان وارد کرده اند. وی زنان افغانستان را به آزادی تشویق کرده گفت: آزادی زنان به قدری شیرینی خواهد داشت که به خودی خود ، موضوع مسیحی بودن من حل خواهد شد.

هموطنان عزیز ! به بینید او خودش شعار میدهد که بعد از کامیابی شوهرش درجامعه چه خدمت میکند شما خود شنیدید که تمام زنان ملت شهید پرور مارا به مسیحیت دعوت میدهد ومیکوشد که همه آینده ملت را مسیحی بسازد. مردم افغانستان باید آگاه باشند که غربی ها و اسرایلی ها ازگذشته های دور بالای اشرف غنی سرمایه گذاری نموده اند تا روزی اورا بر ملت ما حاکم سازند ، تا به واسطهٔ وی آرمان ها ، عزایم ودسایس شوم خودرا پیاده سازند. همین است که خانم نصرانیی یهودی اشرف غنی احمد زی به خود این حق را میدهد که بگوید: من زنان افغانستان را عیسوی می سازم. چنانچه سایت اسرایلی «بی اچ ورلد » در مقاله تحت عنوان «ترس و امید» از اشرف غنی به توصیف پرداخته. «واورا گزینهٔ مناسبی برای احراز کرسی ریاست جمهوری افغانستان دانسته

وادامه می دهد که اشرف غنی تنها کسی است که عقب افتاده گی افغان هارا می تواند در عرصهٔ جهانی ترمیم کند.

هموطنان عزیز ! مقصود از ذکراعمال این اشخاص وطن فروش اهانت به تاریخ وافتخارات کشور نیست، و این هویدا است که افغانستان زادگاه آزاد مردان که پرچم آزادی، مساوات، تمدن ودانش دردست داشته، بوده است. اما این هم غیرقابل انکار است که دربرابراین همه بزرگ مردان، رهبران وقمندانان مفسدوشریرداخلی وصحنه ساز برای خارجی هاواجنبیان کم نبوده است. آیااین همه شقاوت ونفاق وفساد واندا ختن مردم کشور را بجان همدیگر بمناسبت سمتی، گروهی، قبیلوی، تعصبی، نژادی، قومی واستفاده ازنام مقدس جهاد، برای رسیدن به اریکه قدرت، ازدامن چه کسانی چکیده است؟ این ها هرگز درفکرآبروی ملت نبوده اند. اصل ملت است این همه مستبدین باگذشته نابود گرخویش به چشم ملت خاک میزنند تابه اهداف شوم خود رسیده کشور را به هرطرف که میل داشتند سوق بدهند.

این دوتن مزدوران که خودرا برای ریاست جمهوری لایق تصور میکنند، خود بچنگال کفروالحاد ومتجاوزین افتاده اند وهمه شؤن اجتماعی شان را باغرب وملت های کفری وابسته احساس میکنند که ازخویش هیچ استقلالیت ندارند. این همه جنجال ها وانتخابات خاک زدن بچشم ملت است کشور ومردمیکه ازخودا ستقلالیت نداشته باشند ولجام کشورشان بدست بیگانگان باشدپس انتخابات چه معنی دارد؟ بجزاینکه فقر ودرماندگی های فرهنگی واقتصادی امت اسلامی را بگدایان مبدل سازند وکاسه خالی اجتماعی را باید ازکندوی مفکوره های غربی پرسازند. درعین حال همه افغانها نگران اند وهمه می پرسند، همه در دریائی وحشت وحیرت غرق شده اند که آخر برسراین صاحبان جاه وجلال طلب چه آمده است که بخاطر منافع سیاسی شان، نه بخاطر سربلندی اسلام چون کرمان گور بجان هم افتاده اند، گروه گروه دربرابرخدا کمر بغاوت بسته اندآخر سرنوشت مبهم وتاریک ودور وفرو رفته درغل وزنجیر این ملت چه خواهد شد.

باید ضمیرملت غیور افغانستان اجازه ندهد که فرزندان چنین جوی گندیده ومتعفن باشند، باید عصیان کنند برآن کلاه برداران که قرآن را بحیث دام تزویر استعمال میکنند وبه تلاوت چند آیات آن خود را مسلمان معرفی میکنند همچو خانم اشرف غنی وباجلوه اسلام ومجاهد نمائی وشیخ الحدیثی همچوعبدالرب رسول سیاف بازیچه دست غربی هااند. باید عصیان نمایند برهمه آن مجاهدنماهائی که برسر خون شهداء شان بادشمنان اسلام معامله گری میکنند. باید عصیان کنند برآن همه غلامان که درقبال چند دالرآبروی ملت را می فروشند. هموطنان عزیز ! باید هر فرد ملت مسلمان وغیور افغانستان متوجه نقشه های پلید و توطیئه های ویرانگر و تزویر ناجوانمردانه دشمنان خود یعنی آمریکا، اسرائیل و روبای مکار(انگلس) باشند.

ازرب متعال تمنا دارم که دست نماینده گان فروخته شده گان خودپسند خود را از سرنوشت کشور مظلوم وشهید پرورما کوتاه سازد. وکمک نماید که ملت ما ازدست اشغالگران خارجی واین مزدوران داخلی آزاد گردیده خود صاحب سرنوشت و سعادت خود گردد.

از بس ستاره کشتید روی زمان سیاه است
هم این زمان، هم آن زمان سیاه است
دست قلم شکستید، پای سخن ببستید
ای روشنی ستیزان افکارتان سیاه است
میخانه ها ببستید، بتخانه ها گشودید
با خون وضونمودید، کردارتان سیاه است

دصحت کميسيون اداري مسؤل مولوي شرف الدين :

داشغالګرو د نورو دعووو غونډې دبشر دحقوقو دعوه هم يواځې دځان لپاره ده او بل هيڅ چاته د بشر په نظر نه ګوري

درنو لوستونکو !

د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې يو مهم بخش د صحت کميسيون دی، دا کميسيون چې د روغتيايي چارو اړوند خدمات ترسره کوي، د جهاد دزخميانو د معالجې سربيره دمريضو بنديانو ، فلج شويو او معلولينو صحي خدمت هم کوي دغه راز د صحي پرسونل د روزلو لپاره تربيوي پروګرامونه هم لري.

بې له شکه د اوسني جهادي بهير يو بورېنوونکی واقعيت دهغو زخمي مجاهدينو حالت دی چې دمقدس جهاد په ډګر کې زخميان کيږي، ځکه د زمان او مکان د سختو او تنګو شرايطو له امله داسې پوره زمينه نه ده برابره چې د زخميانو کما حقه علاج او خدمت وشي، زخميان چې تر ډاکټر او روغتون پورې رسول کيږي له خورا ډيرو مشکلاتو سره مخامخ کيږي، له بلې خوا دامکاناتو او روغتيايي خدماتو کمبود او امتحاني حالات ددې باعث کيږي چې زخمي مجاهدين خورا سختې صحنې وزغمي، خو له دې ټولو مشکلاتو سره سره دالله تعالی په فضل دافغانستان اسلامي امارت دخپلو هڅو په نتيجه کې دصحت کميسيون تر چتر لاندې يو داسې سيستم جوړ کړی دی چې د زخمي مجاهدينو خدمت وکړي، دهغوی ژوند وژغوري ، دهغوی زخمونه پټی کړي او د خپل توان په اندازه دهغوی سره هره نوع صحي مرسته وکړي.

ددې لپاره چې د صحت کميسيون د جوړښت او چارو په اړه مو معلومات اضافه شوي وي دا ځل مو ددې کميسيون له اداري مسؤل مولوي شرف الدين صاحب سره مرکه کړې ده چې ستاسو پام ورته راجلبوو.

پوښتنه

محترم مولوي صاحب که له هرڅه وړاندې ځان رامعرفي کړئ او د خپلې وظيفې په اړه معلومات راکړئ ؟

ځواب

زما نوم مولوي شرف الدين دی ، د جوزجان ولايت اوسيدونکی يم او همدا اوس د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې د صحت کميسيون د اداري مسؤل په حيث وظيفه اجراء کوم.

پوښتنه

د صحت کميسيون په اړه که معلومات راسره شريک کړئ، چې داکميسيون کوم تشکيلات او اداري برخې لري ؟

ځواب

د صحت کميسيون د روغتيايي چارو په برخه کې د اسلامي امارت مؤظف کميسيون دی، چې له لويه سره په څلورو برخو ويشل شوی دی، يوه اداري څانګه او دری د زخميانو دمعالجې ساحوي څانګې دي ، دغه راز د صحت

کمیسیون دافغانستان د ټولو ولایاتو لپاره خپل ټاکلي نمایندګان لري چې په اړوند ولایت کې د کمیسیون نمایندګي او د چارو څارنه کوي ،د صحت کمیسیون په تشکیلاتو کې همدارنګه د زخمیانو د خدمت او انتقال لپاره مختلفې څانګې او کلینکونه دغه راز دوه روزنیز مراکز هم راځي چې روغتیایي پرسونل په کې روزل کیږي.

پوښتنه

تاسو د صحت کمیسیون مختلفو وظیفوي بخشونو ته اشاره وکړه که له هرڅه لومړی د زخمیانو دعلاج په برخه رڼا واچوئ چې صحت کمیسیون په دې برخه کې خپل کارڅرنګه پرمخ وړي ؟

ځواب

تاسو ته بهتره معلومه ده چې له تیرو دیارلس کلونو راهیسې زموږ په هیواد کې دامریکایي او نورو غربي یرغلګرو په خلاف مقدس جهاد روان دی، په دې جنګ کې لکه څنګه چې ددښمن خوا ته درانه تلفات اوړي زموږ مجاهدین هم په کې په شهادت رسیږي او یا زخمیان کیږي، د جهاد دهمدې زخمیانو معالجه زموږ دکار مرکزي برخه ده، ددې لپاره موږ په مختلفو ولایاتو کې د اولیه طبي مرستو دتهیې لپاره روغتیاپالان روزلي او ګمارلي دي، په جهادي سیمو کې موجود کلینکونه مو هم د تفاهم له مخې دې ته استخدام کړي چې د خپل توان په اندازه د زخمي مجاهدینو خدمت وکړي، په همدې بیړنۍ علاج سربیره موږ د هغو زخمیانو لپاره چې ډیر زخمیان وي هډونه یې مات شوي یا قطعه شوي وي داساسي علاج امکانات هم برابر کړي دي، په دې برخه کې موږ د ټول افغانستان د زخمیانو د معالجې لپاره امکانات به کار اچولي دي، او دالله تعالی شکر اداء کوو چې له هرڅومره مشکلاتو سره سره یې موږ په خپلو هڅو کې بریالي کړي یو او تردې مهال توانیدلي یو چې په ډیر ښه شکل دټولو زخمي مجاهدینو علاج وکړو.

په جهاد کې زخمي شوي مجاهدین هغه که هر ډول زخمیان وي او هرڅومره مصرف چې پرې راځي موږ یې علاج ته اماده یو ، موږ په زخمي ترهغه وخته علاج کوو ترڅو چې جوړ شي، که کومو مجاهدینو اعضاء له لاسه ورکړي وي له علاج وروسته دهغوی لپاره مصنوعي اعضاء لکه مصنوعي پښې، سترګې او لاس هم برابروو، دغه راز کوم بندیان چې د دښمن زندانونو څخه راخوشي کیږي موږ یې علاج کوو.

پوښتنه

تاسو چې د زخمیانو دمعالجې خبره وکړه نو دافغانستان جګړه خو یوه ستره جګړه ده او تقریبا په درست افغانستان کې روانه ده په دې لحاظ شاید د زخمیانو تعداد هم زیات وي، او د زخمي مجاهدینو دعلاج کومه بله مرجع هم نشته نو تاسو په دې برخه کې څرنګه په خپلو کارونو رسیږئ، یا دومره مالي امکانات له کومه کوئ ؟

ځواب

لکه تاسو چې اشاره وکړه ربښتیا هم زموږ کار خورا دروند او حساس دی، نور کارونه که وځنډیږي یا تعطیل شي هم امکان یې شته مګر زموږ کار ځنډ یا تعطیل هم نه قبلوي ځکه دلته دمجاهدینو د ژوند ژغورلو مسئله وي او چې هرڅنګه وي موږ باید د زخمي مجاهدینو ژوند وژغورو.

له همدې امله اسلامي امارت د بل هرکار په نسبت دې کار ته اولویت ورکړی دی، هرڅومره مالي امکانات چې په کار وي له هرڅه لومړی زموږ مالي اړتیاوي پوره کوي ترڅو خدای مکړه د کوم زخمي ژوند له خطر سره مخ نه شي،تاسو پوهیږئ چې نن سبا د علاج مصارف، او درملو نرخونه خورا لوړ دي، په داسې حال چې موږ ته هیڅ دوا مفته نه حاصلیږي ، د زخمیانو د پانسمان ، عملیاتو ، مصنوعي غړو او دعلاج اړوند ټول خه په پیسو کیږي، زموږ مالي مصارف خورا زیات دي، او دا داسې ضرورت دی چې باید سمدستي اداء شي یعني ځنډ نه قبلوي، په همدې خاطر اسلامي امارت ټول تپ و تلاش کوي ترڅو د زخمیانو دمعالجې جریان جاري

وساتي، په دې برخه کې اهل خیر مسلمانان هم له زموږ سره مرسته کوي خو بیا هم زموږ کار خورا حیاتي او ضروري دی اړتیاوې په کې خورا ډیرې دي، هغه څوک چې کولای شي په دې برخه کې له اسلامي امارت سره مرسته وکړي باید خپله مرسته ونه سپموي، دوی باید دغه عاجل ضرورتونه درک کړي، د زخمیانو له مشکلاتو ځان خبر کړي او خپلې مرستې ونه سپموي.

پوښتنه

د زخمیانو په معالجه سربېره تاسو د روغتیاپالانو د روزلو خبره وکړه کـه ددې تربیوي برخې په اړه معلومات راکړئ ؟

ځواب

بلې ، د صحت کمیسیون دوه تربیوي مراکز لري، چې په هره څلور میاشتنۍ دوره کې په هر مرکز کې د ۲۰ شاوخوا طبي کارکوونکو ته د مسلکي استادانو ډاکټرانو لخوا روزنه ورکول کیږي او بیا د خدمت لپاره جامعې ته وړاندې کیږي.

لومړی موږ د مختلفو ولایاتو له جهادي مسؤلینو څخه غوښتنه کوو چې خپل هغه مجاهدین چې د طبي زدکړو لپاره یې دوی مناسب بولي او په جهادي جبهاتو کې خدمت ته اماده وي، هغه دې موږ ته معرفي کړي ترڅو ورته طبي روزنه ورکړو ، کله چې موږ ته کوم کسان معرفي شي، موږ په پیل کې یوځل امتحان ترې اخلو ترڅو ددوی استعدادونه معلوم کړو کله چې په امتحان کې بریالي شي، بیا په تربیوي دوره کې داخلیږي او د استادانو لخوا ورته دخپل پروګرام سره سم درس ویــل کیږي، پـه دې تربیــوي دوره کــې دوی تــه هغــه روغتیایي لارې چارې ښودل کیږي چې په جهادي جبهاتو کې ورته ډېره اړتیا وي، لکه د زخمیانو اولیه بیړنۍ مرستې، وینه بندول او پانسمان دغه راز د داخله امراضو د معالجې په اړه هم ضروري زده کړې ورکول کیږي، له څلورمیاشتنۍ دورې وروسته لـه دوی څخـه امتحـان اخیسـتل کیـږي او بریالیو کسانو ته دفراغت اسناد ورکول کیږي، دغه راز کوم کسان چې خواهش ولري دکمیسیون مربوط روغتونونو یا د زخمیانو دخدمت په ځایونو کې ورته د عملي کار کولو زمینه هم برابریږي.

موږ چې کوم کسان تربیه کوو اکثره یې جهادي جبهاتو تـه ځـي، چې د دوی لخوا د زخمي مجاهدینو خدمت د ډیـر قدرداني وړ دی، اما یوشمیر یې چې جهادي جبهاتو ته نه ځي او پـه خپله سیمه کې دیوه روغتیاپال پـه حیث د عـامو مسلمانانو خدمت کوي ددوی کار هم موږ یوه لاسته راوړنه بولو، ځکه زموږ په هیواد کې د طبي کارکوونکو شمیر خورا لږ دی او اولس مو روغتیایي خدماتو تـه ډیـره زیاتـه اړتیـا لري، نو د خپل مسلمان اولس د خدمت لپاره موږ خپله دا یوه لاس تـه راوړنـه بولـو چـې د دوی لپـاره صـحي کـارکوونکي وروزو.

پوښتنه

امریکا، اروپایي حکومتونه او دامریکایانو لخوا ټاکل شوی افغـان حکومـت دعـوه کـوي چې دوی د بشـرحقوقو تـه درناوی لري، دوی د جینوا د میثاق غوندې د بشـري حقوقـو او د جګړې دمتاثرینو د دفاع اعلامیـه منلي او امضـاء کـړي دي، تاسو چې د زخمیـانو لـه نقـل او عـلاج سره کـار لـرئ او وضـعیت مـو د سر پـه سـترګو لیـدلی دی، آیـا دوی پـه خپلـو دعواوو کې رښتیني دي او رښتیا د جګړې د متاثرینو حقوق په رسمیت پیژني؟

ځواب

بایـد ووایـم چـې د نـورو دعـواوو غـوندې دا هـم دغربـي یرغلګـرو او دهغـوی دمحلـي ملګـرو یـوه دروغجنـه ادعـاء ده،دوی یوازې د ځان لپاره بشري حقوق په رسمیت پیژني او بل هیڅ بشر ته دوی د بشر په نظر نه ګوري بلکې په اړه یې ډیر بي تفاوته او بې رحمه دي.

ددې په ځای چې دوی د زخمیـانو پـه حالـت رحم وکړي، مسلسل داسې پیښیږي چې دوی زموږ زخمیان له علاج څخه راګرځولي، هغه یې په زخمي حالت کې زندان ته اچولي تردې

چې تپونه یې خراب شوي یا یې اعضاء ناسم جوړ شوي دي، داسې هم ډیر پیښ شوي چې زخمیان یې په ډیره ظالمانه توګه په شهادت رسولي دي، د دوی دهمدې ظلم او قساوت له امله زخمیان له ډیرو مشکلاتو سره مخامخ دي ، هغه مزل چې زخمیان یې په یوه ورځ کې وهلی شي او تر معالجې ځان رسولی شي اوس یې په ۷ یا ۸ ورځو کې په ډیرو سختو شرایطو کې په غرنیولاروو هي، په داسې لارو چې مجاهدین په کې د موټر او امبولانس سهولت نلري، نو خپل زخمیان په شا یا هم په حیواناتو انتقالوي، چې له دې اړخه اکثره زخمیان له سختو دردونو او مشکلاتو سره مخامخ کیږي، حتی زخمیان دهمدې اوږدو لارو او دوینې د ضیاع له امله په نیمه لاره په شهادت رسیږي، بله داچې کله ناکله د جګړې په ساحه کې یو مجاهد زخمي شي، خو هغه د علاج لپاره ځکه له خپلې سیمې نه شي تللی چې په لاره ددښمن لخوا د تازه زخمونو له امله پیژندل کیږي، نو مجاهد په خپله سیمه کې صبر کو ي تر څو یې زخمونه یوڅه ښه شي او بیا د اساسي علاج هڅه کوي ، خو په داسې حالت کې چې کله معالج ډاکټر ته خپل زخمونه ښیي نو ډیر ځله یې هډوکي کاږه او ناسم جوړ شوي وي، چې دنومورې دمعیوبیت خطر ترې پیښیږي په داسې حال کې ډاکټر مجبور وي چې دنومورې داساسي علاج په خاطر یې جوړ شوی هډ بیرته مات کړي او له سره یې سم پیوند کړي، چې په دې توګه په زخمي باندې تکلیف بیرته له سره شروع کیږي او د یوه زخم له امله دوه ځله دردونه وړباندې تیریږي.

چې دا او دې ته ورته نور ټول مشکلات له همدې امله دي چې زموږ دښمن زموږ دزخمیانو په وړاندې له ډیر غیرانساني او ظالمانه چلند څخه استفاده کوي، ددوی په ظاهري خبرو او تبلیغاتو باید باور ونه شي که نړیوال او هیوادوال ددوی اصلي څیره پیژندل غواړي باید دغسې له قساوت ډک اعمال یې وارزوي.

پوښتنه

داسې هم ویل کیږي چې ددښمن لخوا په جګړه کې له زهري او کیمیاوي وسلو څخه استفاده کیږي، تاسو چې زخمیان مو له نږدې لیدلي دي آیا دداسې څه اثرات مو کله لیدلي دي؟

ځواب

هو، داسې بد اثرات بیا بیا په زخمیانو کې تر سترګو شوي چې د ډاکټرانو په باور ددښمن لخوا په جګړه کې د زهري موادو استعمال یې لامل بلل کیږي، مثلا یو شکایت چې ځیني زخمیان یې لري دادی چې ځیني زخمیان له ټپي کیدلو وروسته د پوستکي په پیس مرض مبتلا کیږي چې بیا یې علاج نه کیږي، ډاکټر وایي چې ددې علت همدا ددښمن لخوا کاریدونکي زهري مواد دي، داسي هم ډیر پیښ شوي چې ځیني زخمیان چې دیرغلګرو په مرمیو لګیدلي یا یې دبمونو پرځچي پر بدن سرېښ شوي، زخمونه یې نه جوړیږي، له علاج وروسته یې د لنډ وخت لپاره زخمونه روغ شي خو څه موده وروسته یې زخم بیا وشړیږي، داسې پیښې که څه هم کمي دي خو داندیښنې وړ دي، چې پلټنه او پوښتنه یې باید وشي او ددښمن ددې جنګي جنایت سپیناوی وشي.

پوښتنه

خپلو مسلمانانو وروڼو ، نړیوالو خیریه ټولنو او هغوی چې د بشر دحقوقو دعوا لري ستاسو پیغام ورته څه دی ؟

ځواب

خپل مسلمان ملت او مؤمن افغان اولس ته مو پیغام دادی چې دغه زخمي وروڼه چې داسلامي امارت دصحت کمیسیون یې خدمت کوي، دوی هغه فداکار ځوانان دي چې خپله روغتیا ، خپل اعضاء او خپل خوږ ژوند یې داسلام دخدمت په لاره کې قربان کړی دی، د اسلام له رویه ټول مسلمانان سره وروڼه او یوجسد دي چې د هر مسلمان درد باید بل مسلمان په خپل ځان باندې حس کړي، نو ددې زخمیانو درد باید هر مسلمان خپل درد وبولي، ددوی له مشکلاتو ځان خبر کړي او په هرځای او هر وخت کې ورسره

همکاري او خواخوږي وکړي، د زخمیانو دعلاج ، خدمت او دهغوی د ژوند ژغورلو او سهولت په برخه کې یې چې څومره همکاري په وس پوره وي باید ویې نه سپموي، ځکه همدا په هر مسلمان باندې د اسلام ددې اتلو او فداکارو زامنو دیني حق دی.

...ددوی د نورو دعواوو غوندې دا هم یوه دروغجنه ادعاء ده چې ګواکې دبشر حقوقو مراعت کوو،دوی یوازې د ځان لپاره بشري حقوق په رسمیت پیژني او بل هیڅ بشر ته دوی د بشر په نظر نه ګوري بلکې په اړه یې ډیر بې تفاوته او بې رحمه دي.
ددې په ځای چې دوی د زخمیانو په حالت رحم وکړي، مسلسل داسې پیښیږي چې دوی زموږ زخمیان له علاج څخه راګرځولي، هغه یې په زخمي حالت کې زندان ته اچولي تردې چې ټپونه یې خراب شوي یا یې اعضاء ناسم جوړ شوي دی، داسې هم ډیر پیښ شوي چې زخمیان یې په ډیره ظالمانه توګه په شهادت رسولي دي

دغه راز مو نړیوالو ټولنو او دبشر حقوقو دعوا کونکو ته پیغام دا دی چې دوي چې دبشر دحقوقو او انسانیت په باب چې کوم شعار ورکوي یا یې کوم اصول وضع کړي دي هغه باید داسې عملي کړي لکه څنګه چې ددوي اصول او د انسانیت اړتیا او غوښتنه ده بلا تفاوته مرستې وکړي یعنی د چا تر فشار او تاثیر لاندې نه وي د افغانستان مظلوم ملت سره باید هراړخیزه مرسته وکړي خصوصاً د زخمیانو او معیوبینو او فلج مریضانو سره مرستې وکړي. له امریکه او متحدینو سره د ملګرتیا او د هغوی تر قومنده لاندې دکارکولو تور داغ له خپلو ټولنو او سازمانونو لرې کړي.

پوښتنه

او په پای کې دهغو کورنیو ته چې خپل اولادونه یې د جهاد په لاره کې زخمیان یا معلول شوي دي خپل پیغام که راته وواییئ مهرباني به مو وي ؟

ځواب

هغه کورنۍ او مؤمن ورونه چې خپل قریبان یې دالله تعالی ددین د ساتنې په لار کې قربان شوي، زخمیان شوي، معلول شوي یا یې اعضاء له لاسه ورکړي دي مونږ ورته ددې ستر امتیاز دحاصلولو او فداکارۍ د اداءکولو مبارکي وایو ځکه دوی اصلي وراثت ګټلی دی چې پر دین باندې زخمیان شوي دي ځکه چې زموږ ستر او خوږ پیغمبر علیه السلام پر دې دین زخمي شوی او ملګري یې زخمیان شوي دي موږ د بدر، احد، خندق او نورو ټولو غزواتو په اړه مثالونه لرو چې صحابه کرام په همدې دین زخمیان شوي دي اعضاء یې له لاسه ورکړي دي دا مقام هرچاته نه رسیږي ددې قربانیو په قدر یوازې الله تعالی پوهیږي او واقعي بدله یې هم یوازی الله تعالی ورکولای شي د بل چا توان نسته ، د اسلامي امارت د صحت اداره په همدې بخش کې دیوې مسؤلې ادارې په حیث د دوی خدمت خپله دنده بولي د هغو طبی خدمتونه یې بار بار کړي دي او په آینده کې هم ورته پوره تیاری لري.

موږ د زخمیانو ورثه وو ته دا پیغام لرو چې دوی هم باید دخپلو محتاجو او معلولو قریبانو په خدمت کې سترې نه شي، باید د خپلو محتاجو قریبانو ډیر خیال وساتي دالله تعالی په قضاء راضي واوسیږي خپل زخمیان ورونه چې د اسلام او قرآن به ننګ یې شیرین اعضاء له لاسه ورکړي باید مایوسه یې نه کړي او خاص د الله تعالی د رضاء دحصول په خاطر یې ډیر زړه وساتي.

فتحې او لاسته راوړنې

زخمي افغان

د الله تعالی د فضل او نصرت په برکت په دې وروستیو کې له جهادي ډګر څخه دداسې بریالیو فتوحاتو او لاسته راوړنو خبرونه اوریدل کیږي چې هره پیښه یې په لویه خوشالۍ او د الله تعالی په دربار کې د شکر په سجدو ارزي.

هغه مجاهدین چې یو وخت د زوال له خطر سره مخامخ و او دښمنانو یې د بقاء احتمال نفي کاوو اوس په نړیواله او محلي کچه د لویو جهادي او سیاسي فتوحاتو ویاړونه ترلاسه کوي.

دا چې د جهادي فتوحاتو د دې بهیر په مقابل کې دښمن مطلق اعلامي سانسور اعلان کړی دی ترڅو د جهادي بریاوو له بشاراتو مسلمانان خبر نه شي د خپل اولس د خبرتیا په خاطر په لاندینیو کرښو کې د مجاهدینو څو ښکاره فتوحاتو ، د جهادي خوځښت لاسته راوړنو او نورو بشاراتو ته اشاره کوو چې په تیرو څو اونیو کې یې موږ شاهد پاته شوي یو.

د روان قمري کال د رجب په ۲۹ نیټه رسنیو خبر ورکړ چې په روزګان ولایت کې د امریکا د ستر قراردادي او ظالم قومندان حکیم شجاعي ټغر په بشپړ ډول له دې سیمې څخه ټول شو ، حکیم شجاعي یو هزاره ټوپکمار وو چې سلګونه وسلوال یې درلودل نوموړی د امریکایانو یو مرتزقه جګړه مار و چې له تیرو څو کلونو راهیسې یې د غزني او روزګان په ولایتونو کې د اشغالګرو لپاره ظالمانه دنده اجراء کوله ، نوموړی د خپل ظلم له امله ډیر مشهور و چې د روزګان

لسګونه ولسي خلک یې شهیدان، کورونه یې ورو سوزول او بیا بیا یې د سیمې په خلکو سخت ظلمونه سرته رسول، نوموړي په روزګان کې لسګونه پوستې درلودلې او امریکایانو ته دومره قریب و چې حتی د کابل د حکومت هم پرې زور نه رسیده ترڅو یې له جنایاتو راوګرځوي، خو د متعال خدای په فضل په وروستیو کې د نوموړي په وړاندې د مجاهدینو بریدونه او ولسي نفرت اوج ته ورسید ، له تدریجي زوال وروسته یې په یاده نیټه ټول وسلوال له پوستو وتښتیدل ، ځینی د خلکو لخوا خلع سلاح او ونیول شول او په بشپړه توګه یې کیسه ختمه شوه.

د روان میلادي کال د می په ۳۱ مه نیټه له امریکایي حکومت سره د یوې تبادلې په نتیجه کې د اسلامي امارت پنځه تنه لوړپوړي چارواکي ، هریو د شمال زون تنظیمه رئیس او د بلخ والي ملا نورالله نوري ، د کورنیو چارو پخواني وزیر او د هرات والي ملا خیرالله خیرخوا ، د استخباراتو د لوی ریاست مرستیال ملا عبدالحق وثیق ، د اسلامي امارت لوی درستیز ملا محمد فاضل مظلوم او د سرحدي لوا قومندان مولوي محمد نبي عمري صاحب د ګوانتانامو له بدنام زندان څخه راخوشي شول، د دغو لوړپوړو مجاهدینو راخلاصیدل بې له شکه د اسلامي امارت یوه ستره بریا وه چې په نړیواله کچه یې پراخ خبري انعکاس درلود او د مسلمانانو زړونه وربانديې خوشاله شول،د دې بندیانو د راخلاصیدو په مقابل کې مجاهدینو د بوبرګډال په

نامه هغه امریکایي عسکر هم امریکایانو ته وسپاره چې څو کاله وړاندې د پکتیکا په ولایت کې نیول شوی و.

د روان میلادي کال د جون په **۳** مه نیټه امریکایانو دافغانستان او سیمې د پوځي اډو د تخلیې په بهیر کې په منځنۍ اسیا کې له خپلې سترې اډې مناس څخه هم وتنبتیدل، مناس پوځي اډه چې امریکایانو ترې کار اخیست په قرغزستان هیواد کې وه، یوه لسیزه وړاندې امریکایانو په دې سیمه کې ددې لپاره اړولې وه ترڅو د خپل نړیوال اشغالي پلان په تطبیق کې له دې اډې څخه د منځنۍ اسیا او شاوخوا سیمې دکنترول لپاره استفاده وکړي، مګر داچې په افغانستان کې امریکایي خوبونو سرچپه تعبیر ورکړ او ارزوګاني یې له خاورو سره خاورې شوې بالاخره دافغانستان په څیر له دې اډې هم وتښتیدل، ددې پیښې په مهال ځینو فیسبوک کاروونکو ولیکل چې (طالبانو دمناس هوایي اډه فتحه کړه) ددوی اشاره دې ته وه چې له مناس څخه دامریکایانو تیښته دافغانستان دجهاد برکت دی، او دفتحې ویاړ یې دطالبانو دی چې په خپلو قربانیو یې په سیمه امریکایي یرغل مات او داشغالګرو اوږده پلانونه یې شنډ کړل.

د جون میاشتې په نهمه شپه **۴** تنو فدایي مجاهدینو دننګرهار ولایت جلال اباد ښار ته نږدې دامریکایي اکمالاتو او انتقالاتو په یوه موټریزه اډه باندې برید وکړ چې په نتیجه کې یې دامریکایانو **۱۱۳** ټیلر موټر چې شاوخو **۲۰۰** نقلیه وسایط په کې بار و، وسوزیدل او له منځه لاړل، په همدې ورځ یو بل فاتحانه زیری دا و چې مجاهدینو د روزګان په چارچینو کې ددښمن **۸** پوستې فتحه کړې او پراخه سیمه یې ددښمن له شتون څخه پاکه کړه.

په نړیواله کچه د جهادي بریاوو یو ترټولو خوشالوونکی زیری د جون میاشتې په **۱۰** نیټه دمسلمانانو غوږونو ته ورسید، په همدې نیټه رسنیو وویل چې په عراق کې د دولة الاسلامي فی العراق والشام په مشرۍ سني ولسي پاڅون کوونکو له الانبار ایالت څخه وروسته نینوا ایالت هم په بشپړه توګه نیولی او ددې ولایت مرکز موصل ښار چې له بغداد وروسته دعراق دوهم ستر او مهم ښار دی تر خپل کنترول لاندې یې راوستی دی، د عراقي ولسي مجاهدینو دا ستره بریا په درسته نړۍ کې دمسلمانانو تر منځ د یوه هیښوونکي بشارت په حیث خپره شوه او ورپسې چې دعراقي ولسي پاڅون دفتحو بهیر تر تکریت، القائم اوحتی دبغداد تر دروازو ورسید، په نړیواله کچه یې داسلام دښمنان سخت غمجن او دمسلمانانو زړونه خوشاله کړل، د عراقي مجاهدینو فتوحاتو په درسته نړۍ کې مجاهدو او مبارزو مسلمانانو ته نوې روحیه ورکړه او دکفر په وړاندې دمبارزې روحیه او تعهد یې لا مضبوط کړ.

د جون میاشتې څوارلسمه نیټه په هیواد کې یوه بله د فتحو او حماسو ورځ وه، په دې ورځ چې په افغانستان کې دولسمشرۍ د ټاکنو دوهم پړاو ترسره کیده، مجاهدینو هم د وړاندینۍ امادګۍ له امله له سهار څخه په درست افغانستان کې په دشمن باندې بریدونه پیل کړل چې ټوله ورځ یې په ډیر قوت سره جریان درلود.

ددې ورځې په پای کې داسلامي امارت ویاند ښاغلي ذبیح الله مجاهد په خپله اعلامیه کې وویل: د خیبر عملیاتو په جریان کې نن ورځ له سهاره تر ماښام پورې د اسلامي امارت د سرسپارلو مجاهدینو لخوا په ټول هیواد کې د امریکایي فرمایشي ډرامې انتخاباتو په جعلي پروسه پراخ تعرضي بریدونه ترسره شول، په دغو بریدونو کې د دښمن امنیتي مراکز، انتخاباتي مرکزونه، د کابل اداري د مزدورو عسکرو او پولیسو د تګ راتګ قطارونه او د دښمن د تجمعاتو ځایونه تر کارنده ګوزارونو لاندې ونیول شول په ټول هیواد کې د بریدونو مجموعي شمیر(۸۲۸) ته رسیږي چې د ولایاتو په لحاظ یې شمیر په لاندې ډول ده.

ننګرهار: (۱۰۷	کنړ: (۲۲)
کندز: (**۵۵**)	لوګر: (**۵۵**)
غزني: (۴۴)	پروان: (۴۲)
زابل: (۴۰)	لغمان: (۳۸)

پکتیا: (۳۶) پکتیکا: (۳۰)
نورستان: (۲۹) خوست: (۲۷)
بغلان: (۲۶) کابل: (۲۴)
میدان وردګ: (۲۳) فاریاب:(۲۲)
کاپیسا: (۲۱) هرات(۲۰)
هلمند: (۱۹) ارزګان:(۱۶)
غازي آباد: (۱۵) فراه:(۱۴)
کندهار:(۱۳) بلخ: (۱۳)
غور: (۱۳) جوزجان: (۱۳)
بدخشان: (۱۲) بادغیس: (۱۲)
سرپل:(۹) سمنګان: (۸)
بامیان: (۴) نیمروز:(۳)
تخار: (۲) پنجشیر:(۱)

د انتخاباتو له تیریدو وروسته د جون په ۱۸مه نیټه دغور ولایت مجاهدینو ددې ولایت په پساېند ولسوالۍ کې د یولړ پراخو عملیاتو په ترسره کولو سره سترې بریاوې ترلاسه کړې ، په همدې ورځ مجاهدینو د ۲۴ ساعته جګړې په پایله کې ددښمن ۱۲ پوستې فتحه کړې او ددښمن عسکر او اربکیان یې له سیمې وشړل ، دعملیاتو په نتیجه کې مجاهدینو ۱ ټانګ ، پنځه عرادې رینجر موټر ۴۰ عرادې موټرسایکل یو میل دهشکه یو میل هاوان ۳۰ میله کلاشینکوفونه او ۴۰ صندوقونه مرمۍ هم غنیمت کړې چې دا بریا د غور ولایت په اوسني جهادي تاریخ کې یوه ستره بریا بلل کیږي.



د غور د بریا په سبا دریو تنو فدایي مجاهدینو د ننګرهار ولایت په سرحدي ښارګوټي تورخم کې دامریکایانو په یوه اکمالاتي او د وسایطو د تجمع په اډه باندې برید وکړ، چې درسته ورځ جنګ جریان درلود ، په دې جګړه کې هم دښمن ته د سر ددرانه زیان په اوښتو سربیره د دښمن ۱۱۹ اکمالاتي ټیلر موټر او ۹۲ پوځي ټانګونه چې امریکایانو افغانستان ته د جګړې د پرمخ بیولو لپاره راوستي وو په بشپړه توګه داور خوراک شول او له منځه لاړل.

د فتحو او بریاوو د ددې لړۍ وروستي عملیات د جون میاشتې په ۲۱ مه نیټه دهلمند ولایت د سنګین په څاروان کلا سیمه کې وه ، دا سیمه چې د هلمند په سطحه یوه ستراتیژ یکه سیمه بلل کیږي او تیر کال هم د سختو جګړو شاهده وه سږ یوځل بیا د مجاهدینو او دښمن ترمنځ د تودو معرکو ډګر دی ، د جون د یوویشتمې په عملیاتو کې ددښمن ۷ پوستې مجاهدینو فتحه کړې تر ۲۵ ډیر ددښمن عسکر ووژل شول او ګڼ نور له خپلو وسلو سره ژوندي ونیول شول.

لوړ یاد شوي موارد د جهادي فتوحاتو هغه پیښې وې چې رسنیو وربانـدې خوله پټه ساتلې ده او په ښکاره د مجاهدینو د قوت او ددښمن دضعف او اضمحلال دلالتونه له ځانه سره لري.

د فتوحاتو له دې بهیر څخه ښکاري چې لله الحمد مجاهدینو په خورا ښه موقف کې دي او دښمن یې په هرډګر کې له سختې وارخطایي او شکست سره مخ کړی دی ، الله تعالی ته امید لرو چې دفتحو دا تسلسل به همداسې جاري پاته شي او دااسلام دښمنان به د حق دلښکریانو په مقابل کې په نهایي شکست محکوم شي . ومااذالک علی الله بعزیز

ګلګشونه

هلال

أخترمحمد بهار مستغفر

پر سر د تربمو مو سپین مشال وهلی دی
ککرو د پردو نه مو دیوال وهلی دی

عجبه ایماني ګوزار یې بیا وخوړ ملګرو
پر تور تندي مو مخامخ دجال وهلی د ی

دا ګز اودا میدان دوی دې روغ ولاړ شي لدي کلي
له تار د استشهاد مو ورته جال وهلی دی

لا نور به هم خوتیږي ددې مستو ماغزه سر کې
دوی اور ته دکسات د اوبو خیال وهلی دی

صلیب شو دړې وړې او نړۍ کې یې مخ تور شو
په توره د توحید باندې هلال وهلی دی

زلمي د مستغفر بهار د کلي خو ګلان دي
خزان یې په ښکلا په څه کمال وهلی دی

نظام کندهاري

را خلاصو شویو اتلانو ته!

ستا چې لاسو کې هتکړۍ پرتې وې
زمونږ په زړونو کې سلګۍ پرتې وې

ته چې وې ناست د پنجرو په زړه کې
ښې د ویر پر دنیاګۍ پرتې وې

په نارنجي لباس کې ببل شوې رانه
سر په ژړا توري پګړۍ پرتې وې

نه یې ګناه نه یې تعدا وه ربه
په قفسو کې توتکۍ پرتې وې

ستا د دیدن او د راتلو پر لاره
د امیدونو مو کیږدۍ پرتې وې

مونږ هم په وینو لاري و مینځلې
ځکه پښوا لا خونړۍ پرتې وې

دا مو دی ستاسو انتقام اخیستی
هلته چې ماتې ککرۍ پرتې وې

نظامه تېره شول ناترسه سېلۍ
پر سرو اغزیو ګل غوټۍ پرتې وې

غلیم ته

حافظ محمد قاسم زهیب

که دې دا یاد و بیابه ونکړې یرغل غلیمه
داګوزارونه دبغداد او د کابل غلیمه

دادلندن او واشنګټن په خیر نامرده نه دي
دلته هرځوان دی دخالد غوندی اتل غلیمه

دغه ولس له (آی مس یو) سره نه دی اشنا
هریو په لاس کې ذوالفقارسپور په دلدل غلیمه

ابودجانه غوندې مونږ چې جنګ ډګر ته درومو
بیاله سرونه بګړۍ تاوکړو ول په ول غلیمه

لکه (د ګر بډي) څوک روغ درپاتې شوي ندي
څوک دې ړانده او څوک کاڼه اوڅوک دې شل غلیمه

دعیاشۍ اوفحاشۍ ځایونه نوردي ګوره
داسیازړه کې دې راغلی ؤاجل غلیمه

چی بارودي واسکټ په تن کړي فدايي جانان مې
په خپلوغوښوکړي سوراوردباندې بل غلیمه

ته هالیووډ ،اوبالیووډ ،ګوره (ګرل فرینډ)سره دې
مونږ مینان یود سنګراودمورچل غلیمه

داکلیسااوسینماپه مونږتپلی نشې
مونږدفکری جګړی زده کړی دی هرچل غلیمه

دادصلیب اودهلال ترمنځ اوږده جګړکې
فتحې له ربه (زهیب)غواړی پل په پل غلیمه

امید

(حافظ شیرازی)

یوسف گم گشته باز آید به کنعان غم مخور
کلبه احزان شود روزی گلستان غم مخور

ای دل غمدیده حالت به شود دل بد نکن
وین سر شوریده باز آید به سامان غم مخور

دور گردون گر دو روزی بر مراد ما نرفت
دایما یکسان نباشد حال دوران غم مخور

گر بهار عمر باشد باز بر تخت چمن
چتر گل در کشی ای مرغ خوشخوان غم مخور

ای دل ار سیل فنا بنیاد هستی برکند
چون تو را نوح است کشتی بان غم مخور

هان مشو نومید چون واقف نیی از سر غیب
باشد اندر پرده بازی های پنهان غم مخور

در بیابان گر به شوق کعبه خواهی زد قدم
سرزنشها گر کند خار مغیلان غم مخور

گر چه منزل بس خطرناک است و مقصد بس بعید
هیچ راهی نیست کان را نیست پایان غم مخور

حال ما در فرقت جانان و ابرام رقیب
جمله می داند خدای حال گردان غم مخور

حافظا در کنج فقر و خلوت شبهای تار
تا بود وردت دعا و درس قرآن غم مخور

د کابل ټکسي چلوونکي غله !



نظرمحمد م

زموږ او ستاسي اکثره میلمانه له ولایتونو او اطرافو څخه راځي، چې د غلو له خوا یې جیبونه وهل کیږي. له همدې امله لیکنه بیا ستاسي سره شریکوم چې له نورو ملګرو سره یې هم شریکه کړئ او له اطراف څخه راتلونکې افغانان د غلو له یومخیزې غلا څخه لږ تر لږه خبر وي. له حکومت څخه هسې هم د دې توقع نه کیږي.

حاجي اسدالله د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالي د چانجیر اوسیدونکی وایې چې په یخ ژمي کې کابل ته راغلی وم، دوه زره اوم کال وو، کله چې بیرته تلم، دا چې د کندهار ۳۰۳ موټربسونه د شپې له خوا حرکت کاوو، د شپې پر دوه بجې د کوربه له کور څخه راووتم، ټکسي مې پیدا کړ، دوه تنه نور هم د ټکسي موټر په شاتنۍ چوکۍ کې ناست وو، چلوونکي وویل چې کاکا کجا میري؟ ورته مې وویل چې د کندهار اډې ته ځم، هغه راته وویل چې: بالا شو، ما هم اده کندهار میرم، خبره مې د کرایې ورته وکړه، ویې ویل چې: فرق نمیکند هرچیزي که دادي صحیح است.

ټکسي په سړه هوا کې د کندهار اډې پرلور حرکت وکړ، لږځنډ وروسته د عمومي سړک څخه بل فرعي سړک ته واوښت، ویې ویل چې دلته نږدې په دې بله کوڅه کې یو بل مسافر هم کندهار اډې ته ځي وعده مې ورسره کړې ده هغه به هم راواخلو، د شاکسانو سمدستي وویل چې: برو ما هم مسلمان هستم، خیراست او بیچاره هم بالا میکنیم.

ټکسي موټر یې په توره شپه کې یوې کوڅې ته وردننه کړ، په کوڅه وردننه کیدو سره سم د شاکسانو زما په غاړه کې دستمال راواچاوو، یوه تومانچه راباندي ونیوله او بل چاقو راباندي راوکیښ.

ژر ژر یې زما جیبونه تلاشي کړل، راسره پیسې یې ګرده راڅخه واخیستلې، هغه بکس چې د کور د غړو له پاره مې تحفې اخستې وې او زما سامان پکښې وو هغه یې هم راڅخه یوووړ، او له موټر څخه یې کښته کړم، څو لغتې یې هم ووهلم، ویل یې چې حال اده کندهار برو.

حاجي اسدالله ډیر ځیرک سړی دی وایې زما د وهلو پروخت مې د دغو شاته کسانو څیرو ته ښه په ځیرځیر وکتل، ډیره موده وروسته بیا څل کابل ته راغلم، په جاده کې روان وم چې همهغه دوه نفره مې ترسترګو شول، زه هم په دوی پسې روان شوم، او ځان مې ناګمانه واچاوو، دواړه کسان په جاده کې یوې پوستې ته ننوتل، دا چې زه هم پخوانی صاحب منصب وم، په ډاډ سره پوستې ته ورپسې ننوتلم، هلته مې د پوستې د مشر پوښتنه وکړه، له روغبړ وروسته مې ورته وویل چې دلته دوه نفر ستاسي پوستې ته راغلل څو میاشتې مخکې یې زما څخه د شپې له خوا پیسې غلا کړې، اوس مې ولیدل او دادې تاسې ته مې خپل عرض وړاندې کړ.

د پوستې قومندان وویل چې شاهدان لرې چې ستا څخه یې غلا وکړه، ومې ویل چې شپه وه او دوی ټول ملګري وو، قومندان وویل چې که شاهدان لرې ښه خبره ده او که نه

وي او خپله خبره دي ثبوت نه کړه بیا به تاته هم جزا درکول کیږي، ځو نوري خبري یې هم دا ډول وکړي، چې هرڅوک راشي زما څخه غلاشوي او بیا شاهد هم نه شي حاضرولای، برو ګم شو.

زما بل ملګري وایې چې د خوشحال خان مېنې څخه ووتم او د سیلو پرسرک ودریدلم، غوښتل مې چې ده افغانانو ته ولاړشم، یو ټکسي موټر سراغونه روشانه کړل او زما لورته رانږدې شو، ودریدی، ویې ویل کجا میري، ومې ویل چې ښار میرم، ویې ویل بالاشو.

د ټکسي د شا دروازه چې مې خلاصوله قیدونه یې وهل شوي وو او نه خلاصیدله، مخکې یو نفر ناست وو، هغه وویل چې مخته راشه، شاته نفرمریض لري، همدلته زما سره کښېنه.

کله چې په مخکې چوکۍ کې کښېناستلم، داچې په کابل کې په مخکنۍ چوکۍ کې دوه نفره کښېنوي، نو هغه بل نفر چې ځوان وو او د غټ بدن لرونکی وو، زما پرغاړه یې خپل چپ لاس واړاوو، ویې ویل چې اجازه ده زه به لاس واړم، ځکه تنګ ناست یو دا ډول به لږ هوساکښېنو، موټرحرکت وکړ، دغه د مخکنۍ چوکۍ نفر وویل چې دروازه دي سمه نه ده بنده کړي، ماچې دروازه خلاصه کړه، البته سړی ښوري او د دروازي څخه مې نورهم ځان د هغه سپاري خواته راټول کړ. دروازه مې بیرته وتړله، د موټر چلوونکی هیڅ زموږ خواته نه کتل او نه یې خبري کولي، او دغه نفر چې په مخکې ناست دی، خپلي کیسي یې هم راسره کولي چې د هجرت وخت کې چیرته واست؟ د پېښور په کیسو یې یوځای زما ذهن مشغول کړ او د دروازي په خلاصولو او بندولو یې بل ځای زما ټوله توجه او پام اړولی وو، بل داچې دغه ځوان په پښتو خبري کولي او په زړه پوري جملي یې کارولي، بیا یې وویل چې دروازه سمه نه ده بنده، ما دروازه خلاصه کړه او نور هم دده لورته نږدې شوم، په کړس سره مې داځل دروازه بنده کړه، په دغه وخت کې د پولي تخنیک د هغې دروازي برابري ته ورسیدو چې د لویې جرګې د خیمې لاره ده.

کله چې د باغ بالا لوړځای ته ورسیدو هلته دغه پښتون ځوان پوښتنه وکړه چې ته چیرته ځې، ومې ویل چې ده افغانانو ته، هغه وویل چې موږ خو سرای شمالي ته ځو، ته دلته کښته شه او بل موټر ته وخیږه، د دې خبري سره سم د موټر چلوونکې بریک وواهه او ویې ویل چې پاین شو.

زما ملګری وایې چې زه پوه شوم چې غله دي، خو داچې ډیر وو، او بل پوهیدم چې د پولیسو سره لاس او اړیکې لري، که جنګ او جنجال کوم هم کومه ګټه نه کوي او یواځې داچې نور به هم خلک راپسې وخاندي، بل داچې خپل جیب هم راته معلوم وو چې چندان زیات دولت پکې نه وو.

په دې ډول یې زما څخه پیسې یوړي، هغه وایې چې کیدای شي په اول ځل چې ماته یې وویل چې دروازه سمه نه ده بنده، په هغه حالت کې یې زما د جیب څخه ټول شیان ایستلي وي، د شا چوکۍ کسانو ته یې ورکړي وی، هغوی پیسې ورڅخه جلاکړي وي او نور اسناد چې د بانک کارډ او ځیني نور کارډونه وو چې ددوی په درد یې نه خوړل بیرته یې دمخ په چوکۍ کې ناست غله ته ورکړي وي، دوهیم ځل چې بیا یې وویل چې دروازه خلاصه ده او ما خلاصه او بنده کړه، په دغه حالت کې به یې هغه زما کارډ او نور کاغذونه بیرته زما په جیب کې ایښي وي.

دغه ډول غلاوي ډیري د هغو کسانو څخه کوي چې د ولایتونو څخه کابل ته راځي، او هغه خواران چې ځینې یې په لومړي ځل کابل ته راځي د غلو په دغو چلونو نه پوهیږي، چې په ټکسي کې به ټول خپل سره ملګري غله یوځای وي او بیا به ورڅخه په لویه لاره کې پیسې وړي، او یا به په لاینې ټکسي کې ملګري غله ناست وي او دیوه نفر ځای به یې پري ایښي وي او دهغه څخه به پیسې غلاکوي.

دا ډول نور چلونه هم غله کوي چې په ترتیب سره به یې زه تاسي ته ورسوم، خو هیله مې داده چې زموږ هغه ورونه چې دغلو ددغه ډول کړنو سره مخ کیږي او یا خبریږي، هغه خپلو دوستانو او د کلیوالو ترغوږونو ورسوي، او که کله هم

ددوی دوست له ولایت او یا بل ځای څخه کابل ته راځي، هغه باید مخکې له دې چې په ټکسي کې سپور شي وپوهوي چې له جیبو سره پام کوه او د غلو ځیني چلونه ورته وښئي.

داچې له کابل څخه کندهار، هلمند او هرات ته ۳۰۳ بس موټران د شپې حرکت کوي نو ددغو سیمو ډیری کسان د شپې پر یوه نیمه او دوه بجې د کوربه له کور او یا هوټل څخه راوځي او تر کندهار اډې پورې ټکسي نیسي چې ډیری کسان له ورته پیښو سره مخ شوي او د ټکسي چلوونکي لخوا د مخکې جوړ شوي پلان له مخې غلو پیسې او قیمتي سامان لکه ساعت، قیمتي ګوتمۍ، او نور سامان چې په لاسي بکس کې ورسره وي ورڅخه وړي دي.

دا ډول د ورځې له خوا هم په ټکسي کې ډیر مسافر د غلو له خوا شکول شوي او دهغوی له جیبونو څخه پیسې، موبایل ټلیفون او دا رنګه د سامان څخه ډک بکسونه ورڅخه غلا شوي دي.

په ملي بس کې چې د سوارلیو ډیره ګڼه ګونه وي هم ورته ډول غلا کیږي، له ډیرو کسانو څخه موبایل غلا کیږي او کله کله یې جیب هم وهل کیږي.

که ستاسي هر دوست کابل ته راځي، ښه داده چې توصیه ورته وشي، چې که ټکسي نیسي نو د ټکسي له چلوونکي سره دې مخکې له مخکې خبره خلاصوي چې بل نفر ته به یې نه دروي او نه به بل نفر راخیږوي، د ټکسي چلوونکي ډیر وخت وایې چې خیر خو کرایه کمه راکړه زه به د شا چوکۍ کې نور سپاري هم راواخلم، چې غم په دغو د شاکسانو کې وي، او بیا یې په ګټه لوټي، په هیڅ ډول له خپل ملګري ماسیوا بل څوک په ټکسي کې مه درسره پریږدئ. کله کله د ټکسي چلوونکی یواځې وي په مخکې یې خپل ملګري غله کښینولي وي، که ستاسي دوست په دې پوه شي چې ټکسي لاره واړوله نو ښه داده چې ورڅخه کښته شي.

خپلو هغو ملګرو او دوستانو ته چې له اطراف څخه راځي او په ښارکې بلد نه وي او دښار د غلو په اړه معلومات ونه لري، هغوی دې هغه ټکسي ته نه خیږي چې نور کسان پکښې وي.

ملي بس ښه دی خو د خپل موبایل او جیب سره دې زیات پام کوي، که چوکۍ پیدا کړي او پکې کښیني ښه ده. تر ټولو په اوس وخت کې مصؤن ښاري موټر ټونس بللای شو، چې ډیري د غلا پیښې پکې نه کیږي، خو کله کله په ټونس موټر کې هم داسي پیښې کیږي، ولي ډیري لږ.

زما هدف ټول ټکسي چلوونکي نه دي، ډیرښه کسان په ټکسي چلوونکو کې شته چې دهمدې لارې څخه خپلو بچو ته حلاله روزي ګټي، خو دغو ځینو له الله نه نه ویریدونکو د ټکسي چلوونکو غلو ددوی ټولو رنګ وربد کړي، په کار ده چې ښه ټکسي چلوونکي هم دې ته متوجه شي او ددغه ډول ټکسي چلوونکو په مخنیوي که مرسته وکړي او د ټکسي د چلوونکو د



اتحادیې د لارې یې مخه ونیسي، ترڅو د وچو له کبله لاندې ونه سوځي، او که دغه ډول حالت دوام پیدا کړي نو خامخا به ددوی پر کاروبار منفي تأثیر اچوي.

زما وړاندیز دادی چې خپلو دوستانو ته چې کله کابل ته راځي او یا د شپې له خوا د بسونو اډو ته ځان رسوي، هغوی ته د غلو یاد شوي چلونه وښودل شي ترڅو تر اډې پورې مصؤن ورسیږي

له کیوبا راغلی، فاتح طالبه ستړی مشی

مولوی نذیر احمد اخندزاده

هغه الله جل جلاله لره دی حمد اوثنا وی چی دیوسفی مینی په ازموینی کی یی بری ستا په برخه اوسترویاړیی دروبښلو بی شمیره درود اوسلام په مدنی جانان هغه څوک چی په درجنودرجنو محبینو یی د سپڅلی مینی په ویاړ خپلی غوښی اوهډونه دباردو په انگار کباب کړی ځینو په مستی مستی خپل سرونه ترداره یووړل اوځنی نورویی د ریښتینی مینی په تورد کیوبا تربدنام اووحشی زندانه له درد ډک پړاوونه ووهل

د زړگی سره دوحشت څپوځپلی مجاهد ملگریه دامنم چی ډیری ستړیاوی اوله تحمل نه وتلی ستونزی شکنجی اوزحمتونه دی وگالل خوددی شکرهم اداکړه چی په دعوه کی ریښتینی او په سپڅلی مینه کی بریالی وختی

دصلیب په کرغیړن لاس ستاسو ترنیول کیدووروسته څه باندی یوه لسیزه ستاسونورورونه هم په ارام پاتی نشول هغوی هم دصلیب اودهغوی دغلامانو په لاس دباگرام پلچرخی خوست کندهاراو په لس گونو نورو زندانونو کی کلونه کلونه دریا په هیله دمظلومیت شپی صباکړی

خوستاسو کیسه نوی رنگ اوجداخوندلری اوافغان مسلمان مجاهد اولس ته یی نوی نوی زیری له ځانه سره راوړل اوهغه ځکه چه تاریخ ثابته کړی کله چی دکوم ظالم اوفرعونی طاقت دځپلو اودځمکی له مخه دتری تم کیدلوشیبی رانیزدی شی الله ج یی په کور دننه دیوچا مرسته کوی اودغه ظالم پری نابودوی موسی ع یی د فرعون په کوردننه له مرگ څخه وژغورلو همدغه فرعون یی پالنه کوله ټول ورځنی مصارف یی په غاړه اخستی اودژوندانه ټول ضروریات یی ورپوره کولاخرالامر الله ج موسی ع ته امروکړچی دفرعون مقابله وکړه اودفرعونی نظام په نابودولوکی یی دموسی ع مرسته وکړه

فرعون له خپل لښکراوجاسوسانو سره یوځای سرگردانه اولالهانده دموسی ع په وژلو پسی توره ترملا دمصرلویه ځمکه گزاوپل کړه خوموسی ع په ارامه فضاکی دفرعون په کوردننه دفرعونی نظام دنسکورولولاری چاری لټولی

نن هم صلبی ځواک په تاسواوستاسود سنگرپه ملگرو پسی په یوه گډاولوی اشرداټوله ځمکه گام په گام هغه ددوی په اصطلاح انچ په انچ ولټوله خودناصرالله ج فلان بل څاوهغه داچی تاسویی ترسترگولاندی دکیوباجزیره کی دیره وی اوددوی دلانوروځپلولپاره مونوی نوی تدبیرونه جوړول آن تردی چی دوخت دفرعون له کوره په راوتلوسره موسمد ستی دالله اکبرناروپه ویلوسره دوخت دظالم اومتکبرځواک سره دمقابلی اعلان وکړ دوهمه دپام وړاوپرزړه پوری خبره داده کچری موسی ع دفرعون په کورنوی دیره شوی نوحطمی خبره داوه چی دقبطیانو دلکونو ماشومانو په ډله کی به موسی ع هم دفرعونیانو په لاس وژل شوی ؤ

داچی الله ج یی دنجات اوساتلوفیصله کړی وه همدغه مهربان ذات دفرعون په کوردیره کړ مجاهده ملگریه کچری تاسو دغه دیارلس کاله دبندموده دکیوباله جیل نه بهرپه سنگرونو کی له خپلونوروزرگونو شهیدانو ملگروسره پاتی وای نودغه کبرجن دښمن موستا سوپه هکله ستاسو ترشهادت بل

هيڅ انتخاب نه درلود لوا وس مو هغه اتلان ترستر ګو کيږي چې مود يارلس کاله وړاندې د سنګرملګري ؤ که د شهادت په خوب ويده دی دخدای ج فيصله وه چې تاسو به د صبا ورځې دخدمت او صليبي ځواک د شکست لپاره دغه ټاکل شوی موده روغ سالم دظالم په کورساتنه کوی او يوه ورځ به مود حق او باطل ترمنځ دمقابلې ډګرته را اوباسي

ښه مې په ياد دی په کال ۱۳۹۱ه ل د کابل د بې واکه رژيم دمشر حامد کرزي لخوا څخه يو فرمان صادر شو چې د پل چرخي له زندان څخه دې هغه علما چه مدرسين دی ازاد کړای شي په ظاهر هخو دا فرمان په خوا خوږيناؤ مګر حقيقت دا و چې د کرزي د ټيم ملګرو شکايت کړی وو چې ملايانو په زندان کې د ننه د فقه عقايد واحاديثو کتابونه او د قران کريم تفسير او ترجمه شروع کړې دوی ډوډۍ زموږ خوری زموږ په بلاکونو کې او سيږي د برق او بو او د اسې نورو لګښتونو يې زموږ ملاوې ماتې کړې خو برعکس هغوی په زندان کې زموږ په وړاندې ويده خلک راويښوی هغه کسان چې پخوا تردې يې سم لمونځ لا نه وو زده اوس په هر څه پوهيږي کال په کال ورنه مولويان او قاريان جوړيږي چې له زندانه ترخلاصيدو وروسته سمدستي زموږ په مقابل کې د جهاد اعلان کوی اوس هغوی د عقيدې په لحاظ عيناً د طالبانو عقيده لري نو لازمه ده چې دغه مدرسين ملايان له محبسه اوباسو ترڅو دغه مدرسې هغه ددوی په ژبه د طالب جوړونې فابريکه وتړل شي

په رښتياهم په محبس کې د ننه همدا لړۍ روانه وه زه د شپږم بلاک دريم منزل په ګوشواره کې بندي وم د کرزي د مزدور رژيم د عسکرو لخوا يوزيات شمير مظلوم افغانان چې په هغو کې دوکانداران بزګران معلمان تجاران د ښوونځيو زده کوونکي او عام خلک شامل وو چې يو يې هم طالب يا مجاهد نه ؤ د هيواد له ګوټ ګوټ نه پدې ګناه ترزندانه راکشکړي وو چې تاسو له طالبانو سره پيژني يا موډوډۍ ورکړې يا ورسره خوا خوږي ياست يا مو دوستان او د قوم خلک طالبان دي


په محبس کې د ننه بندي علما کرامو د شفقت له مخې هغوی ته ديني زده کړې ورکولې چې د ظالم رژيم د دغه ظلم په بدل کې دغه مظلوم افغان بنديان له زندان نه ترراوتلو وروسته نيغ په نيغه د مجاهدينو ليکوته ورتلل او په عملي جهاد کې يې برخه اخسته

ظالم در فکر اين که با ما چه کند   ما در فکر اين که خدا چه کند

صليبيان او اجيرنوکران يې پدې فکر کوی چې له موږ سره څه وکړي په کوم چل فريب او نيرنګ موختم يا کم کړي خو موږ پدې فکر کوو چې د الله ج د تقدير فيصلې به څنګه او د چا په زيان د چا په ګټه وي

دادی اوس سرګنده شوه الله ج هغه څه وکړل چې صليب او زيره خور ويي هيڅ توقع نه درلود هوايي چې فلانی بدبخته له بازاره هيڅ طالع نلری صليبيان د انسانيت له دايرې وتلې هغوی لاتر اوسه هم غوښتل هر څه د زور ظلم انسان وژنې او وحشت له لارې لاسته راوړي ځکه هغوی په قوي اقتصاد پرمخ تللو وسلو ايټمي توغنديو عصري تکنالوژی باندې متکي وو مګر هې افسوس ددوی په حال چې داهر څه يې د ايماني پرمخ تللي وسلې په وړاندې ناکاره شول او د خپلو اسلافو په قدم يې قدم کيښود او دوی سختې مجبوري په اساس يې د شرم او خجالت څخه ډک شکست ته غاړه کيښوده چې لله الحمد د افغانستان پاکه او سپيڅلې خاوره ورځ تربلې ورځې ددوی له ناولو منګولو څخه ازاديږي اوس هغه شيبې رانيږدې شوې چې د نيا وال به د صليبيانو د تښتې روستۍ شيبې په ډراميزو چکچکو بدرګه کړي انشاالله تعالی په پای کې د کيوبا له زندان او د صليب له ناپاکو منګولو څخه د اسلامي امارت د پنځو تنو لوړ رتبه مشرانو د خلاصون په مناسبت عاليقدر اميرالمؤ منين په صليب ځپونکو سنګرو کې ديره مجاهدينو د اسلامي امارت نورو مخلصو مشرانو او ټول افغان مجاهد او لس ته د زړه له تله مبارکي وايم

د برونایئ هیوادا ودروژي بختوره میاشت !!



برونایئ (دارالسلام) چې دشرقي اسیاد الجزایر، فلیپین اواندونیزیا په منځ کې پروت هیواد اوجزیره ده دوسعت په لحاظ دنړئ دریمه لویه جزیره یادیږي ، الله تعالی نوموړی هیوادله قیمتي زخایرو ، تیلو اومعادنوڅخه مالامال پیداکړي له ۸۰ فیصده زیات یعني څه کم یومیلون مسلمانان پکې استوګنه لري، نوموړي هیوادته داسلام رڼایي په ۸۲۹ هجري قمري کال کې رسیدلي .

په دې سربیره چې برونایئ دنفوسو اومساحت له امله کوچنی هیوادبلل کیږي ، خودحکومت دپاملرنې له وجې دیني اقدار اورسومات پکې له ډیرواسلامي هیوادونوبیساري اودیادوړ دي ، چې ویل کیږي دبرونایئ دپاچاله لوري په وړوجوماتونوسربیره ۱۰۰ جامع جوماتونه جوړشوي چې په زرګونو تنه لمونځ کونکي پکې په اساني دالله عبادت کولای شي . دالحیات ، ورځپاڼې دراپورپه اساس ، دبرونایئ مسلمانان ډیرمتدین دي ، ښځې یې اسلامي حجاب اغوندي اواولادونه له کوچني والي په دیني روحیه لویوي اوروزي یې .

همدارنګه اسلامي حدودهلته نافذ دي که څوک ، غلا وکړي ، شراب وڅکي اویه زناولیدل شي دشریعت حکم پرې تطبقیږي ، که څه هم غربي نړې په دارالسلام کې داسلامي شریعت په نفاذ کلک غبرګونونه وښوده خو دبرونایئ پاچا (سلطان بولکیا) له خپل اقدام څخه کلکه دفاع وکړه اودشریعت تطبیق یې دانسانیت داصلاح اوپرمختګ مهم دلیل وباله.

ویل کیږي چې دسلطان بولکیا ، دولسمشرى اوسنی ماڼي چې ۱۰۰۰ اطاقه لري اوپه تزیئین کې له طلا څخه هم استفاده کړې ، درمضان المبارک دمیاشتې په راتګ له افطار ورسته ترپشلیمي پوري پکې دقرانکریم ختمونه ، تراویح اوتلاوتونه کیږي.

داسلام مقدس دین په ټولوتعلیمي اودولتي اداروکې په کامل ډول نافذ دي ، زکات له خلکو اخستل کیږي اوبیرته په فقیرانو تقسمیږي ، دارنګه که یوڅوک دلمانځه په ترک اویاشراب خورى اونورو نارواوو ګیرشي په دولتي ادارو کې ورته خاصه محکمه تاسیس شوي اودج رم مطابق سزا ودرته ټاکي .

لدې سره چې په نوموړي هیوادکې مسیحیان اوبودایان اوسي ،خو دهغواومسلمانانو ترمنځ تراوسه کومه داسي شخړه نده رامنځته شوي چې یادونه ورنه وشي ، تردې چې دروژي په میاشت کې مسیحیان درمضان ددرناوي اوله مسلمانانوسره دهمغږي په خاطر یوشمیر روژي هم نیسي ، چې همدغه لامل هم دمسیحیانو دمسلمانیدو سبب ګرځي اوداسلام دمقدس دین نجات بښونکي دین ته داخلیږي .

شاذلي حاج صالح، دبرونیئ دپولیسویو افسردی ، هغه وایی چې دروژي په میاشت کې ډیرئ مسیحیان اوبودایان داسلام دین ته مخ اړوي ، مونږ ته مراجعه کوي اوپه خپلو پیژندپاڼو کې دخپل دین نوم اسلام لیکي . دبرونیئ یوه مسلمانه میرمن ، حمیده دورمان ، وایي دهغې یوه مسیحي ملګرې وه چې څوکلونه یې له هغې سره ددوستي په نیت روژه نیوله ، چې بالاخره دروژي معنوي اثارو پرې ژوراغیزوشیندله اوداسلام مقدس دین باندي مشرفه وګرځیدله .

ایدی لیونګ، چې یومسیحي دی وایي هغه له مسلمانانوسره دیورنګي لپاره دروژي په میاشت ګڼي روژي نیسي او جالبه خبره داده چې هیڅ ډول تنده اولوږه نه محسوسوی .

د شهيد

مولوی نورقاسم "حـــــــيدري"

ژوند او کارنامو ته کتنه

عبدالرؤف "حکمت "

د ۱۳۹۳ هـ ش کال د حمل میاشتې په ۱۸ نیټه رسنیو خبر ورکړ ، چې دکونړ ولایت په شیګل ولسوالۍ کې دهمدې ولایت لپاره د طالبانو نظامي مسؤل /والي دامریکایي بې پیلوټه طیارې په برید کې په شهادت رسیدلی.

له معمول سره سم د مولوي نورقاسم حیدري صاحب د شهادت خبر د ورځنیو عادي خبرونو په حیث په مطبوعاتو کې بدرګه شو،خو ددې نومیالي مجاهد دشهادت خبر کوم عادي خبر نه و، په هماغه ورځ په حقیقت کې افغان مؤمن اولس خپل یو کمساری باتور بچی له کفر سره دمقابلې په جګړه کې له لاسه ورکړی و.

هو کې، مولوي نور قاسم هغه مجاهد و چې د رجالو دقحطۍ په دې زمانه کې یې نه یوازې په جهادي ډګر کې دیوه نه ماتیدونکي، زړور، مخلص او لارښود مجاهد په حیث دنده اجراء کوله بلکې د خپلو ملګرو مجاهدینو ترمنځ په محلي کچه د یوه رهنما په موقف کې وه، چې په شهادت یې ډیر زړونه ودردیدل .

راځئ یوه شیبه ددې نومیالي مجاهد په ژوندپیښو، کارنامو او شخصیتي ځانګړنو سره وغږیږو او د یاد په تازه کولو یې دهجران تنده ماته کړو .

پیدایښت او زدکړې

نورقاسم حیدري د حاجي محسن زوی په ۱۳۵۲ هجري شمسي کال د افغانستان د خوست ولایت دصبریو ولسوالۍ په نیکنام کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړولې .

نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د ماشومتوب په مهال په خپله سیمه کې د مسجد له ملاامام څخه ترسره کړې، د کمونیستي کودتا وروسته یې د هجرت په مهال د پاکستان په خیبر پښتونخوا کې په مختلفو مدارسو کې د دیني علم حصول ته دوام ورکړ .

په دې لړ کې نوموړي خپلې زده کړې په کوهاټ کې پیل کړې ورپسې یې د هنګو ولسوالۍ مربوط د درسمند سیمې رحمانیه مدرسه ، په میرانشاه کې منبع العلوم مدرسه ،د خوست منبع الجهاد مدرسه ،د وزیرستان دشوې سیمې ریاض العلوم مدرسه ، د هنګو دکاهي سیمې سراج الاسلام مدرسه او دافغانستان او پاکستان په ګڼو نورو مدارسو کې یې دیني زده کړو ته دوام ورکړ تردې چې له دیني علومو د فراغت سند یې په ۱۳۷۶ هـ ش کال د هنګو مربوط زرګري سیمه کې واقع په جامعة العلوم الاسلامیه مدرسه کې له مشهور استاد شیخ الحدیث بهرمند صاحب څخه ترلاسه کړ .

مولوي نورقاسم حیدري صاحب خپلو دیني زدکړو ته په داسې مهال ادامه ورکوله چې ورسره یې جهادي فعالیت هم نه هیراوو نوموړی به دکال په اوږدو کې څه موده په سنګر کې او څه موده په مدارسو کې و، له دیني علومو له فراغت وروسته یې څه موده دخوست ولایت د صبریو ولسوالۍ په مچۍ سیمه کې دشمس العلوم مدرسې دمهتمم او مدرس په حیث دنده اجراء کړه ددې مدرسې دبنست ډبره نوموړي په ۱۳۷۱ هـ ش کال کې ایښې وه چې تراوسه فعاله ده او دشهید حیدري صاحب دخیرجاري په حیث په کې طالب العلمان ددیني علومو زده کړې کوي .

د کمونیزم په خلاف جهاد

مولوي نورقاسم حیدري د صورت او سیرت په لحاظ د جهاد او مبارزاتي ژوند یو مجسم تصویر و، په نوموړي کې د اسلام د لارې د یوه سرسپارلي مجاهد ټول صفات موجود و، تا به ویل دغه انسان الله تعالی یوازې د خپل دین ددفاع او د کفر په مقابل کې دجنګیدلو لپاره خلق کړی دی، ځکه نوموړي خپل ټول ژوند جهاد ته وقف کړی و، خبرې، فکر او ټول کړه وړه یې د جهاد په اړه و، نوموړی په کشرتوب لا شوروي یرغلګرو او دهغوی له کمونیستي ګوډاګیانو سره وجنګېد، په تانده ځوانۍ کې یې د شر او فتنو په مقابل کې د جهاد سنګر وپاله او په نسبتا پاخه عمر کې یې دامریکایي طاغوت په مقابل کې د مسلح جهاد سنګر تر هغو تود وساته چې په همدې لاره کې یې د شهادت جام غړپ کړ.

د شهید حیدري د جهادي ژوند، اتلولیو او کارنامو داستان خورا اوږد دی چې دلته یې موږ په لنډو جهادي خدماتو ته اشاره کوو.

هغه مهال چې د شوروي اتحاد سرو لښکرو په افغانستان هجوم راوړی وو، او په زرګونو مسلح ځواکونه یې په خوست ولایت کې ځای په ځای کړي وو، هغه مهال چې خوست ولایت د اسلام او کمونیستي کفر ترمنځ د تودې معرکې په ډګر اوښتی وو، او د شوروي عسکرو د ډېرښت له امله یې د دوهم مسکو لقب ګټلی و، په همدغه وخت کې نورقاسم حیدري چې لا بیخي کم عمره وو دخوست ولایت په باک، علیشیرو، ځاځي میدان، یعقوبي، ژوره او توره غاړه سیمو کې یې د کمونیزم په خلاف په جهادي تعرضونو کې برخه واخیسته، نوموړی له کوچنیوالي د مرمیو له باران، د سکډ توغندیو له چاودنو او روسي مېګ او برګیو له بمبارونو سره بلد شو، دجګړو په لمبو او ماینونو په چاودنو کې رالوی شو، دخوست د بړې په ساحه کې زخمي شواو دالله تعالی په لاره کې د وینو دصدقې خوند یې وکوت، له کفري لښکرو سره دمخامخ جنګیدلو او د کمونیزم په پوستو د ورختلو هنر یې عملا تجربه کړ، د خوست په عظیمه فتحه کې یې د یوه تاند مجاهدپه حیث رول ولوباوو، دخوست له فتحې وروسته د کمونیزم د ټغر ټولولو په نیت له نورو مجاهدینو سره یوځای د پکتیا د مرکز ګردیز په خوا لاړ، په سټو کنډو، مچلغو او ګردیز ښار په شاوخوا نورو سیمو کې یې د کمونیستانو خلاف په سختو جګړو او تعرضونو کې برخه واخیسته او تر هغه یې جهاد ته ادامه ورکړه تر څو کمونیستي حکومت ونړېد.

د تنظیمي دورې په وروستیو کې چې د مولوي عبدالحکیم شرعي صاحب په مشرۍ په خوست ولایت کې دنظم راوستلو او فساد دمخنیوي لپاره کوم تشکیلات جوړ شول مولوي حیدري هم په کې ګډون وال و چې د خلکو دسر او مال د خوندي کولو لپاره یې ستر خدمتونه ترسره کړل.

د طالبانو په اسلامي تحریک کې خدمت

په ۱۳۷۳ هـ ل کال کې چې دطالبانو اسلامي تحریک په کندهار کې ظهور وکړ، مولوي نورقاسم حیدري چې دغه مهال یې په پاکستان کې دیني زده کړې کولې د خوست ولایت د یوشمیر طالبانو سره یوځای د بلوچستان له لارې کندهار ته لاړ او په هماغو ابتدائي شیبو کې له اسلامي تحریک سره ملګری شو، نوموړی د شهید ملا بورجان اخند، شهید ملا مشر او داسلامي تحریک د نورو مشرانو په ملګرتیا د غزني او میدان وردګو ولایت په تصفیه کې برخوال و، تر څو چې دطالبانو اسلامي تحریک تر خوست پورې ورسید، دغه وخت چې د طالبانو جنګي کرښه د کابل په چهار اسیاب کې وه مولوي نورقاسم د خوست ولایت د ۷۰ تنو طالبانو سره یوځای چهاراسیاب ته لاړ، دوی داسې مهال چهار اسیاب ته ورسیدل چې په همدې ورځو کې طالبانو د دهمزنګ او کارته سه په سیمو کې د حزب وحدت لخوا تخلیه کیدونکي سیمې نیولې، مولوي نورقاسم صاحب هم له خپلو ملګرو سره د کابل ښار په جنوب لویدیځ کې همدې سیمو ته داخل شو، وروسته چې په همدې سیمه کې مسعود ناڅاپه په طالبانو برید وکړ، د سختې جګړې په پایله کې مولوي نورقاسم صاحب هم زخمي شو،

د نوموړي دهمدې صحنې یو ملګری وایي: طالبانو او دمسعود کسانو چې تردې وړاندې یې جګړه نه وه سره کړې په ډېره نږدې فاصله کې اوسیدل، ماسپښین مهال مسعود ناڅاپه په طالبانو برید وکړ، همدلته جنګ ونښت، موږ د سرک په یوه غاړه وو او بلې غاړې ته په پنځه یا شپږ متره کې دمسعود وسلوال و، زه له لږ جګړې وروسته ټپي شوم، اومولوي حیدري ته مې وویل چې له دې ځایه باید ووځو، ده په اطمینان راته وویل ته یو پټ ځای کینه زه په دښمن ګوزارونه کوم تر څو د وتلو لار پیدا شي، له نوموړي سره راکټ لانچر وو په دښمن یې پرلپسې څو ګوزارونه وکړل، چې ددښمن ګڼ کسان په کې له منځه لاړل، دهمدې جګړې په مهال یوه ملګري په مولوي حیدري باندې غږ وکړ چې په نږدې ودانۍ کې ددښمن کسان دي چې هشتادودو ورسره دي، تاسو سر مه پورته کوئ هسې نه زیان درته ورسیږي، مولوي حیدري راکټ ته مرمۍ واچوله او ویل یې چې وار به پرې مخکې کړم، خو چې کله یې د فیر لپاره سر ورهسک کړ مخکې له دې چې دراکټ فیر پرې وکړي له مقابل جانب څخه

د هشتادو فیر وشو، چې ددرانه انفجار په نتیجه کې مولوي حیدري په سر باندې په پرخچو ولګید او ځای په ځای بې هوشه شو.

کله چې راپه هوښ شو نو سره له دې چې سخت زخمي و بیا یې هم له مورږ سره دچهاراسیاب په خوا تګ ته ادامه ورکړه همدغه مهال طالبان د کابل له غرب څخه بیرته د وتلو په حال کې و، مورږ چهاراسیاب ته راغلو او څرنګه چې مولوي صاحب سخت زخمي وو د شپې مو خوست ته ورساوو، د خوست په روغتون کې ډاکټرانو چې ایکسري واخیستې او دده د سر ټپ یې ولید نو حیران شول چې څرنګه ژوندی پاته دی ځکه دده د سرهډوکي مات وا و پرخچې یې په دماغو کې ښخې وې، ډاکټرانو وویل چې ددې علاج زمورږ د وس کار نه دی او دژوند یې هم لږ احتمال شته، د ډاکټرانو د جواب نه وروسته مورږ پیښور ته ورسولو، خو هلته هم چې ډاکټران ددماغو ټپ ولید نو له عملیاتو یې انکار وکړ، ډاکټرانو وویل چې دده ټپ ډیرحساس دی که عملیات یې وشي ژوند به له لاسه ورکړي ښه داده چې کور ته یې ورسوئ ترڅو له خپلو خپلوانو سره وروستۍ دژوند شپې تیرې کړي، ډاکټرانو ویل چې ددوی سخت ټپ سره سره مورږ حیران یو چې څرنګه ژوندی پاته دی او په خپلو پښو ګرځي، دوی ویل چې دا یوازې ددې مجاهد کرامت کیدلای شي او بس.

کله چې مولوي حیدري ته د ډاکټرانو د ځواب خبره ورسیده ده داآیت ووایه : اذا جاء اجلهم لایستأخرون ساعة ولا یستقدمون . یعني مرګ په خپل وخت دی او هیڅکله مخکې یا وروسته کیدلای نه شي.

په پیښور کې د ډاکټرانو له ځواب وروسته نوموړی ملګرو بیرته خوست ته راوستلو خو خپل کور ته تر رسولو وړاندې یې په خوست کې د بادشاه زار په نوم ډاکټر ته وروستلو ترڅو یې دخپل وس مطابق علاج وکړي، دې ډاکټر وویل چې د مولوي صاحب زخم ډیر ژور او حساس دی عملیات یې خطرناک دي چې به عملیاتو کې یې یوازې لس فیصده د ژوندي پاته کیدلو احتمال شته، زه یې په دې شرط عملیات کوم چې له کورنۍ او ملګرو څخه یې داجازې لاسلیک راته راوړئ، د ملګرو له مشورې وروسته نوموړي ته همدا لاسلیکونه راوړل شول، او نوموړي دمولوي صاحب د سر زخم عملیات کړ، د ډاکټر دعملیاتو له پیل سره یوځای دمولوي صاحب ملګرو د سورة یس ختم او مأثورې دعاګانې پیل کړې، لږ شیبه وروسته ډاکټر زیری راووړ چې دمولوي صاحب عملیات کامیاب شول او له اعصابو څخه یې هډوکي راوایستل شول .

دهمدې عملیاتو په نتیجه کې دمولوي صاحب د سرزخم یو مخ ښه شو، خوډاکټر ورته سپارښتنه کړې وه چې تر ډیر وخت پورې به په جنګ کې شرکت نه کوي او نه به په راکټ لانچر باندې فیر کوي ، خو دمولوي صاحب د جهاد جذبه خورا غالبه وه تردې چې له صحت یابۍ وروسته بیا داسلامي امارت جهادي لیکو ته لاړ او دامریکایي یرغل ترمهاله یې بیا بیا په جهادي تعرضونو کې شرکت وکړ نوموړی د چاریکارو په جنګ کې یوځل بیا زخمي شو او تر هغه وخته یې د شراو فساد په مقابل کې جهاد ته ادامه ورکړه چې امریکایانو په افغانستان یرغل وکړ .

دامریکایانو په خلاف جهاد

په افغانستان د امریکایانوله یرغل وروسته مولوي صاحب نورقاسم له مقدمو مجاهدینو څخه و چې دخوست په ولایت کې یې دامریکایانو په خلاف مسلح جهاد پیل کړ ،د نوموړي دمدبرانه مشرۍ له برکته د خوست ولایت د صبریو ولسوالي په همدې سیمه کې دجهاد په یوه نه ماتیدونکی سنګر واوښتله، او امریکایانو په کې سخت تلفات ولیدل، سره له دې چې امریکایانو په دې سیمه کې خورا سخت ظلمونه او وحشتونه ترسره کړل، د صبریو او خوست د نورو سیمو په زرګونو خلک یې بندیان او شهیدان کړل خو بیا یې هم په اولس کې دجهاد جذبه ونه وژله .

مولوي نورقاسم صاحب چې څه موده د خوست په صبریو ولسوالۍ کې د جهادي چارو مشر او وروسته ډیره موده د خوست ولایت عمومي جهادي مسؤل/ والي و په دې ولایت کې ستر جهادي خدمتونه سرته ورسول.

نوموړي چې خپله یې په جهادي عملیاتو کې شرکت کاوو او دعملیاتو قومنده به یې په غاړه وه د خوست ځلور ولسوالۍ باک ، علیشیر ،صبري او قلندر ولسوالۍ دغه راز دپکتیا مربوط جاني خیل ولسوالي یې په مکرر ډول فتحه کړې، دخوست په لراوبر کې ددښمن ډیرې پوستې یې هم بیا بیا فتحه کړې چې ددې عملیاتو په ترڅ کې یې نه یوازې دښمن ته درانه تلفات واړول بلکې بیا بیا یې لوی مقدار غنایم هم ونیول.

په خوست کې یوه سخته جګړه چې نوموړی په کې زخمي شو، دخوست په علیشیرو ولسوالۍ عملیات و،ددې عملیاتو په نتیجه کې نوموړي ددښمن ګڼې دفاعي پوستې فتحه کړې او دولسوالۍ مرکز ته ورسیدل، خو کله یې چې د ولسوالۍ په مرکز برید وکړ د مجاهدینو مهمات کم شول ، همدغه مهال دنوموړي همسنګر او تکړه مجاهد د کابل اوسیدونکی ملا مصطفی په شهادت

ورسيد، مولوي حيدري ملګرو ته وويل چې د مهماتو دنشتوالي له امله بايد عقب نشيني وکړي او شهيد له ځان سره واخلي د عقب نشينۍ په مهال په مجاهدينو امريکايي الوتکو بمبار وکړ چې د مولوي حيدري ګڼ تکړه مجاهد ملګري په کي شهيدان شول او خپله هم سخت ټپي شو، دا ځل هم د نوموړي ټپونو خورا سخت و او ډاکټرانو ويل چي ښايي د نوموړي بدن فلج شي، خوالله تعالی د ډاکټرانو د باور خلاف نوموړي ته يوځل بيا صحت ورکړ، له همدې زخمونو څخه له جوړيدلو وروسته مولوي صاحب له خپلو ملګرو سره يوځل بيا ددښمن په محاصره کې واقع شو، چې ټوله شپه له دښمن سره وجنګيد، په دې جګړه کې نوموړی يوځل بيا په سرباندې دوه مرمۍ ولګيد، خو دا چې الله تعالی د خپل دين دخدمت لپاره ورباندې ژوند لورولی و له سختو ټپونو سره سره بيا هم ژوندی پاته شو.

په خوست ولايت کې د نوموړي وروستي دوه ستر عمليات چې خپله يي مشري او ترتيب په غاړه و يوځل د خوست په خلبيسات سيمه کې دامريکايانو په ستره قرارګاه باندې لومړني فدايي عمليات و، چې پلان او نقشه يي مولوي صاحب جوړه کړې وه په دې عملياتو کې فدايان په لومړي ځل دامريکايانو په اډه ورننوتل، امريکايان يي سخت وځپل او د باوري سرچينو په استناد په دې عملياتو کې تر سلو ډير امريکايي عسکر مړه او ټپيان شول.

له همدې عملياتو وروسته په ۲۰۰٦ م کال کې د مولوي صاحب په مشرۍ دخوست ولايت په دريو ولسواليو صبريو، باک او عليشيرو باندې په هم مهاله توګه ستر عمليات پيل شول چې دښمن ته په کې درانه تلفات واوښتل، ددې عملياتو په مهال مولوي حيدري صاحب چې دخلبيسات په سيمه کي ددښمن په پوستو په عملياتو کې برخوال و، يوځل بيا ټپي شو چې دا په جهادي ژوند کې دنوموړي شپږم ځل ټپي کيدل و، خو په دې ځل هم الله تعالی دتيرو ځلونو غوندې کامله شفاء ورته نصيب کړه.

د کونړ ولايت د مسؤل په حيث

د ۲۰۱۲ ميلادي کال په لومړيو کې شهيد مولوي نورقاسم د اسلامي امارت د مشرتابه په فرمان د کونړ ولايت د جهادي مسؤل په حيث وټاکل شو، نوموړی له ټاکل کيدو وروسته له خوست څخه کونړ ته لاړ او په جهادي صحنه کې يي عملا د جهادي صفوفو په تنظيم او ابتکاري برنامو په تعميل پيل وکړ، په کونړ کې دغه مهال يو ستر شکايت ددښمن له جاسوسانو څخه موجود و، مولوي صاحب په ټولو ولسواليو کي د ځانګړو خفيه ګروپونو په ګمارلو سره وتوانيد چې ددشمن ډير جاسوسان تشخيص او بيايي له مينځه يوسي، په دې سربيره نوموړي د جهادي تهاجمي عملياتو لپاره نوې طرحې وړاندې کړې چې په ډيری سيمو کې يي ښې نتيجې درلودې، په دې لړ کې د کونړ په مروره، دانګام، اسمار، غازي اباد، ماڼوګي او ناړۍ ولسواليو کې ددښمن ۱۴ پوستې دمجاهدينو په عملياتو کې فتحه شوې دښمن ته په کې درانه تلفات ورسيدل او مجاهدينو ډيرې وسلې او مهمات غنيمت کړل.

د مولوي صاحب د جهادي پلانونو په نتيجه کې په ناړۍ کې دانچه ګل په نامه ددشمن مهم مرکز چې تر ۴۰ پورې ددښمن ځواکونه په کې موجود وو فتحه شو، د کونړ په دانګام کې دښمن نيت درلود تر څو دلته يو قوي مرکزي بيس جوړ کړي، خو کله چې مولوي صاحب ددښمن له دې پلان څخه خبر شو په متقابلو عملياتو او بريدونو سره يي ددښمن د دپلان د عملي کيدو مخه ونيوله او دښمن ونه توانيد چې دلته خپل اهداف ترلاسه کړي.

په کونړ کې دمولوي حيدري صاحب د مسؤليت په مهال يوه بله مهمه بريا د ۱۳۹۲ هـ ش کال د کب مياشتې په څلورمه د غازي اباد په ولسوالۍ کې ترلاسه شوه په همدې نيټه مجاهدينو ديوه دقيق پلان له مخې د مزدورې اردو په يوه قرارګاه بريد وکړ چې په نتيجه کي يي ددښمن شاوخوا ۲۵ تنه عسکر ووژل شول او ٦ تنه نور مجاهدينو ژوندي ونيول بايد وويل شي چې په دې فتحه کې اساسي کردار د هغو نفوذي مجاهدينو و چې له مجاهدينو سره يي تماس درلود او مجاهدينو ته يي د دې بيس په اړه پوره معلومات ورکړي وو.

په کونړ ولايت کې دمولوي نورقاسم بله کارنامه د خپلسريو له منځه وړل او په جهادي صفوفو کې همآهنګي رامنځته کول و نوموړي په دې لاره کې خورا ستر خدمات سرته ورسول او د ډيرو ناخوالو مخه يي ونيوله.

هغه غوليدلي افغانان چې ددښمن په ملکي او نظامي اداراتو کې يي وظايف اجراء کول مولوي صاحب ټولو ته دعوت ورکړ او حتی خطونه يي ورته واستول تر څو له دې کار څخه لاس واخلي په دې لړ کې په سلګونو کسان د ډاډ له حاصلولو وروسته ددښمن له ليکو راووتل او خپل عادي ژوند ته ستانه شول، دمولوي نورقاسم صاحب د مسؤليت په مهال په کونړ ولايت کې د دعوت والارشاد / جلب او جذب پروسه په خورا برياليتوب سره روانه وه، په دې لړ کې يوازې د کونړ په شيګل ولسوالۍ کې ۱۲٦ تنه هغه کسان چې پخوا يي ددښمن په صف کې دنده اجراء کوله مجاهدينو ته تسليم شول او له دښمنۍ څخه يي لاس واخيست.

د ولسمشرۍ د وروستیو انتخاباتو په لومړي پړاو کې مولوي صاحب نورقاسم د لومړني مسؤل په حیث خپله په صحنه کې و نوموړي له انتخاباتو لس ورځې وړاندې د کونړ ولایت مختلیفوسیموته سفر وکړ ترڅو ددښمن دغه پروسه شنډه کړي نوموړي په درست کونړ کې د انتخاباتو د شنډولو لپاره یو مؤثر پروګرام جوړ کړ، ټولو مجاهدینو ته یې قومنده ورکړه چې د انتخاباتو په ورځ د سهار له پنځو بجو څخه ددښمن په مراکزو، پوستو، د ولسوالیو په مراکزو او نورو دولتي اماکنو باندې بریدونه پیل کړي، ددې عملیاتو په لړ کې د ورځې په اوږدو کې په کونړ ولایت کې مجاهدینو ۷۰ لوی او واړه بریدونه په دښمن ترسره کړل، چې په نتیجه کې یې ددښمن ۸۸ تنه عسکر، اربکیان او منسوبین له منځه لاړل او ګڼ نور ټپیان شول او په دې توګه په دې ولایت کې دانتخاباتو غربي منحوسه پروسه په بشپړه توګه شنډه شوه .

د مولوي نورقاسم شهادت

د ۱۳۹۳ هـ ش کال د دحمل د میاشتې په اتلسمه نېټه مولوي نورقاسم حیدري چې له خپلو څو تنو ملګرو سره د کونړ د شیګل ولسوالۍ په مربوطاتو کې روان و او نیت یې وو چې د کونړ ولایت له نورو جبهاتو څخه لیدنه کتنه وکړي، ناڅاپه دامریکایي بې پیلوټه الوتکې تربریدلاندې راغی چې په نتیجه کې یې مولوي نورقاسم حیدري له خپلو دریو تنو مجاهدو ملګرو مولوي عبدالکریم جانباز، منصور او حمیدالله سره یوځای د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

مولوي صاحب نورقاسم خپل همیشني ارمان ته وصل شو او د شهادت په ابدي سفر لاړ او ترشا یې شپږ اولادونه ۳ زامن او ۳ لوڼې پریښول . رحمه الله تعالی

خاطرې او د شخصیت ځانګړنې

د شهید مولوي نورقاسم یو ملګری مولوي احرار وایي : له امریکایانو څخه د هجرت د ژوند په مهال زه او مولوي صاحب حیدري په یو کور کې اوسیدلو، چې هغه کور په دوو برخو مشتمل وو، په یو حصه کې یې زه اوسیدم او په بله کې یې حیدري صاحب اوسیدلو، یوه ورځ حیدري صاحب په جهادي سفر ولاړ، دراستنیدو پر مهال په لاره کې دمنافقانو تر برید لاندې راغی چې حیدري صاحب په سر دستر ګو د کونجو په هډوکو ټپونه وخوړل، خو الله جل جلاله یې ستر ګې له ړندیدو وساتلې، او په همدې سفر کې یې چیرته په یوه روغتون کې دیوڅه مودې درملنې لاندې وو، کله چې کور ته راستون شو، زه له دې ناخبره وم چې حیدري صاحب ته مشکل پیښ شوي دي،هسې د پوښتنې په نیت مې د کور دروازه وروټکوله مولوي حیدري صاحب په دروازه کې سر رابهر کړ ګورم چې ډیر سخت ټپي ده، ما ورته وویل چې داولې؟ ده کیسه راته وکړله، چې په لار کې دمنافقینو لخوا ټپي شوم، اوس دمجلس طاقت نلرم، ما ورته وویل چې ځه ولاړ شه آرام وکړه، ځکه ډیر زیات په تکلیف وو، په لمانځه کې یې دسجدې داداء کولو توان او طاقت نلرلو، کله چې راتلونکي شپه تیره شوه، نو سهار مې پوښتنه پرې وکړه، چې اوس به څنګه وي دروازه مې ووهله چې کله بیرون راووتلو ماترې وپوښتل چې څنګه یې؟ ده په ځواب کې راته وویل : چې نن جوړیم، او راته ویې ویل چې بیګا شپه مې خوب ولیدلو چې مفتي محمد فرید رحمه الله (د دارالعلوم حقانیه مفتي او شیخ الحدیث)په خوب کې راغلو، او راته ویې ویل : چې صبا به جوړ یې، دحیدري صاحب په وینا چې سهار له خوبه راپاڅیدم چې کله په لمانځه ودریدلم بس جوړ تیار وم سجده مې هم وکړله، او پخوا مې سجده نشوای کولای، هیره دې نه وي، چې حیدري صاحب دمفتي محمد فرید رحمه الله مرید او مسترشد وو، او دطریقت تر شپږم سبق پورې وظائف یې سرته رسولي وو .

د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال د ریاست الوزراء مرستیال او ختیځ زون تنظیمه رئیس مولوي عبدالکبیر صاحب وایي :

مولوي نورقاسم زړور او متواضع شخص و، د خوست په سطحه له مقدمو مجاهدینو څخه حسابیږي چې نه یوازې په خپله سیمه صبریو کې ستر جهادي خدمتونه وکړل بلکې په درست خوست ولایت کې یې د جهاد په پراختیا کې ستر رول درلود، په کونړ ولایت کې دمسؤلیت په مهال هم مجاهدین ترېنه خوشاله و، نوموړی د کافر په مقابل کې سخت او نه ماتیدونکی او دمسلمان په مقابل کې متواضع و، دمشر لپاره مناسبه وي چې په سخته مرحله کې خپله ځان مقاومت ته وړاندې کړي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د حنین په غزا کې په سخته مرحله کې مستقیم پاته شو، ټول صحابه په شا لاړل خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ځان قربانۍ ته وړاندې او ثابت پاته شو، په مولوي نور قاسم صاحب کې همدا دایثار او فداکارۍ صفت موجود و .

د خوست ولایت اوسیدونکی شیخ الحدیث مولوي افضل حسین صاحب د مولوي صاحب په اړه دوه لیدلي خوبونه داسې بیانوي : یوځل مې لیدل چې له مولویصاحب نه شاوخوا ډیر زمریان تاو وي ټول دده پیره کوي مولوي صاحب

له یوه زمري سره پنجه اچولي خو دزمري پنجه ترې لاندې وي او داسې ښکاري چې زمری ورته تسلیم وي.

دوهم دا چې په خوب کې ګورم چې یو صندوق وي دمولوي صاحب یو مخالف دښمن یې دخلاصولو هڅه کوي نو څوک په خوب کې ورته وایې چې دا دنبي کریم صلی الله علیه وسلم له طرفه محترم مولوي صاحب ته تحفه ده بل چاته یې دخلاصولو اجازه نشته.

یو بل ملګری چې بیخي یې مولویصاحب لیدلی نه وو، کله یې چې د کونړ ولایت په وروستۍ نشر شوې ویډیو کې مولوی صاحب ولیدلو نو له یوه بل ملګري څخه یې وپوښتل چې دا څوک ده چې غبرګې هغه ورته وویل چې دا مولوي نورقاسم نومیږي په قوم صبري د خوست او سیدونکی دی او اوس دکونړ ولایت جهادي مسؤول دی، هغه ورته وویل: چې قسم بالله څه وخت مخکې مې همدغه سړی له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په خوب کې څنګ په څنګ لیدلی وو.

د مولوي صاحب اقتصادي ژوند درست عمر د فقر او غربت ژوند و، دبیت المال له پیسو سره یې سخت احتیاط کاوو، مولوي احرار وایې کله چې دامریکایانود یرغل په اوائلو کې مولوي صاحب هجرت ته اړ شو نو د هجرت په ژوند کې یې په یوه داسې خونه کې اړولي وو چې بیخي داوسیدو قابله نه وه، په همدې وخت کې به یې د ډوډۍ پخولو لپاره په خپله شاله غره څخه د مزرو او کیکرو ګیډۍ راوړلې، او کله به چې ځینې مجاهدین ملګري ورسره میلمانه شول، نو په کور کې یې یوازې یو چاینک وو چې په هغه کې به یې چای جوشاوو هم او میلمنو ته به یې هم پکې راووړ، نو کله به چې چای ختم شو چینک به یې کورته یووړ بیا به یې چای جوشولو او میلمنوته به یې راوړلو، هغه مهال چې مولویصاحب دخوست ولایت جهادي مسؤلیت په غاړه درلود بیا یې هم په خپله له غره څخه خس راوړل.

مولوي صاحب ظاهرا غریبانه او فقیرانه ژوند درلود خو نوموړي دایمان په پانګه غني او الله تعالی ورته لوی جرأت او اخلاص ورکړی و، مولوي احرار وایي: یو ځل دیو موټر بم جوړولو لپاره د څلور ټنه باروتو جوړولو او انتقالولو کار وو ملګري ډیر وو خو شهید مولویصاحب په خپله په کار مصروف و، ملګرو ډیر اصرار پرې وکړ چې ته کار مه کوه موږ ډیر یو، یوه سرګروپ ورته وویل چې هر څومره ملګري دې پکار وي د کار لپاره له ما یې واخله خو ته کار مه کوه، شهید حیدري صاحب ورته په ځواب کې وویل: چې زه هم دثواب دحصول لپاره راغلی یم، آخر هغه دلګۍ مشر هم له محترم مولویصاحب سره په کارپیل وکړ.

مولوي احرار د شهید حیدري صاحب د جهادي تاکتیکي بریدونو په اړه وایي: دمحترم مولوي صاحب په قیادت کې یو ځل مجاهدینو دخوست ولایت صبري ولسوالی کې یو کور څو ورځې موقتا داسې معرفي کړ لکه د مجاهدینو مرکز چې وي، یو موټر بم یې جوړ کړ، او دهمدې کور په منځ کې یې ودرولو، او اطاقونو ته یې ګڼ شمیر بوټونو چپلکې او څپلۍ کیښودلې او یو فدایې ملګری دننه په اطاق کې ناست و، چې د موټر بم شارټې مزی ورسره و، دشپې چې کله په دوو درو چورلکو کې امریکایان د چاپې لپاره راغلل اوټول کور ته داخل شول چیغې یې وهلې چې تسلیم شئ وسله پر زمکه کیږدئ، په دغه وخت کې استشهادي مجاهد موټر بم ته انفجار ورکړ، چې په لسهاوو امریکایې عسکر پکې مړه او ټپیان شول وروسته نور امریکایان ددغو مړو او ټپیانو دانتقالولو لپاره راغلل ملګرو له وړاندې له کور نه دماینونو حلقه تاو کړې او ټول یې په داسې ترتیب برابر کړي وو چې یوځای انفجار وکړي، کله چې امریکایان دمړو او ټپیانو په پورته کولو بوخت شول دملګرو له لوري ماینونو ته انفجار ورکړل شو چې په دې کې هم ښه پریمانه امریکایان مردار شول، دعیني شاهدانو په وینا په دغو کامیابو عملیاتو کې دامریکایانو مړه او زخمیان له سلو اوښتي وو.

د مولوي نور قاسم صاحب د جهادي ژوند خاطرې او کارنامې خورا ډیرې دي، چې د ټولو یادول ددې لیکنې د توان خبره نه ده، الله تعالی ته سوال کوو چې ددې رښتیني مجاهد او دحق سنګر د رښتیني ساتونکي قرباني او خدمات په خپل دربار کې قبول کړي او برکات یې په کونړ او ملګرو جاري ولري.

آمین یا رب العلمین

۲۰/۸/۱۴۳۵ هـ ق

انتـــخابـــات !؟؟

هم ناندریز ،هم فرمایشي او هم یې عبدالله نه مني!!

شاهد

کابل کې دولسمشریزوانتخاباتو

تـر غولـونکې نامـه لانـدې غـرب ماډلـه وزلوبـه نـوره داسـې مرحلې تـه رسـیدلې ،چې پـه اصطلاح نړیـوال دیموکراتیـک اعتبار یې هم تر پښنو لاندې شوی او د (ډېل عبدالله) غونډې سر زورې او بـدمعاش کاندیـدان یـې هـم پـایلې نـه منـي ،(ډېـل عبدالله)چې دګلا آغا شیرزي غونـډې بـد نـام ټـوپـک سـالاران ورسره ددې ډرامې په دوهم پړاوکې یو ځای شوي ،په ځغرده تر هغې وروسته چې خپلو امریکایي بادارانو یـې ننګـه ونکـړه او دده پر ځای یې دګلم جم ملیشودسر لارې دوستم او نـورو کمـو نستو او شیعه بانډونو لـه ائتلافي مشر(اشـرف غنـي احمـدزي)ملاوتړله، دانتخاباتو په باب خپله نهیلې وښوده ،پلویانونو یې دپریکـون مارشـونه وکـړل او ده خپلـه دجـون پـه نهـه ویشـتمه وویل چې نـور نـه کابـل کـې دانتخابـاتي کمیسـون پـه رسمیت پیژني او نه دشکایتونو کمیټې ،په یوه تازه خبر کې چې همدا نـن نړیوالو رسنیو خپور کړ ،نوموړې داسې وویل چې :

د ټاکنو کمېسیونونو پرېکړې نه منو"

دغه ټیم وېلـي چې د راتلـونکي عواقبـو، چـې هـر څـه وي، مسولیت به د ولسمشر او د ټاکنو کمېسیونو پر غاړه وي.

د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو یو نوماند عبدالله عبدالله ډلـې ویلـي دي چـې سـرله ننـه د ټـاکنو او د ټـاکنیزو شـکاېتونو کمېسیونونه په رسمیت نه پیژني او د دوی پرېکړې نه مني.

د عبدالله ډلې د خپلې دغې پرېکړې دلیـل دا وبالـه چې ګـــواکې د ټــاکنو کمېســـیون د دوی غوښتنې رد کړي دي.د عبدالله د ټاکنیز ټـیم مشـر ، نصـرالله بریـالی ارسـلایي نـن کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل چې د ټاکنو کمېسیون دوی تـه پـه یـوه ورلېـږل شوي لیک کې ددوی ټولې غوښتنې رد کـړې دي. دغــه خبـره ترهغـه یـوه ورځ وروسـته را مختـه کېږي چې د ټـاکنو کمېسیون وویـل، د عبـدالله عبـدالله درې سـره غوښـتنې یـې پرځـای کړي دي.

د ټاکنو کمېسیون همـداراز زیاتـه کـړه چـې د ټـاکنولـه بهیـر سره د عبدالله د نه همکارۍ په برخه کې ده ته بله کومه پلمـه نـه ده پاتې.

عبدالله نژدې لس ورځې مخکې د ولسمشریزو ټاکنو په دویم پـړاو کـې د هغـه پـه وینـا د (پـراخ او سـازمان شـوي) درغلیـو پـه اعتراض د ټاکنو کمېسیون سره خپلې اړیکې ځنډولې وې.

هغـه د ټـاکنو د کمیسیون د دارالانشـاء پخـواني مشـر ضـیاء الحق امرخېل له دنـدې د ګوښـه کولـو او پـه دویـم پـړاو ټـاکنو کـې د خلکو د ګډون د کچې په اړه د توضیحاتو او اسنادو غوښـتنې کـړې وې.

نوموړي همداراز په هغو ولایاتونو کې چې د ده په وینا پـه کـې د ګډون کچه د وګړو د اندازې په پرتله غیـر منطقـي وه د بیـا ټـاکنو غوښتنه کړې وه .

ښاغلي امرخیل بیا څو ورځې وروسته له خپلې دنـدې استعفا وکړه خو ویې وېل چې پر خپل ځان پـورې شـوي تورونـه نـه مني او یوازې د ټاکنو د روان کړکېچ هوارولو لپاره خپله دنده پرېږدي.

پـه همـدې حـال کـې د ټـاکنو کمېسـیون وېلـي دي چـې د راتلـونکې چهارشـنبې پـه ورځ (د جـولای دویمـه) بـه د ټـاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړي....

دکابل وارداتي ديموکراسۍ ته دشرم او پيغور خبره داده !!

چې پخپله په دومره لويه امريکا کې چې (۵۲)دومره غټ ايالتونه لري چې نږدې هر يوه يې يو هيواد دی ،خو هلته چې ټاکنې کيږي ،صرف دوه ګوندونه (ديموکراتان او جمهوريت غوښتونکي)او دوه کانديدان (اوباما او جان مکين)يکې دواک سيالي کوي ،خو دافغانستان غوندې يو کوچنی هيواد، چې دځمکې او نفوس له حيثه له خپلو ګاونډيانو څخه هم کم دی، او عام خلک يې داسې سپين زړې مسلمانان دي ،چې دخپل زعامت دټاکلو لپاره داسې غربي وارداتي او اجنبي لوبه هم نا مشروع او غلامي بولي، خو بيا هم يکې لسګونه ګوندونه او لسګونه په اصطلاح کانديدان ټاکنيزې سيالۍ کوي،چې پخپله امريکايان يا ددې اجنبي لوبې صادرونکې تيورسنان به هم څومره دافغانستان داسې سياسي لوبه مسخره آميزه اوخندنۍ بولې او څومره به يې افغان غيرتي قام په ذهنيتونو کې ناپوهه او بې سياسته معلوم شوی وي !! خوحقيقت کې په ټوليز ډول د داسې ملامتيو پېړه دکابل په اوسنيو زمدارانو او ګوډاګيانو اچول کيږي او داسې بدنامۍ ددوئ دغلطو سياستونو پايله بريښي .

پداسې حال کې دشمال دبدنامې ټلوالې مکاراو مخکښ (عبدالله خان) دټاکنودکميسون او ددې کميسون پريکړې په رسميت نه پيژني ، دکابل دارګ واکمن (حامد کرزي)د(ډبل عبد الله) په ټپونو نورې مالګې هم وشيندلې اوهمدا دجون په (۲۹)۲۰۱۴ رسنيو کې خپاره شول، چې دکابل دارګ واک به په اصطلاح نوې ولسمشرته د واړه اختر په پنځمه وسپاري، چې دارګ په خبرپاڼه کې رسنيوته دخپاروې لپاره داسې جملې په واک کې ورکړل شوي :

واک دا اختر پر پنځمه نوي ولسمشر ته سپارم"

ټاکل شوې ده د سرطان پر ۳۱مه دغلامې ادارې دفرمايشي د ټاکنو وروستۍ پايلې اعلان شي

حامد کرزي ويلي د دموکراسۍ پلې کېدو په لار کې به هېڅ راز هڅې و نه سپموي او ټاکنيز بنسټونه به د قانون پر بنسټ نوی ولسمشر معرفي کړي.

ده زياته کړه چې په دې سره به ''زه د کوچني اختر پر پنځمه واک [نوي ولسمشر] ته وسپارم."

نړيوالو رسنيو وليکل چې :

د افغانستان د ولسمشرۍ دويم پړاو ټاکنې د جون پر ۱۴مه ترسره شوې، خو له ټاکنو يوازې څلور ورځې وروسته عبدالله عبدالله اعلان وکړ ، دا چې د ټاکنو کمېسيون يې غوښتنې نه دي منلې، دوی ورسره ټولې اړيکې څنډوي. ښاغلي عبدالله د ټاکنو له کمېسيون نه غوښتي و، چې د ټاکنو کمېسيون د دارالانشاء مشر ضياء الحق امرخيل دنده دې وځنډوي.

بل خوا عبدالله عبدالله ټينګار کړی و، چې د کمېسيون له لوري په ټاکنو کې د اووه ميليونه ګډونوالو شمېره واقعي نه ده او کمېسيون بايد په دې اړه توضيحات ورکړي.

ابتدايي پايلې

ده دغه راز د ټاکنو کمېسيون نه غوښتي و، په هغو يو شمېر ولايتونو کې چې د تېر ځل په تو پير په کې ډېرو خلکو رايې کارولي هم معلومات ورکړي.

د ټاکنو شمېرلو بهير روان دی او د افغانستان د ټاکنو کمېسيون اعلان کړی دی، چې له مهالوېش سره سم به د دويم پړاو ټاکنو لومړنۍ پايلې د چارشنبې پر ورځ اعلان کړي.

ټاکل شوې د شکايتونو د اورېدو کمېسيون له لوري د شکايتونو ارزولو وروسته د انتخاباتو خپلواک کمېسيون د سرطان پر ۳۱مه د ټاکنو وروستۍ پايلې اعلان کړي.

که څه هم د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي چې د عبدالله عبدالله درې واړه غوښتنې يې پوره کړي او د دې پلمه نه ده پاتې چې ښاغلی عبدالله دې له دغه بهير سره يو ځای نه شي.

خو عبدالله وايي غوښتنې يې په بشپړ ډول نه دي منل شوي.............

دکابل دغلامې ادارې دټاکنو دخپلواک کميسون اداره وايي :چې دعبدالله ټولې غوښتنې يې منلې، نوره ورته کومه

داسې بهانه نده پاتې، چې دايې لـه املـه پريکـون وکـړي ،ددې اداري وياند محمد نور داسې وايې :

د عبدالله درې واړه غوښتنې منل شوي"

د ټاکنو د خپلواک کمېسيون وياند نور محمد نور وايي ښاغلي عبدالله ته يې هغه ليکلي لاسوندونه سپارلي چې په ټاکنو کې تر ۷ ميلونو د ډېرو وګړو د ګډون پخلی کوي.

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي د نومانـد عبدالله عبدالله درېواړه غوښتنې د دوی له خوا منل شوي او نوره پلمه نشته چې له ټاکنيز بهير سره پرېکون روان وساتي.

د ياد شوي کمېسيون وياند نور محمد نور وايي ښاغلي عبدالله ته يې هغه ليکلي لاسوندونه سپارلي چې په ټاکنو کې تر ۷ ميلونو د ډېرو وګړو د ګډون پخلی کوي.

خو د ښاغلي عبدالله ټاکنيزه ډله وايي چې تر دې مهاله يې ان يوه غوښتنه هم نه ده منل شوې.

مګر د ټاکنو د خپلواک کمېسيون وياند نور محمد نور وويل "د ښاغلي عبدالله د ټاکنيزې ډلې درې واړه شرطونه منل شوي، د دارلانشا د رئيس مسئله وه هغه استعفی وکړه، دويمه موضوع ټاکنو کې د خلکو د ګډون په اړه د معلوماتو وه، کمېسيون تر اوو ميلونو د ډېرو کسانو خبره کړې وه چې په اړه يې په ليکلي بڼه جزييات ورکړل شول او ډاډ مو ورکړ چې په دغه بهير کې تر اوو ميلونو ډېرو خلکو ګډون کړی و، دريم موضوع په ولايتي کچه د خلکو د ګډون وه چې په دې اړه هم معلومات ورکړل شول ځکه نو بلـه پلمـه نشـته او د ښاغلي عبدالله ټاکنيزه ډلـه بايـد ژر تـر ژره د ټاکنو له ولسواک بهير سره يوځای شي".

خو د ښاغلي عبدالله ټاکنيزه ډله وايي چې د دارالانشا مشر د درغلۍ کوونکو د شبکې يوازې يو کس و.


د ښاغلي عبدالله له ټاکنيزې ډلې نه فضل الرحمان اوريا وويل چې د دوی يوه غوښتنه هم نه ده منل شوې او نه هم د دوی د غوښتنو په اړه اړين لاسوندونه ورسپارل شوي دي.

په همدې حال کې په خپله عبدالله عبدالله هم يوې غونډې ته وويل چې په ټاکنيز بهير کې د بيا ورګډو لپاره يې خپل شرطونه وړاندې کړي او په وينا يې کـه څـوک يې نـه مني نـو مسووليت به يې ورپه غاړه وي.

د ټاکنو د خپلواک کمېسيون وياند نور محمد نور بيا وايي "دا مهمه نه ده چې ټاکنې څوک ګټي او څوک بايلي بلکې مهمه دا ده چې په افغانستان کې د ټاکنو بهير بريالي شي چې په وينا يې دا خبره ټول مني.

داچې حقيقت کې هم دويم ځليزو غربي ټاکنو کې رښتياهم له (۷۰۰۰۰۰)اوو ميلونو څخه زياتو خلکو ګډون کړی اوکـه نـه داهـم هسې يـوه غربي ډرامـه ده! اواصـلاً دامـارت غوښتنې ته ولس لبيک ويلی ،چاپکې ګډون ندی کړی اوجعلي رأيې داشرف غني په طرفدارۍ صندقونو کې اچول شوي يوه نااندريزه ربړه ده، چې عبدالله يې نه مني، خو خارجي باداران او ګوډاګيان به يې پرې طوعاً او کرهاً ومني اوخلک به هغه څوک دکابل دواک په ګدی ناست ويني، چې امريکا او لويځ يې غـواړي، اودابـه داسې څـوک وي، چې هـم بـه دلويځوعسکرو شتون ته دقانونيت اسناد پيدا او ورسره لاسليک کړي ،او به داسلامي نظام په وړاندې امريکايانو ته داسې حاضر باش غلام وي ،لکه (کمال اتاترک)چې انګريزانوته و،اوهغه څه يې ورته وکړل چې نن هم پرې امت کړيږي !وروسته به هر څه دلمر غوندې وځليږي !

واقعيت دادی چې دټولټاکنو لوبه يوه تېرايستونکې حربه ده ،دا ددې لپاره پيل شوي، چې افغانان پرې مصروف وساتل شي او امريکايان پدې خړو کې خپل کبان ونيسي ،دلته چې افغان قام دسپين بيرغ لاندې دجهاد هوډ کړی، دجهادي سيلاب مخې ته همداسې حربي امريکايان دشګو بند جوړوي ،خو پدې دې هم پوه شي، چې داسې تجربې ددوئ نه مخکې پيرنګيانو او روسانو هم کړي، خو پايلې يې ټولې دنيا کتلې ،چې ډيره نږدې به انشاءالله تعالی ولسونه ددې نتايج هم ګوري او دحقايقو تل به کوزشي !



لومړی راجستر .....

رحیمي

ابو هریره (رضي الله عنه) وایي: ما له ابو موسی اشعري (رضي الله عنه) نه اته لکه درهم راوړل او د امیر المومنین حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په مخکې مې کېښودل حضرت عمر (رضي الله عنه) وپوښتل: دا دې څه راوړل؟ ما ویل: اته لکه درهم! حضرت عمر (رضي الله عنه) وویل: ایا پاک دي، ما وویل: هو پاک دي!، په دې شپه تر سهاره حضرت عمر (رضي الله عنه) ته خوب ورنغی، کله چې د سهار اذان وشو، خپلې میرمنې له هغه وپوښتل: بیګاه شپه ولې ناارام وې؟ حضرت عمر (رضي الله عنه) په ځواب کې وویل: د خطاب ځوی (عمر رضي الله عنه) ته به څنګه خوب ورځي، چې په لومړي ځل مسلمانانو ته دومره زیاتې پیسې راغلې چې د اسلام له پیل نه تر اوسه ساری نلري، که عمر (رضي الله عنه) ته په دې وخت کې مرګ راغی او دا مال هم داسي پاتې شو، نو په سمه توګه به یې مسلمانانو ته خپل حقوق نه وي رسولي او څان به د خدای (جل جلاله) له مواخذې ونه ژغورلی شي.

کله چې نوموړی (رضي الله عنه) د سهار لمانځه نه فارغ شو، د رسول الله (ﷺ) څو تنه صحابه ترې راټول شول، هغوئ ته یې وویل: نن شپه د خلکو دومره پیسې راغلې، چې د اسلام له پیل نه تر اوسه نه دې راغلې، مشوره راکړئ چې څنګه یې وویشم. څما رایه داده چې خلک راوغواړو او پرې وویشل شي، صحابه وو وویل: امیرالمومنین داسي مه کوه، نن ورځ خلک اسلام ته ننوزي، له دېنه زیات مالونه به راشي او دا به ګرانه وي، چې په یاد کې پاتې وي، چې چاته څومره شي ورکړل شوي؟ له دې وجې لومړی په یو راجستر کې د خلکو نومونه ولیکه، څو دا معلومه وي چې چاته څومره ورکړل شوې؟ د اخیستونکو د نومونو سره یو ځای اخیستل شوې پیسې دې هم یاداښت شي، حضرت عمر (رضي الله عنه) وویل: دا خو ښه نظر دی، راجستر جوړو، د امشوره راکړئ چې شروع له چانه وکړو؟ ځینو ویل: له خپل نوم نه شروع وکړه، ځکه ته د بیت المال متولي یې، ځینو ویل ستا خوښه ده چې له هر چانه شروع کوې، کولی شي، حضرت عمر (رضي الله عنه) وویل: داسي نه کوم، بلکې د رسول الله (ﷺ) نه شروع کوو، بیا د هغه وروسته چې هرڅوک رسول الله (ﷺ) ته تر ټولو زیات نیږدې وي، هغه لیکو!

حضرت جبیر بن حویرث (رضي الله عنه) وایي: حضرت علي (رضي الله عنه) راجستر جوړولو سره مخالفت وښود، هغه ویل: مسلمانان راټول کړه او ټولې پیسې په هغوئ باندې وویشه، حضرت عثمان (رضي الله عنه) د راجستر جوړولو نظر غوره وګاڼه، حضرت ولید بن هشام بن مغیره (رضي الله عنه) وویل: زه شام ته لاړېم، ما هلته پاچایان لیدل به چې هغوئ به د هر کار لپاره جلا کتاب درلود، هغوئ خپل پوځ هم منظم ساتلی وو، ته هم داسي وکړه، حضرت عمر (رضي الله عنه) د حضرت ولید رایه قبوله کړه، حضرت عقیل بن ابي طالب، حضرت مخرمه بن نوفل او حضرت جبیر بن مطعم یې د دې کار لپاره وګومارل، د اپه دې چې هغوئ د ریواړو ته د قریشو، نسبونه معلوم وو، تر ټولو مخکې یې د بنوهاشمو نومونه ولیکل، بیا د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) او د هغه د قوم نومونه ولیکل شول، لیکن خپل قوم (بنوعدي) د لیکلو نه یې انکار وکړ، په دې سره د بنوعدي قبیلې خلک ورته په شکایت راغلل، په ځواب کې یې هغوئ ته وویل: اې بنوعدي! تاسي غواړئ څما د خیټې له بره سواره شئ، او له نورو خلکو یې مخکې وخورئ! او څما نیکی برباد کړئ، هیڅکله به داسي ونکړم، خپل او ستاسي نومونه به له ټولو وروسته لیکم، په دې کې کومه بدې ده چې زمونږ نومونه دې له ټولو وروسته وي، مونږ ته چې هرڅومره عزت او احترام په برخه شوی دی، دا د رسول الله (ﷺ) له برکته، دغه وجه ده چې د رسول الله (ﷺ) کورنی شرافت او عزت مونږ ته ګران دی، هو! مونږ څو پښته د رسول الله (ﷺ) سره خپلوي لرو، خو باید په یاد ولرو چې یوازې پخپلوئ تکیا نشي کیدای، بلکې د الله (جل جلاله) په نزد چې د کومې مرتبې او درجې لوړې دې د هغو تر لاسه کولو لپاره کوښښ وکړئ، ولې هر هغه څوک چې په اعمالو کې شکته او پاتې وي، هغه ته د نسب لوړوالی کومه ګټه نه رسوي. (حیاة الصحابه)

رسنۍ، د امريکا د جګړې زبر ځواکه وسله !!

انجينر ع- ق

په ټکسي کې د ښار له يو ګوټ څخه بل ګوټ ته روان وم چې د کرزي اونيزې ويناوې مې له راډيو څخه تر غوږ شوې. کرزي د رسنيو وده او د بيان آزادي يې د ۱۳ کلن واک غټه لاسته راوړنه بلله. يو سپينږيری سړی چې خواته مې ناست و په بيړه راته وويل: «پخوا به يې د خلکو خولو ته کولپونه اچول او د واکدارو غوږونه به پرانستي وو، کرزي آسانه لار خپله کړې، خپل او د کابينې غوږونو ته يې کولپونه اچولي او د خلکو خولې يې پرانستې پرېښي.»

په افغانستان کې په تېرو ۱۳ کلونو کې د رسنيو بې سارې ودې په اړه ډېرې داسې خبرې شته چې له خلکو پټې پاتې شوې. ددې لامل چې نن د مرخيړي په څېر سلګونه خپرونې، راډيوګانې او تلوېزيونونه سر را پورته کوي او د امريکا او ملاتړو لخوا يې تمويليږي ممکن نده چې پوه شو مګر داچې د امريکايي نيواک له رسنيو څخه ناوړې ګټې اخيستنې تاريخ ته لنډه کتنه ولرو چې نن د «رسنيو امپرياليزم» په نوم ياديږي.

هغه وخت چې د روسانو چوپړان په واک کې وو، هغوی د روسي ښبتنانو په لار ښونه هر مخالف غږ چوپ کاوه او هيڅ «آزادې» رسنۍ شتون نه درلود. دې نواړې (خفقان) د تنظيمونو دواک پر مهال د منځنۍ پيړۍ پر څېر دوام وموم. ولې د ځولسيزو را پديخوا امريکايي نيواک په نوي لارو چارو نور ملتونه په زنځيرونو تړي چې له ۱۳ کلونو راپديخوا په افغانستان کې له ډول ډول شکلونو سره مخ يو.


امريکا د پوځي سلاح کوټ ترڅنګ، له رسنيو څخه د ملتونو په برده کولو(اېل) کې د وسلې په توګه خوراغټه ګټه پورته کوي. دا هيواد مخکې لدې چې کوم ځای ونيسي هتله خپلې تبليغاتي رسنۍ استوي ترڅو د «بيان آزادي»، «رسنيو آزادي» او «دموکراسی»، له درواغجن شعار څخه په ګټه اخيستنې د تيري او د ملتونو د برد ګۍ لار هواره کړي او خپلو شيطاني موخو ته د رسيدو لپاره ور ته داله ټولو آسانه او ارزانه لار ده. هغوی له ځولسيزو را پديخوا په تجربې سره موندلې چې د خلکو برېښګولو او مغزوينځنې لپاره کره وسيله، له رسنيو ناوړه ګټه ده. همدې موخې ته رسيدو لپاره، په کال ۱۹۵۰ کی «اروپا آزاده راډيو» تمويل او په لار واچول شوه چې نن ورځ هم د «آزادی راډيو» تر نوم لاندې په لسګونه هيوادونه او د هغې ډلې څخه زمونږ په هيواد کې له زهرو ډکې خپرونې لري.

په تاريخ کې دلومړی ځل لپاره، امريکا په ۱۹۹۱ کی د خليج په لومړۍ جګړه کې، د "سی.ان.ان" تلويزيوني چينل چې تر هغه مهاله يوازنی تلويزيون وچې ۲۴ ساعته خپرونې يې لرلې، نړۍ نيولو په موخه په لار واچوله. له مدرنې تکنالوجۍ او سپوږمکۍ نه پر ګټه اخيستنې، د امريکا پوځ د عراق د جنګ له ډګر څخه فلتر شوي او دهغوی د سياستونو سره همغږی خبرونه د عامو وګړو د ذهنونو بمبارولو په خاطر خپرول. ايريک مارګولس د «له رسنيو څخه د وسلی په توګه کار اخيستل» تر نوم لاندی مقاله کې چې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۲۱مه په «تورنتو ستار» کې خپره شوې داسې ليکي :

«واشنګټن کړنلاره لرله: هغه بریا چې په ۱۹۹۱ کې د خلیج جګړې پر مهال یې د عراق پر خلاف د خبرونو د انحصار، فلتر او بنې ور کونې له لارې تر لاسه کړې وه په افغانستان کې هم تکرار کړي. تر نن ورځې هغه شمېر عراقیان چې د امریکایانو په بمباریو کې وژل شوي دي یو راز په څېر پاتې دي»

د اړیکو په عصر کې چې رسنۍ په داسې توکو بدلې شوې چې پر ته له اجازې د خلکو کورونو ته ننوځي، د هغوی دماغ او ذهن چاپیروي او په غیر ارادي او غولوونکي څېر فکرونه او لید په خپله خوښه چپوي. شوار تز، امریکایي لیکونکی او د تلویزیوني خبر تیاوو پوه په «رسنۍ، دویم خدای» کتاب کې لیکي:

«د خدای په څېر، یوه رسنۍ د میلیونونو خلکو پام یوې پیښې ته په همغږۍ ډول کولای شي د جګړې لاره بدله کړي، یو ولسمشر او یا پادشا لاندي راکاږي، خوار او ذلیل پور ته بوځي او ویاړلي سپک کړي.»



ګراف ښايي چې په ۱۹۸۳ کې په امریکا کې له ۵۰ څخه زیات شرکتونه د رسنیو څښتنان وو ولې په ۲۰۰۴ کې دا رقم ۶ شرکتونو ته راښکته شو. ددې مانا داده چې رسنۍ انحصاري شوې.

د امریکا په ښکاره «آزادو» رسنیو کې، درواغ، ځان ښودنه، سانسور او مرغتانه په نوي او سیستماتیک ډول ترسره کیږي. پروفیسر نورمن سالومن او ریس ارلیچ په «عراق برید: هغه څه چې رسنیو تاسو ته ندي ویلي» کتاب کې د یو امریکایي خبریال له خولې چې د هغه هیواد له ښکاره سانسور نه په تنګ راغلی وو داسې لیکي:

«هر وار چې وړاندیز کوم چې د عراق پر عامو وګړو د بندیزونو مرګوني اغیزونو پر اړه راپور چمتو کړم نو مشران مې راته وایي چې دا خبر زوړ شوی دی حال دا چې هغوی په کراتو د عراقي چارواکو د فساد او ظلم خبرونه خپروي او له دې کاره نه ستړي کیږي.»

هلن توماس، د «یونایتد پرس انټرنشنل» نامتو خبریال و، چې څو لسیزې یې د سپینې ماڼۍ خبرونه ویل، په ۲۰۰۲ کې کله چې د عراق ضد جګړې خوځښت سره یوځای شو، د ام.آی. تی پوهنتون په وینا کې یې اعتراف وکړ: «ما تر اوسه ۵۰ کاله کیږي چې ځان سانسور کړی.»


امریکا چې ځان د «آزادۍ زانګو» ګڼي، په هغه هیواد بدله شوې چې یو سل میلیارد درانو یې د ټولنې ټوله شتمنۍ په لاس که نیولې او نورو ملتونو ته د وژلو او ویجاړي ماشینونه استوي. کانیا دی المیدا (Kanya D’Almeida) په «انټرپریش سرویس» (۲۰۱۲ کال د جنوری ۲۱) داسې لیکي:

«په هغه هیواد کې چې د ۱۷۸۷ کال اساسي قانون ور ته ژمنه ور کړې وه چې د خلکو لخوا او د خلکو لپاره به وي، یو سلن شتمنو د دموکراسۍ ټول بنسټونه غلا کړل.»

په لویدیځو رسنیو کې د جګړې ضد میلیونو وګړو خوځښتونه، «وال اسټریټ غورځنګ»، ګلوبلایزیشن پر ضد پراخ لاریونونه چې د هرې ورځې په تیرېدو سره د هغه هیواد ټول غټ ښارونه یې د جګړې په

ډګر بدل کړي، هيڅ خبر نشته. او که چيرې خبر يې هم خپور کړي هغوی بلواګر نومول او کوښښ کوي دا غور ځنګونه بې ارزښته وښايي.

پروفيسور نوام چامسکي، امريکايي نامتو فکر کونکی چې د امريکايي رسنيو د تبليغ په اړه يې ژوره څېړنه کړې، د «د ټولنيزو رسنيو په واسطه د خلکو د برمته کولو لس لارې» تر نامه لاندې مقاله کې، چې يو مهم اصل يې افغانستان کې د ډيرې رسنيو لخوا هو به هو پلي کيږي، داسې تشريح کوي:



«د ټولنې د لارښونې اصلي عنصر د خلکو پام له اساسي کړاونو او سياسي او اقتصادي هو کړونه د کم ارزښته ټولنيزو مسايلو په لور کږول دي. د خلکوم پام بل لوري ته وړل ددې لپاره زيات ارزښت لري چې ښاريان نشي کولای د علومو، اقتصاد، روان پوهنې، نيوروبيولوجي او سيبرنتيک په اړه معلومات تر لاسه کړي.»

په امريکا او نورو غټو هيوادونو کې د رسنيو ديوان هغه خلک دي چې د هيواد اقتصادي شارګ په منګولو کې لري او د غټو انحصاري شرکتونو او وسلې جوړونې کارخانو څښتنان دي. هغوی د ډيرې پانګې، عصري تجهيزاتو، مخکې تللې توکو او سپوږمکۍ او د ازمايلو شوو کار کونکو په ګومارلو سره د نړۍ پيښې د جګړېزو هيوادونو په ګټه تر پوښښ لاندې نيسي او په بيوزله هيوادونو کې د مالوماتو په راکړه ورکړه پوره واک لري.

پروفيسر نورمن سالومن، امريکايي څېړونکي په «تاسو تل درواغ ويلي» کتاب کې، د امريکا د رسنيو شپږ غټ شرکتونه تر څېړنې لاندې نيولي چې ډير شمير مالومات په انحصاري شکل په واک کې لري. دا شپږ شرکتونه د عامه وګړو فکرونه په واک کې لري او د خپلو اقتصادي ګټو په لور يې بيايي. په نړيوالې پيړۍ کې، دا رسنۍ يوازې امريکا پورې تړلې پاتې ندي بلکې د ټولې نړۍ د خبرونو په راکړه ورکړه پوره واک لري.

لدې شپږو زبرځواکو رسنيو څخه يو «نيوز کارپوريشن» دی چې روبرت مرداک پورې اړه لري. هغه د نړۍ د رسنيو د سلطان په نوم ياديږي او ډيری شمير تلويزيوني، راډيويي چينلونه او ورځپاڼې او مجلې په ټوله نړۍ کې په واک کې لري. د هغه د رسنيو امپراتورۍ ډيری شمير مالومات په انحصار کې لري چې په پوره ځير سره د خلکو ذهنونو کې هغه څه ځای په ځای کوي چې د نيواکګرو دولتونو او لويو شرکتو په ګټه وي.

د سعد محسني موبي ګروپ چې د «طلوع»، «طلوع نيوز»، «لمر» چينلونه او د «ار کوزيا»، «آرمان شهر» او نوری راډيوګانې په لاس کې لري او له ۵۰ سلنې زيات شمير کتونکي يې ځان ته راښکلي دي له «نيوز کارپوريشن» سره نږدې اړيکې لري. ويل کيږي چې مرداک په موبي ګروپ کې ۳۰ سلنې ليکمن دی. له همدې کبله «طلوع» د نورو چينلونو پر تله د امريکا د تبليغاتو مټ کرځيدلی او د يو.ايس.ايډ لخوا ور ته ميليونونه دالر مرسته کيږي. په نړۍ کې د امريکا د لومړي درجې رسنيو پر ځير، «طلوع» هم په پلان شوې کړنلاره د خلکو فکر هغه لوري ته بيايي چې د امريکا نيواکګر پلانونه ور ته اړتيا لري.

د رسنيو ديوان د عامه وګړو د فکر نيولو په اړه پراخې څېړنې کوي او د خلکو تيروتلو لپاره نوې او ژورې لارې چارې منځ ته راوړي. کورت لوين (Kurt Lewin) په ختيه آلماني د امريکا اوسيدونکی يو تيوريسن و چې نظريه يې د هغه فاشيستي ميل نه سرچينه اخلي او د سي.آی.ای په خدمت کې دی. هغه د «وخت او اخلاق کتلځای» په نوم کتاب کې د ملت او مشرانو د روحې ځپلو لپاره داسې لارښونه کوي:

«د ډار استراتيژۍ په واسطه د ملي روحې ځپلو يوه طريقه ددې تاکتيک دقيق پلي کول دي: بايد انسان تل لالهانده او راتلونکي ته او

هغه څه چې په راتلونکي کې پیښیږي د بې اعتمادۍ په حالت کې وساتل شي. بر سیره پر دې که چیرې په کړنو کې یو اندازه پرک او د ښو چاور ژمنې یو بل سره نغښتي وي د یو بل ضد خبرونه د راتلونکي وضعیت بنسټ ګونګوي. پدې حال انسان خپل فکر له لاسه ور کوي چې یوه مشخصه کړنلاره به هغه موخې ته ور سوي او که نه. پدې حال هغه خلک چې مشخصه کړنلاره لري او د خپلې موخې لپاره له سره تیري دي هم نشي کولای پر مخ لاړ شي او ټپ پاتې کیږي.»

په افغانستان کې د کورت لوین دا خاینانه تیوري هو بهو د امریکا



او ګوداګیانو لخوا د هغو رسنیو له لوري چې د امریکا له سفارت څخه پیسې اخلي پلې کیږي. خلک «لالهانده او د بې اعتمادۍ په حال کې» ساتل، «ویره له راتلونکي» او ... دقیقاً د ټولنیزو رسنیو په څواک د نیواکګرو یو موټې کرایي «کارپیژندونکو» او «شنونکو» لخوا «چپه او راسته خبرونو» او د ټولنې د عیني واقعیت نه لري شننو له لاري رواج مومي چې د امریکا لوټېدونکو کړنلارو ته لار هواره کړې ده.

د افغانستان تلویزیونونه خپلې ژبې تړي تر څو خلک کاڼه پاتې شي.

ځینې نښایي چې د امریکا وګړي د نړۍ پر سطح د نړیوالو مسایلو په هلکه ډیر لږ پوهیږي. د هغه هیواد رسنیو د خلکو پام کم ارزښته او تفریحي پروګرامونو کې بوخت کړی او د نړۍ د پیښو په هکله هغوی ته مالومات نه ور کوي. په هغه هیواد کې چې د خلکو فکر د سوداګریزو رسنیو په ولکه کې وي ددې توان نلري چې ټولنیزې پیښې وشني او دولت نه دا فرصت برابروي چې هغوی په آسانۍ سره وغولوي او په خپله خوښه هغوي بوځي. یلیام ج. لدرر د خپل هیواد د خلکو بې خبرۍ د «ګډانو ملت» په کتاب کې تر ځیړنې لاندې نیولې.

د امریکا دولت د خبر له شر کتونو او د ور ځپاڼو له کار کونکو څخه د څارونکو په توګه کار اخلي. کارل برنشتین (Carl Bernstein) د «واشنګټن پوسټ» ور ځپاڼې لیکونکی او د پولیتزر انعام ګټونکی، په ۱۹۷۷ کال کې د خپلو ځېړنو، چې د سی.آی.ای لخوا د ور ځپاڼو کار کونکي د څارګرو په ځیر ګمارلو په هکله یې کړي وي، پایله یې د «سی.آی.ای او رسنۍ» تر نوم لاندې خپره کړه داسې لیکي:

«د خبریالانو څخه ناوړه ګټه اخیستل کیده تر څو بهرنیان د څارګرو په ځیر په کار و ګماري، مالومات تر لاسه او وځیړي او دروغ مالومات د بهرنیو چارواکو تر منځ خپاره کړي. دوی زیات شمیر په پټه له سی.آی.ای سره هوکړه لیکونه لاس لیک کړل او وعده یې ور کړه چې هیڅکله به دا راز ور کړه ښکاره نکړي.»

په هغه هیواد کې چې خبرونه په سوداګریزو توکو بدل شي او دروغ او دوه مخیزه پر رسنیو د روند سیوری اچولی وي، څرنګه امکان لري چې بل هیواد ته «آزادي رسنۍ» او د «بیان آزادي» راوړي؟ هغه څه چې کرزي خپله ۱۳ کلنه لاسته راوړنه بولي په حقیقت کې د امریکا لاسته راوړنه وه چې د عامه وګړو فکر یې سمبال کړ او له هغوي نه یې ناپوهه، خنثی، لاس پوڅي او د امریکا خوښ او بې کاره خلک جوړل کړل. امریکا زموږ په هیواد کې میلیونونه ډالر په خپله تبلیغاتي جګړه کې لګښت کړي او تلویزیوني او راډیویي چینلونه یې په لار اچولي تر څو لدې لارې د ټولنې واک او د خلکو روحیه په لاس کې و نیسي او په خپله خوښه یې و څرخوي.

د ځان په ګټه قانون!

قدرت الله

په افغانستان کې له دې سره سره چې په تیرو کلونو کې نظام او ځایي ادارې شخصي شوي دي اوس اوس کوښښ کوي چې د دوی په لاس جوړ شوی قانون هم کرار کرار شخصي شي ، دا خبره مې ځکه وکړه چې پرون به مو د عبدالله له لوري د خبرو د را ویستو خبره په رسنیو کې اوریدلي وي.

د ټلیفون خبرې په اساسي قانون کې خوندي دي، خو پرون عبدالله وکولای شوای دا خبرې را وباسي او بیا یې ټول عالم ته ور وښیي، د عبدالله دا کړنه ددې ښودنه کوي، چې شته اردو، پولیسو، امنیت او نور ټول یوازې د یوې ادارې په چوپړ کې دي.

له معمول سره سم په نړۍ کې قانوني نظام او قانون جوړونه د دې لپاره وي څو وکولای شي د یوې ټولنې د اشخصاو د غوښتنو د تصادم مخه ونیسي او له دې ډول تقابلونو څخه د مخنیوي او ډاډ په ډول را ښکاره شي. نو قانون ځکه ډیر ارزښت لرونکی رول لري چې په هغه کې د یوې ټولنې ټولو مصالحو ته پام کیږي او په ترڅ کې یې د مصالح کلي، ځینې شته او نه شته توکي د قانوني مواردو په توګه په پام کې نیول کیږي او خلک هم پوهیږي چې دا باید او نباید په عملي کړي او د ورځینو کارونو په ترڅ کې ور ته پام وکړي.

د یوې ټولنې د ټولیزو مصالحو په پام کې نیولو سره، او د یوې ټولنې د لومړنیو اړتیاوو په پام کې نیولو سره، او بیا په قانون کې ددې اړتیاوو درج کول د دې لامل کیږي څو ټول قانون ته درناوی وکړي او د قانون په پلي کیدو ځانونه ملزم و ویني.

په نړۍ کې د ټولو شته ټولنو پر خلاف چې د یو سیاسي واحد په شتون کې د هیواد په نوم په نړۍ کې شته او هر یو د خپل خاص ژوند او خپلو اړوندو کړنو په اړه سازماندهي کوي هر یوه ځان ته قوانین وضعه کړي دي خو د افغانستان ټولنه بیا د قانون د منلو په برخه کې یوه مستثنا ټولنه بلل کیږي.

عمومي اند دا دی چې په افغانستان کې کله هم قانون په دې نه دی بریالی شوی څو د اشخاصو او افرادو له ارادې پورته وي. په ځانګړي ډول په دې برخه کې په جرأت سره ویلای شو چې د افغانستان د ستر ملت په منځ کې کله هم قانون په دې نه دی توانیدلی چې د داسې افرادو له کړو وړو سره چې ځای او مقام لري برابر وي.

نو همدا لامل دی چې په افغانستان کې قانون ماتونه، د قانون نه مراعت ، له قانون څخه تیښته او قانون ته نه پاملرنه یو معمول او پیژندل شوی کار پیژندل شوی که چیرې دا ډول کړنې څوک و ویني نو هیڅوک به له حیر انتیاهک پک نشي.

په هغه تعدیل کې چې په دې وروستیو کې په ملي شورا کې د ټاکنو په قانون کې راوړل شوی دی، کیدای شي یو لامل یې هم قانون ته نه پاملرنه وي.

داسې ښکاري په افغانستان کې قانون ته نه پاملرنه چې ویل کیږي د نورو ټولنو پر خلاف عمل کوي زموږ په هیواد کې په قانون کې ملي مصالح په پام کې نه نیول کیږي او نه هم د ملي مصالحو پر بنسټ رامنځ ته کیږي بلکه کوښښ کیږي په قانون کې د افرادو او اشخاصو مصالح په پام کې ونیول شي. نو دا لامل دی چې په ټولنه کې د قانون منلو انګیزه نه وي او که چیرې ونه منل شي نو لومړنۍ ذهنیت چې ددې مسلې او د ټاکنو د قانون د بدلون په اړه رامنځ ته کیږي د هغو کسانو په ګټه ده چې د ولسي جرګې غړیتوب لري خو تحصیلي سند نلري. که چیرې سند نه وي دا کسان په نورو درو کې له استازیتوب څخه بې برخې کیږي. نو استازو په یوه کاري دوره سره ځان ته دا ستونزه حل کړې او دا وخت یې د پوهنتون د تحصیل له دورې سره ورته خبره بللې څو په راتلونکې ځان پکې وساتي.

دې ته په کتو سره د ولسي جرګې په یوه کاري دوره کې چې ډیری وختونه یې رخصت، ناسوب وي، یا هم په



هیڅوک نه وایي چې اسمان به ځمکې ته را کوز شي دا لړۍ په افغانستان کې همداسې دوام مومي.

ویل کیږي استازو اوس اوس د ټاکنو په قانون کې ویلي دي هغه کس چې ولسي جرګې ته ځان نوماند کوي باید د ولسي جرګې د یوې کارې دورې تجربه ولري او دوی دا تجربه له لیسانس سند سره برابره کړې. په ملي شورا کې د یوې دورې شتون او بیا هغه د لیسانس له یوې څلور کلنې دورې سره پر تله کول ډیره عجیبه خبره ده. ځکه د ولسي جرګې په دوره کې باید استازي، په کار پوه او اکاډمیک ډول د حقوقي، اقتصادي او ټولنیزو موضوعاتو په اړه پوه وي. خو په تحصیلي دروه کې یو محصل په اکاډمیک ډول په خپله تحصیلي برخه کې د انساني علومو په برخه کې مهارت پیدا کوي.

شخصي کارونو چې له دندې سره یې اړوند نه وي بوخت وي او له حکومتي چارواکو سره په ځینو وختونو کې کمې اړیکې لري او څه وخت هم د قانون په اړه بحثونه کوي یا د حکومت کړه وړه څاري، دا استنباط رامنځ ته کوي چې دا قانون د اشخاصو او افرادو د شخصي ګټو لپاره تصویب شوی دی او نشي کولای د هیواد ټول عمومي مصالح تر خپل پوښښ لاندې راولي.

برنیو خبرو ته په کتو سره یو لوري ته د استازو شخصي کړنې، بل لوري ته د نظام، افرادو، سیاستوالو او نورو کړنې به یو ورځ نه ورځ په شعوري ډول هیواد د سختې تباهی، بې اتفاقی، یو وار بیا کورنۍ جګړې، پاټک سالارۍ او جنګ سالارۍ کندې ته ور ټیل وهي.

دروسيي پوځي ځواک ته لنډه کتنه

لطيف عزم

وړاندې تردې چې دروسيې په فوځي توان لنډه رڼاواچوو ، مناسبه ده چې دروسيي اوسنی جغرافيوي موقعيت هم لږ اوډيرتاسو درنولوستونکو روښانه کړو. دروسيي فدراسيون ، داسيااوروپاپه شمال کې شتون لري اودمساحت په لحاظ دنړئ دلوی هيوادپه توګه پيژندل کيږي چې تقريبادکاناډاهيواد په تناسب دوه برابره وسعت اومساحت لري .

روسيه دناروي ، فنلاينډ، استونيا، لتوانيا، لهستان ، بلاروس ، اوکراين ، ګرجستان ، ازربايجان ، قزاقستان ، چين ، اوشمالي کورياهيوادونه ورسره ګاونډيتوب لري .

دغه رازروسيه ، دابوله لاري دامريکا له (الاسکا) ايالت سره هم ديوه ګاونډي هيوادپه توګه ځان نښلوي .

روسيه په دې سربيره چې دنړئ دتيلو اوګازو له مهمو توليدکونکواوپه خاصه توګه اروپاته ديواځيني صادرونکي هيواد په توګه ځای لري ، دامنيت شورادیوه دايمي غړي هيواد په شکل کې دنړئ په قضاياوو کې مهم نقش اورول لري .

پوځي ځواک ؛

دروسيي نظامي ځواک په دريوبرخوويشل کيږي ، هوايي ، ځمکنی اوبحري .په دې سربيره دری نورمستقل ځواکونه هم شته چې ديادو پوځي قوتونه سره مرسته کوي اوياپې دتقويي دنده لري ، چې عبارت دي له خاص توغندويي ځواک ، هوايي مدافع قوت او دروسيی دفضاځانګړی طاقت .



دفاع وزارت دروسيي فدارسون دمسلحو اجرايوي قواوو پيژندل شوی بنسټ دی ، دشوروي اتحادله مهال تراوسه دمشترکوقواوو مشردروسيي دپوځي طاقت اوقواوو داداري دسوق اوتنظيم اصلي اومقتدرواکمن بلل کيږي .

دروسيي دغه مقام دومره لوړ اومهم دی چې دامريکايي پوځي ماهراوڅيړونکي (ويليام اودام) په خبره چې په کال ۱۹۹۸ کې کړي ، ويلي وو چې دروسيي دمشترکو قواوو مشر له دفاع وزارت څخه پرته متصور کولای شي ، خو دفاع وزارت دمشترکو قواوو له مشر څخه پرته

نشي متصور کولای ، اوس هم ددغه مقام خپل حیثیت برقرار بلکې اختیارات یې زیات شوي خوکم شوي ندي .

دورستیو څیړنوله مخې دروسیي نظامي قوت په نړی کې له امریکاورسته په دوهم کتار کې راځي ، چې دروسیي دنظامي برخواو توان مشخصات په لاندي ډول ذکر کولای شو .

دوګړو شمیریې ۱۳۸ میلونه او۷۴۰ زره تنه دی

روسیه ، ۲۲۹۵۰ټانګونه ، ۲۴۹۰۰نقلیه پوځي وسایط ، ۱۲۷۶۵ داوږده واټن توپونه لري ، دلوژستیکي موادو دانتقال لپاره ۱۲ زره نقیله وسایط په واک کې لري، دغه ډول روسیه ۲۷۴۹ داني الوتکي او ۵۸۸ چورلکي لري ، په همدې ډول ۲۳۳ داني بحري بیړی ، ۷ بحري بندرونه یوه دالوتکو چورلکو اوپوځي وسایطو دانتقال ستره بیړی ، ۴۸ داني ابدوزونه لري .

ویل کیږي چې دروسیي دغه پوځي اودفاعي ځواک اوپر مختیا۷۰ فیصده دپخواني شوروي اتحادد تسلیحاتي اوصنعتي دوري څخه راپاتي او ۳۰ فیصده یې دپوتین په دوري کې سرته رسیدلي .

همدارنګ روسیه په دې سربیره چې په داخل کې له خپلو وسلو اوپوځي تولیداتو څخه پوره ګټه اخلي ، نړی ته په لویه پیمانه وسلي اوجنګي وسایل هم صادروي اوپلوري یې .

په کال ۲۰۱۳ کې روسیي له بهر څخه دوسلودپلورلوله درکه ۱۳/۲ ملیارده ډالرترلاسه کړي وو.

روسیي دورستیودوکلونوپه اوږدو کې نیږدي ۶۰ هیوادونوته نظامي وسلي اوپوځي مهم تجهیزات ورکړي اوپر یمانه ګټه یې ترلاسه کړي .

یاده دې وي چې په ۲۰۱۳ کې دروسیي دفاعي بودیجه نیږدي ۹۰ میلیاده ډالره وه .

څلور غوره کړنې

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: په تاسو کې نن چا روژه نیولې وه؟ ابوبکر رضی الله عنه وویل: ما، هغه وویل: په تاسو کې نن چا د جنازې لمونځ کړی ده؟ ابوبکر رضی الله عنه وویل: ما، هغه وویل: په تاسو کې نن چا مسکین ته ډوډۍ ور کړې ده؟ ابوبکر رضی الله عنه وویل: ما، هغه وویل: په تاسو کې نن چا د ناروغ پوښتنه کړې ده؟ ابوبکر رضی الله عنه وویل: ما، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا څلور کارونه چې په یوه ورځ کې څوک وکړي هغه به خامخا جنت ته داخلیږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم :مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه :أَنَا. قَالَ:فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه :أَنَا. قَالَ: فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه :أَنَا. قَالَ:فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه :أَنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم :مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ .أخرجه مسلم

نه هذیان است که دلیل است

د_دیمه طارق طهبوب

گاهی پیش می‌آید که انسان احساس می‌کند به آخر خط رسیده است و در بدترین مراحل ضعف و ناتوانی قرار دارد و تمام راه‌ها به رویش بسته است. در آسمان به رویش بسته می‌بیند و زمین را بر خود تنگ می‌یابد و میان خود و دیگران دیوارهای بلندی می‌بیند؛ همه با او مخالفند و روی خوشی به او نشان نمی‌دهند. این مرحله‌ای است که پیامبران الهی هم که با نیروی وحی و کمک الهی تقویت شده‌اند آن را گذرانده‌اند چه رسد به بشر عادی. خداوند در کتاب خود از این مرحله با عنوان استیئاس (ناامیدی) یاد می‌کند که اگر ایمان به وعده‌ی الهی نباشد قوی‌ترین انسان‌ها نیز در باتلاق ناامیدی غوطه‌ور می‌شوند و امید و آرزوی خود را به کلی از دست می‌دهند. زیرا پیروزی ظاهری در میدان جنگ به تأخیر افتاده است اما تنها راه نجات از این فروپاشی کامل تداوم آرزو و کار و تلاش تا آخرین قطره‌ی خون است. پس از این ضربه‌ی هولناک است که یاری خدا از راه می‌رسد و همانند آب گوارا که راهش را به درون تشنه‌کام باز می‌کند دل و جان مسلمانان را نوازش می‌دهد.

کسانی که مشمول یاری خدا می‌شوند در نگاه‌شان به مسایل و برآورد نتایج با هم متفاوتند. هر ضربه‌ای شکست نیست؛ مجرد انعطاف‌پذیری در زندگی جوامع و رضایت کامل مردم از کرنش و خواری و عادت به ظلم و ستم تا بالا بردن صدا و تفکر و مخالفت یکی از اشکال یاری و قدرت است؛ حال اگر فرد به‌صورت مستقیم در برابر ظلم بایستد و تمام خطرات جانی آن که جوانان را پیش از پیران می‌بلعد به جان بخرد چگونه خواهد بود؟

وضعیتی که در نتیجه‌ی رخدادهای اخیر در حیات امت ایجاد شده است بدترین شکل نکبت و مصیبت و خواری و ذلت برای مسلمانان است. خارج شدن امت به‌ویژه نسل جوان از وضعیت ترس و هراس و رها کردن دل‌بستگی‌های دنیایی برای دست‌یابی به ارزش‌ها والا و اصول گران‌قدر از بزرگ‌ترین پیروزی‌ها بوده است و این دستاوردی است که ماشین سرکوب و خفقان نمی‌تواند آن را از پای درآورد؛ نیرویش را از جای دیگری می‌گیرد که پدر دوست دارد به پسرش بپیوندد و دوست به دوست و خواهر به خواهر و پیروان به رهبران‌شان. مشکل دوران ما فقدان الگو و نماد و پیوند شکننده‌ی نسل‌های جوان با تاریخ و سیره است؛ رخدادهای اخیر آمده است تا رهبرانی بسازد که اصالت گذشته و واقعیت حاضر را با هم جمع می‌کنند و ایده‌ی خود را در عملکردشان پیاده می‌کنند. این واقعیتی بود که در محاکمه‌ی مرشد اخوان شاهد بودیم؛ ایشان با آرامش کامل حکم را دریافت کرد و به مسؤولان امر گفت: اینک زمان عمل به آن شعار رسیده است که سال‌ها بر زبان می‌راندیم: "مرگ در راه خدا بالاترین آرزوی ماست". این محصول سال‌ها تربیت ما است؛ امروز زمان برداشت محصولی است که سال‌ها برای آن زحمت کشیده بودیم.

این یک رؤیا و هذیان نیست؛ بلکه واقعیت زیبایی است که هر کس که خواهان پیوستن به سلک جاودانگان است به پیشوازش می‌رود. این همان مقام پیشوایی مستضعفانی است که خداوند به آنان وعده‌ی قدرت داده است :

"و نرید أن نمن علی الذین استضعفوا في الأرض و نجعلهم أئمة و نجعلهم الوارثین" [قصص: ۵ .]

ما می‌خواستیم که به ضعیفان و ناتوانان تفضّل نمائیم و ایشان را پیشوایان و وارثان (حکومت و قدرت) سازیم. پس سخنان او و موضع او در زمان سقوط تلخ رهبران و نخبگان شاهدی برای او و پیشوایی حق خواهد بود .

هر زمان که تغییری در فرهنگ‌ها و ملت‌ها روی داده است، تعداد کمی با توشه‌ی اندکی با آن همراهی کرده‌اند اما این تغییر در درون و فهم و عملکرد بوده است و وجود گروه فداکار و پیشرو در خط مقدم با حضور گرم عامه‌ی مردم جایگزین سایرین می‌شود. قدرت دادن و تمکین به ستم‌دیدگان یکی از سنت‌های الهی است اما به عمل و ایمان فزاینده‌ی افراد بستگی دارد نه سکون و رضا به مظلومیت. نباید بدون توبه از خواری و تنبلی به امید آسمان نشست؛ اصحاب بدر هر چه در اختیار داشتند بخشیدند تا به پیروزی دست یافتند .

گشودن قیچی به تنهایی کافی نیست امت باید با دو دست کار کند و محصول درو کند تا این که خدا پیروزی را نصیبش کند. دشمنان از پیروزی ارزش‌ها و پرورش الگوها می‌ترسند به همین خاطر می‌خواهند آنان را خدشه‌دار کنند و به هر وسیله‌ای ابهت‌شان را در هم شکنند تا به زیان امت سقوط کنند و ملت‌ها کارنامه‌ی درخشانی در عزت و کرامت نداشته باشند. تا امثال دکتر بلتاجی پیدا نشوند که با لبخند کودتاچیان را به چالش بکشد و بگوید که این‌جا دیگر نمی‌توانند عزیمتش را در هم شکنند مرگ و زندگی برای او یکسان است.

بر اساس احادیث نبوی خداوند این الگوها را به نیکی می‌سازد و روش کار را به آنان می‌آموزد؛ بسیاری از جوانان را که محصول همین افراد هستند دیده‌ایم که فداکاری آن‌ها به اذن الهی چگونه بر گوش‌ها و قلب‌ها تأثیر گذاشته است پس مژده دهید و بیاموزید .

ګټورې وييناوې

. سيګرټ څکول:
سيګرټ ستاسو پوستکی وچوي او طبيعي ښکلا مو له منځه وړي. دا چې د بدن د وينې په جريان هم بده اغېزه پرېباسي، نو ځکه ستاسو طبيعي ښکلا له منځه وړي.
.بې کيفيته کريمونه کارول هم ستاسو طبيعي ښکلا ته زيان اړوي.
.په پوستکي کې خالونه وهل: دا چې په افغانستان کې په پوستکي کې د خالونو د وهلو مرحلې ته پام وشي، نو معلومه به شي، چې څومره په سخته دغه خالونه وهل کېږي. پوستکی د خال وهلو په وخت ډېر زجر ويني، همدلته ده چې طبيعي ښکلا يې له منځه ځي او ستاسو د بدرنګه کېدو باعث کېږي.
.تر ناوخته ويښ پاتې کېدل:
هغه کسان چې تر ناوخته ويښ پاتې کېږي، نو هم سټريس يا فشار ددې باعث کرځي چې د وجود دفاعي سيستم يې کمزوری کړي. کله چې د وجود دفاعي نظام مختلط شي، نو پوستکي ته د وينې د رسېدو سيستم خرابېږي او همدلته ده چې پوستکی طبيعي ښکلا له لاسه ورکوي او ستاسو د بدرنګۍ باعث کېږي.
.په غير منظم ډول ډوډۍ خوړل:
هغه کسان چې د ډېر مصروفيت ادعا کوي او په سم او ارام ډول د ډوډۍ خوړلو ته وخت نه ورکوي، نو هم کېدای شي د وينې خواږه يې زيات شي او يا د انسولينو د ترشح باعث وګرځي چې د دغه حالت دوام ستاسو د وزن د کمېدو لامل ګرځي.
.ستر ګي مه موښئ:
په غلطه طريقه د پوستکي د ګرولو تر څنګ د ستر ګو ګرول هم کولای شي ستاسو د پوستکي ښکلا ته زيان واړوي. دا کار د پوستکي د تورېدو، پړسېدو او زخمي کېدو لامل ګرځي.

د دیموکراسي ډول او بې ځایه ګډا

ع ۱ خالد

په دې باندې هر عاقل انسان پوهیږي چې افغانستان دا ۱۳ کاله کیږي چې د غربي ټلوالي له خوا اشغال دی او دولته ځوک دیوه رئیس د تقرري صلاحیت هم نه لري او د دې هیواد سیاسي، اقتصادي او نوري چاري د غربي ښکیلاک ګروپه لاس کې دي هیڅوک هم د کوم شي صلاحیت نه لري دا چې د دیموکراسي ډول دانتخاباتو په نامه وهل کیږي دا هغه ډول دي چې غربه یې وروسته د کور خاوند واوري چې دیوال یې سوري وي او په کور کې یې هیڅ هم نه وي پاتي خو د افسوس ځای دادي چې غل سره د کور خاوند هم ملګري وي.

دا چې دیموکراسي زموږ د دین او فرهنګ سره هم په ټکر کې ده د دې په څنګ کې نوري پټي او ښکاره ناخوالي هم ورسره ملګري دي چې څه یې اوس ښکاره دي او څه به یې وروسته د وخت په تیریدو سره معلومیږي بیا به دا غربي ډول ته نڅاکوونکي هم پښیمانه وي.

دا د حقیقت څخه لیري نه ده چې او سني ټاکني د غلام رئیس جمهور په ټاکلو کې هیڅ کوم رول نه لري دا پلانونه ټول ۱۳ کاله مخکې جوړ شوي دي خو غربیان غواړي چې په دې نمایشي ټاکنو یو هیواد خپله د هغه هیواد د وګړو په واسطه خپل اشغال ته دوام ورکړي او د خپل غلام رژیم د کړه وړو ملامتیا هم د ملت په غاړه واچوي.

دا ښکاره خبره ده چې د دې ډول سندرغاړي او په هغوي دهري دوري ستاره افغان له وخته ټاکل کیږي مګر دیموکراتانو نڅا او ګډا هغه څه دي چې یوازې د دوي سره ملګرتیا او د خپل ځان سپکاوي دی که چیرې د دې ملت یو وګړي هم د انتخاباتو ډول ته ګډا نه شي بیا به هم یو ټاکل کیږي ځکه دا د دې ملت کار نه خو د ملت نا خبره خلک یوازې دا شغال د دوام لپاره کارول کیږي .

د دیموکراسي په انتخاباتي پروسه کې دا سې پلانونه شتون لري چې ملت د خاوري سره خاوري کوي ټول مادي او معنوي ارزښتونه یې له منځه وړي او تر ټولو خطرناکه پایلې یې د تعصباتو رامنځ ته کول دي تر او سه پوري زموږ په هیواد کې ژبې او قومي تعصبات دومره نه وو لکه څومره چې د دیموکراسي په لسیزه کې رامنځ ته شول حتي دا رګ غلامان هم د قومي ،مذهبي او ژبنیزو توپیرونو په بنسټ ټاکل کیږي او ټول قومونه یې سره وویشل او خلک یې تعصب ته تشویق کړل.

په دې باندې هر څوک ښه پوهیږي چې بدون د دوي دا جازې څخه څوک ځان نه شي کاندیدولای دا چې څوک مخ ته راځي دیوې خاصي برنامې او پلان له سره سم مخ ته کیږي او غواړي چې د خلکو تر منځ تعصبات رامنځ ته کړي اوس د غرب لخوا د سیسه جوړه ده چې د ژبې او قوم په اساس کور په

کوراوکلی په کلی دښمني رامنځ ته کړي او ترڅو چې دنیاآباده وي داتعصبات له منځه ولاړنه شي.

ددي بد بختيو څخه د خلاصون لاره داده چې مونږ بايد حقايق و پيژنو او د خپل ځان لپاره يوبل معيار چې هغه اسلام دي وټاکو ددي قومي او ژبني تعصباتو څخه تير شو هرهغه څوک چې مسلمان وي خپل ورور وګڼو او هرهغه څوک چې د اسلام څخه ليرى که څه هم زمونږ ورور وي د هغه څخه نفرت وکړو ټول په ګډه سره د خپل خلاصون لپاره کار وکړو او که چيرى همداسى ويده وو او هرڅا خپل ډول ته ګډ ولونو پايله به ددى ملت د نابودي سبب شي.

لله الحمد بيا هم زمونږډيرهيوادوال په دي پوهيږي چې داشغال په صورت کي ټاکني او حکومت هيڅ کومه معني نه لري که هرڅوک وي نوددوي متابعت به کوي او ددوي په لاره به ځي بدون دهغي څخه غلام ديوي شيبى لپاره هم دغلامي په څوکی نه شي کښيناستلاي.

ددوي اودروسانو ترمنځ يواځى دومره توپير دي چې هغوي به يوغلام وواژه او پرځاى به يى بل کښيناوه خودوي بيادانتخاباتو په جعلي پروسي سره ديوه په برځاى بل دروي خويواځى داملت ته فريب ورکول دي.

هغه دشمال نورلنډه غران چې دغلام حکومت په مقابل کى په ښکاره مخالف دريځ نيولى دي او په پټه توګه سره يودي اودادريم ځل دي چې دناکامي سره مخامخ کيږى خوبياهم مخ ته کيږى ترڅو په هره دوره کي ځان کاند يدکړي داهم يوپلان دي ترڅودري ژبي هيوادوال تعصب ته وهڅوي او اصلى خبره داده چې دواړه ديوي وياله څخه اوبه کيږي.
په پايله کي زه تولوهيوادوالوته که دهرقوم دى اوپه هره ژبه خبري کوى دپرديوداهدافو ښکارنه شي يوبل ته دوروري لاسونه ورکړي او اسلامي نظام دتحکيم لپاره خپل مسئوليت ترسره کړي ترڅوراتلونکي نسل ددي بدبختيو څخه خلاص شي.

دروژي په اړه غوره يادونې

۱۴. هر کله دې چې کومه ګناه وکړه اوالله تعالی دربانديپرده واچوله ، نوپوه شه چې دتوبي لپاره الله فرصت په لاس کې درکړ ، نو ګناهونه پريږده اوله زړه څخه دتوبي په لټه کې شه .

۱۵ . دبدو خلکوله ناستي اومجلس نه ځان وساته اودصالحوخلکونيږديکت اوصحبت انتخاب کړه .

۱۶ . هميشه جومات ته په تلوکې پيش قدم اوسه ، اودالله په کور کې دخضوع ، عاجزى اوعبادت مظاهره کوه .

۱۷ . زياراوباسه چې تر خپل لاس لاندي افرادوته ديني مسايل اوغوره نصايح چې مستندوي غوږوته ورسوي .

۱۸ . خپل روژه ماتي ډيرمه رنګين کوه ، ځکه چې خداى مکړه خبره اسراف ته ولاړه نشي اود کورغړي له تلاوت اوعبادت څخه محروم نکړي .

۱۸ . دروژي په شپو کې بازارونوته له تګ څخه ترخپلي وسي ځان ساته ځکه چې دروژي قيمتي شپې درنه په لهوه لعب اوبې ځايه مصروفيتونوتيري نشي .

۱۹. پوه شه چې دغه مياشت هغه ارزښتمن ميلمه دي چې خامخادرنه بيرته په سفرځي ، نوښه مهمان نواز اوسه .،

۲۰ . په اخيروشپوکې دقيام حريص شه ، ځکه دغه شپى زياتي قيمتي اودقدربيش قيمته شپه هم له ځان سره لري .

۲۱ . داخترورځ چې دالله تعالى څخه دمننې اوسپاس ورځ ده ،ځان دعبادت اومسنونه طريقوپه پيروي کې مشغول ساته ، اودنادارو اوبې کسو خلکو مددګار اوپالونکی جوړ شه اودخپل ځان اوورو بچيانوسر سايه خامخامسکينانوته وسپاره .

۲۲ـ له شرعي عذرڅخه پرته روژه ونه خوري ، ځکه چې جبران يې سخت اوکه بيايې هرڅومره قضاياني ونيسي ، تلافي اوعوض يې نشي کيداى .

۲۳ . او دنفس دتذکيى لپاره بايد کوښښ وکړي ترڅوداعتکاف سنت ژوندي وګرځوي

ورستي انتخابات

که د بدبختي يوه بله پيلامه !

د. عامر

څه موده وړاندې د کابل لاسپوځي او مزدور حکومت د انتخاباتو په نوم د يوی بلې نوی بدبختی اعلان وکړ چې په سمدستی توگه يو شمير هغه اجيری او بی نوره څيري ميدان ته را ووتی او هر يو د افغان ولس راتلونکی خيرخواه او زعيم ځان معرفی کړ

خو نه هيڅکله نه، افغان غيور او باشهامته ولس دوی ، ددوی اخلاق ، ددوی شخصيتونه ، دهغوی دومخي اعمال ، او دومخي دا برنامی پيژندلی ،دوی ډيري چغی ووهلی او په رنگ رنگ لباسونو او شکلونو زمونږ گران ولس ته راوړاندې شول خو زمونږ قاطع غيرتی او مجاهد ولس نه په دوی سلام واچاوا او نه يې د دوی ناولو برناموته غوږ کيښود ،نو يو شمير يې پوه شول چې دا هغه ولس ده چې مونږ بمونه پری ورولی مونږ په تورو شپو د دوی کورونه تلاشی کړي، مونږ د دوی تنکی ماشومان او ړنک بنگ ځوانان شهيدان کړي نو دوی رايه نه بلکی د زهرو گوټ به راکوي نو پرشا لاړل او نور وته تير شول پده جمله کې د افغان ولس يو قاتل رحيم وردگ هم شامل وو داچې د ټاکنو ورځ راغله او افغان

ولس هر يو ته خپل تصوير په آينه کې وښود او د نتيجو د اعلان سره سم لکه د بزکشی اسونه ډير په تيزی سره د ميدان څخه ووتل او نوم نشان يې ورک شو ،خو د بزکشی دوه نور اسونه د دوی په شرميدلي ميدان کې پاته شول او دوهم پړاو ټاکنو اعلان شوي تر څو د څو مياشتو لپاره بيا د افغان ولس دوکه کړي ، خپلی رايی په نسبی ډول زياتی کړي ، جهانيان وغولوي، د خلکو کارونه په ټپه ودروي، نو اعلان يې وکړ چې پدی پړاو کې به ددوکسانو ترمنځ سيالی او رقابت کيږی، ولس دې رای اچونی ته بيا اماده شی.

داځل ميدان ته د پنجشير يو پخوانی گيدړ ، زوړ داړه مار او لنډغر ډاکټر عبدالله او هم د افغان ولس د بدي ورځی څخه تښتيدونکې د اروپا او امريکا په ماڼيو کې چيغی وهونکی يو ناروغ او د کاره لويدلی ډاکټر اشرف غنی احمدزی راووتل ،غواړم چې دغه دوه کسان درنو لوستونکو ته په مختصر ډول دروپيژنم ډاکټر عبدالله: چې د پنجشير اوسيدونکې ده د کمونستانو په لومړيو وختونو کې د خپلې مور سره يوځای په کابل کې اوسيدو او دسترگو په يو طبی کورس يې لوستلی او ناکام تري فارغ شوی او کله چې احمدشاه مسعود د روس يرغلگرو سره د سولی معاهد وکړه نو عبدالله پنجشير ته ورسيده او هلته د مسعود محافظ شو په لوفری او لوچکی کې د وخت نامتو ځوان وو او اوس هم يو ستر بد اخلاقه انسان ده چې د نړی قيمتی شراب څکی او ډيره قيمتی درشی او نکتايې اچوی چې د نکتايې قيمت يې دری زره نه تر پنځه زره ډالرو پوری ده اسلام او جهاد ته هيڅ عقيده نلری او صرف د خپلو گټو لپاره يې استعمالوی

داسې ښکاري چې اوس امريکا هم دلاندې عواملو له امله له افغانستانه خپل پوځيان وباسي،خو خپله جګړه دلته په پوځي او نا پوځي دواړو شکلونو کې دوامداره پريښودل غواړي چې د امريکا ملګري به پرمخ بيايي او قومانده او تمويل به غرب پر غاړه اخلي،او دا کار به ځکه کوي چې امريکا پدې سيمه کې داوږدې مودې اهداف لري هغه چې دمستقيم اشغال په شکل کې حاصل نه شول.

ډاکټر اشرف غني احمدزی: د لوګر ولايت اوسيد نکې ده د فاميل په لحاظ ديوی غټی کورنې سره تعلق لری خو په جهاد کې يې ونډه نه ده اخستی او په غرب کې يې وخت تير کړی يو سيکولر سړی ده په اقتصاد کې دوکتورا لري او د امريکا په يو پوهنتون کې استازی کړی ده په دغه وخت کې د اشغال ميدان نه استفاده کوي او غواړي چې د افغان ولس زعيم شی او د افغانانو يو ستر قاتل رشيد دوستم يې خپل مرستيال ټاکلی نو پدې توګه کوم انتخابات چې ترسره شول د افغان ولس د بنيادي ستونزو حل او د اسلام د مقدس دين نفاذ هيڅ طرف هم په خپلې برنامې کې نلري يوه هم په خپلو شعارونو کې دا ونه ويل چې زما راتلونکې نظام به د اسلام په اساساتو اوديني شعايرو ولاړ وي ،پريکړی به د اسلام د قانون له مخی کيږی او مسلمانان به د نړی يو غښتلی او پياوړي قوم په توګه سر را پورته کوي

زمونږ د ولس يو شمير خلک يې په خپلو چالاکو او مداري ژبو دوکه کړل او د خپل راتلونکې فساد ، غلا ، خيانت ، اسلام دښمنی او مسلمان شرمونې ضمانت پاڼه (رايه) يې تري واخسته.

ای د افغانستان مجاهد او غيور ولسه ؟ داانتخابات نه بلکې زمونږ د هيواد د تباهی ، بدبختی غلامی خرڅونی او هم د باغررو ه افغانانو دله منځه وړلو يو پلان شوي دسيسه ده او دبد بختی يوه نوی پيلامه ده ، غرب غواړی چې د څيرو په بدلون د خپلو شومو طرحو او دسيسو د عملی کولو لپاره نوي څيري رامنځ ته کړي او دودی په دورغجنه ژبه اعلان کړي چې مونږ دا کال تر اخره د افغانستان څخه وځو او تاسی ته په ميراث کې يو ښه حکومت پريږدو خو داسی هيڅکله نده ؟؟؟ دوی څيري تعويض کوي او اصلي هدف يې د امنيتی تړون لاسليکول دي او په نوي شکل او نوي ډيزاين سره زمونږ دولس تباهي ته متی رانغاړي.

زمونږ غيور ، زړور او مجاهد ولس بايد دغليم په وړاندې نوي ايثار او قرباني ته ځانونه چمتو کړي خپل عزم او ثبات پياوړی کړي انشاءالله هغه ورځ لري نه ده چې ټول هيواد کې د اسلام حقيقی بيرغ ورپيږی ، پريکړی د محمدی شريعت په رڼا کې تر سره شی امير او غريب دواړه به په يوه ټغر کينی ،هر افغان ، په سوله او هوساينه کې ژوند وکړي او زمونږ د هيواد ټول تور مخی او زيړ مخی مزدوران په پوره ذلت او ټيټو سترګو د هيواد څخه په نامعلوم لور ورک شي

. نو افغان ولس بايد د زيات فکر او سوچ څخه کار واخلی او هيڅکله په داسی نا مشروع ټاکنو کې ونډ ه وا نخلی او په لوی لاس د افغانستان د تباهی او افغان ولس د غلامی چانس چاته ورنکړي، څو مياشتی وروسته د پارلمان په نوم يو ځل بيا د ټاکنو يوه بله دسيسه او لوبه پيل کيږی چې ورته ټاکونکي کانديدان به لدي موجوده کانديدانو څخه زيات مضر او غلامان وي پام وکړی د هوش څخه کار واخلی او په پوره ميړانه او شجاعت سره پدی ټاکنو کې هم ونډه وانخلی غرب او دهغوی مزدوران صرف زمونږ او تاسو څخه د خپلو پلانونو د عملی کولو لپاره کار اخلی نو راځی چې په يو اواز يو اتفاق او يو احساس د الله (ج) د نظام د نفاذ لپاره قرباني ورکړو ، د جهاد ، شهادت اود جنت دا مقدسه لار خپل مسير اوهدف وګرځوو او خپل رب ته سپن مخ ورشو .

انتخابات تمام شد

اما انتصابات ادامه دارد!!

(منقاد)

کشمکش های نتائج انتخابات رژیم کابل درین روزها در سراسر کشور ومیان احزاب سیاسی بشدت ادامه دارد ملت بجان هم افتاده‌اند در شرایطیکه بهترین فرزندان کشور پشت میله های زندان هستند، ومردمان متدین وجهادپرور در حبس غیر قانونی نیروهای نظامی خارجی وغلامان داخلی دستگاه قضا گردیده‌اند منابع ملی دربستر وزیربستر در حال چپاول وغارت است. انتخابات بازي درافغانستان البته با عرض پوزش دقیقا چون گاوبازیست!! با حرکت درآوردن یک بیرق آن گاوخشم وغضب ملت را گهي به راست وگهي به چپ مي کشاند. واقعا این فروخته شده گان چه می خواهند وازملت چه چشمداشتی دارند زیرا می دانیم، که اینها کارگزاران غربیان واجنبیان هستند، نه کارگزاران مردم نه نمایندگان مردم. ازهمین رواست، هرقدری که این نمایش را مطالعه نمایم، نتیجهٔ عملی آن همان است، که تاامروز شاهدش بوده‌ایم.

ملت شهیدپرور مابجای شعارهای که «مارازرای خود دفاع میکنیم» باید «انتخابات انتصاباتی» ویا «انتصابات انتخاباتی» رژیم دزدان وجنایتکاران را فعالانه تحریم کنند «تحریم فعالانه» واین بدین معنی است، که درافشاگری همه جانبه وگسترده، درپرده‌برداشتن از سرتاپای این رژیم فاسد وجنایتکار فعالانه شعار بدهند.

کسانی که خود را مرد سیاست می دانند ومی پندارند که نقش بالایی در حکومت دارند وسرنوشت ملت رابدست میگیرند. آیاازعملکردهای سابقه شان خجالت نمی کشند؟ درجنب خودنیزهمچوافراد فاسد وجنایتکاران وخائینین ملی را گرفته عوام وملت را تحت نام مقدس جهادفریب میدهند عوام که درطول اعصار فرصت آن را نیافته‌اند که‌از درد شکم به‌بیشترفکر کنند، بستری خوبی برای رشد این ستمکاران وغاصبان بوده‌اند عوام طوری در ورطه ناآگاهی نگهداری شده‌اند که همه‌امور آنان برمبنی گفتار این ستمگران بوده است نه‌اینکه خود در مورد استقلالیت فکری وشناختی باوری ومنطقی داشته باشند. این مشکل فرصت خوبی رابدست اشغالگران ومتجاوزین واین مزدوران فاسد داخلی داده است تاازمردم علیه مردم وازمردم ودین علیه دین استفادهٔ سوکرده به‌اریکه قدرت برسند.

شما شاهدهستید که درپهلوی عبدالله عبدالله کسانی قرار دارد که به جزاز چپاولگری ورهگیری قصرسازی ثروت پرستی وقتل ملت وچندتن گم راه تاریک نگر خودپرست متعصب مانندامرالله صالح که روزانه پنج باراندیشه راه وفکرش تغییر میکنند، دیگر صفت نیکی ندارند. اگر عملکردهای سابقه‌ایشان راورق بزنیم خوب درمی یابیم که بجزازنفاق همکاری باغربی ها، سپردن لجام کشوربدست اجنبیان، پریشانی وآواره گی، خانه سوزی کشتار، جنگ وجفا ظلم، چور وغارتگری در حق مردم کشور ارمغان دیگری ندارند... آرزو و سیاست همیشگی ایشان همین است.

این ها کسانی اند که گذشته‌ایشان مملواز رسوائی ویکدستی بااشغالگران در ظلم وستم علیه فرزندان حق پرست جامعه وفروختن خون شهداء جامعه ودیگراعمال زشت وناشایسته دربرابر جامعه بوده که یادآوری ازآن برایشان به بهاء سرافگندگی تمام میشود. این افراد میخواهنداز یکسواین گذشته نابکار خویش را کتمان نمایند واز سوی دیگر بااغفال اذهان ملت وبرچشمان آنها خاک زده سرنوشت فردای ملت رانیز درقیمومت خود ویا خانوادهٔ خود داشته باشند. اما تاریخ باز گوی تجارب نیک وبد جامعه است، هرچنداگرافراد مغرض وجاه طلب به‌نفع مردم داران سیاه پیشه آن را جعل کنند، بازهم فرزندان راستین جامعه کم نیستند که دربرملا ساختن چهره های ناروای این اشخاص فروخته شده با صداقت وراستی قلم بردارند وکردار سیاه‌ایشان رانسل به‌نسل نقل کنند.

شخص دیگری که میخواهد سرنوشت این ملت شهیدپرور رابدست بگیرد داکتراشرف غنی است که خانمش لبنانی الاصل تابعیت آلمانی دارد خود خانمش طی یک گفتگوی اختصاصی با شبکه‌اطلاع رسانی افغانستان به مسیحی بودن خودافتخار کرده میگوید «زنان افغانستان رانیزبه گرویدن به دین مسحیت تشویق می کند.

رولا عبدالغنی در پاسخ به‌این سوال که‌آیا مسیحی بودن شما مشکلی برای ایفای نقش همسر ریاست جمهوری کشوری با ترکیب بیش از ۹۹ در صد مسلمان ایجاد نخواهد کرد گفت: مسیحی بودن من جرم نیست اگرچه من از طرف مادری به‌نوعی یهودی محسوب می شوم.

وی اضافه کرد، به اعتقاد من بانوان افغانستان تحت فشار به دین اسلام گرویده اند چون راه دومی نداشته اند. اگر آیین مسیحیت به خوبی برای آنان تشریح شود، شک ندارم بیش از نیمی از آنان به این دین خواهند گروید.

خانم اشرف غنی احمدزی ادامه داد: من در طول ده سال گذشته از فعالیت برخی گروه های تبشیری مسیحیت در مناطق مرکزی، شمال و کابل به صورت غیرمستقیم حمایت هایی داشته ام. در صورت حضور در کاخ ریاست جمهوری به طور حتمی این کار را گسترش خواهم داد تا مردم افغانستان بدانند مسیحیت آن چیزی نیست که ملاها در مغز آنان وارد کرده اند. وی زنان افغانستان را به آزادی تشویق کرده گفت: آزادی زنان به قدری شیرینی خواهد داشت که به خودی خود، موضوع مسیحی بودن من حل خواهد شد.

هموطنان عزیز! ببینید او خودش شعار میدهد که بعد از کامیابی شوهرش در جامعه چه خدمت میکند شما خود شنیدید که تمام زنان ملت شهید پرور ما را به مسیحیت دعوت میدهد ومیکوشد که همه آینده ملت را مسیحی بسازد. مردم افغانستان باید آگاه باشند که غربی ها واسرائیلی ها از گذشته های دور بالای اشرف غنی سرمایه گذاری نموده اند تا روزی او را بر ملت ما حاکم سازند، تا به واسطهٔ وی آرمان ها، عزایم ودسایس شوم خود را پیاده سازند. همین است که خانم نصرانی یهودی اشرف غنی احمدزی به خود این حق را میدهد که بگوید: من زنان افغانستان را عیسوی می سازم. چنانچه سایت اسرائیلی «بی اچ ورلد» در مقاله ء تحت عنوان «ترس وامید» از اشرف غنی به توصیف پرداخته. «واو را گزینهٔ مناسبی برای احراز کرسی ریاست جمهوری افغانستان دانسته وادامه می دهد که اشرف غنی تنها کسی است که عقب افتاده گی افغان ها را می تواند در عرصهٔ جهانی ترمیم کند.

هموطنان عزیز! مقصود از ذکر اعمال این اشخاص وطن فروش اهانت به تاریخ وافتخارات کشور نیست، واین هویدا است که افغانستان زادگاه آزاد مردان که پرچم آزادی، مساوات، تمدن ودانش در دست داشته، بوده است. اما این هم غیرقابل انکار است که در برابر این همه بزرگ مردان، رهبران وقهرمانان مفسدو شریر داخلی و صحنه ساز برای خارجی ها واجنبیان کم نبوده است. آیا این همه شقاوت ونفاق وفساد وانداختن مردم کشور را بجان همدیگر بمناسبت سمتی، گروهی، قبیلوی، تعصبی، نژادی، قومی واستفاده از نام مقدس جهاد، برای رسیدن به اریکه قدرت، از دامن چه کسانی چکیده است؟ این ها هرگز درفکر آبروی ملت نبوده اند. اصل ملت است این همه مستبدین با گذشته نابود گر خویش به چشم ملت خاک میزنند تا به اهداف شوم خود رسیده کشور را به هر طرف که میل داشتند سوق بدهند.

این دو تن مزدوران که خود را برای ریاست جمهوری لایق تصور میکنند، خود بچنگال کفر والحاد ومتجاوزین افتاده اند وهمه شؤن اجتماعی شان را باغرب وملت های کفری وابسته احساس میکنند که از خویش هیچ استقلالیت ندارند. این همه جنجال ها وانتخابات خاک زدن بچشم ملت است کشور ومردمیکه از خود استقلالیت نداشته باشند ولجام کشور شان بدست بیگانگان باشد پس انتخابات چه معنی دارد؟ بجز اینکه فقر ودرماندگی های فرهنگی واقتصادی امت اسلامی را بگدایان مبدل سازند وکاسه خالی اجتماعی را باید از کندوی مفکوره های غربی پر سازند. در عین حال همه افغانها نگران اند وهمه می پرسند، همه در دریائی وحشت وحیرت غرق شده اند که آخر بر سر این صاحبان جاه وجلال طلب چه آمده است که بخاطر منافع سیاسی شان، نه بخاطر سربلندی اسلام چون کرمان گوربجان هم افتاده اند، گروه گروه دربرابر خدا کمر بغاوت بسته اند آخر سرنوشت مبهم وتاریک ودور وفرو رفته درغل وزنجیر این ملت چه خواهد شد.

باید ضمیر ملت غیور افغانستان اجازه ندهد که فرزندان چنین جوی گندیده ومتعفن باشند، باید عصیان کنند بر آن کلاه برداران که قرآن را بحیث دام تزویر استعمال میکنند وبه تلاوت چند آیات آن خود را مسلمان معرفی میکنند همچو خانم اشرف غنی وبا جلوه اسلام ومجاهدنمائی و شیخ الحدیثی همچو عبدالرب رسول سیاف بازیچه دست غربی ها اند. باید عصیان نمایند بر همه آن مجاهدنماهائی که بر سر خون شهداء شان باد شمنان اسلام معامله گری میکنند. باید عصیان کنند بر آن همه غلامان که در قبال چند دالر آبروی ملت را می فروشند. هموطنان عزیز! باید هر فرد ملت مسلمان وغیور افغانستان متوجه نقشه های پلید وتوطیئه های ویرانگر و تزویر ناجوانمردانه دشمنان خود یعنی آمریکا، اسرائیل و روبای مکار (انگلس) باشند.

از رب متعال تمنا دارم که دست نماینده گان فروخته شده گان خودپسند خود را از سرنوشت کشور مظلوم و شهیدپرور ما کوتاه سازد. وکمک نماید که ملت ما از دست اشغالگران خارجی واین مزدوران داخلی آزاد گردیده خود صاحب سرنوشت و سعادت خود گردد.

از بس ستاره کشتید روی زمان سیاه است
هم این زمان، هم آن زمان سیاه است
دست قلم شکستید، پای سخن ببستید
ای روشنی ستیزان افکارتان سیاه است
میخانه ها ببستید، بتخانه ها گشودید
با خون و ضونمودید، کردارتان سیاه است

دوهم پړاو انتخاباتو پایلې

قاري محمود غزنوي

د کرزي د دوهمې دورې د پای ته رسیدو سره سم په کابل کې موجود ګڼو تنظیمونو هڅه پیل کړه، چې د جمهوري ریاست لپاره خپل نوماند وړاندې کړي، او د ارګ په ماڼۍ د قبضې خوبونه لیدل یې پیل کړل، چوکۍ یوه وه، خو غوښتونکې یې په درځنونو، انتخابات وشوو خو پنځوس+یو هیچا هم ترلاسه نکړو، یوائې ډاکټر عبدالله او اشرف غني له ډیرو منډو تړلو او تقلب نه وروسته تر نورو زیاتي رایې لاسته راوړي او د دوهم پړاو لپاره خودبخود منتخب شوو، نو ځکه انتخابات دوهم پړاو ته وغزیدو، ډاکټر عبدالله چې په لومړې پړاو کې تر ټولو وړاندې وو، هغه فکر کول، چې زما او د ارګ په منځ کې هیڅوک حائل نشي کیدای، ځان یې منتخب رئیس جمهور ګڼل، ځکه خو یې په زغرده وویل، چې که چیرته زه منتخب نشوم، نو په کابل کې به په بیالو بیالو وینې وبهیږي، د نوموړي غرور او تکبر له اسمان سره خبري کولې، د هغه معاون محقق په یوه جلسه کې خپل رقیب اشرف غني ته په خپله هزاره ګي کې داسي مخاطب شو او ورته یې وویل چې پُچُقِتْ میکنم. همداسي دوی اشرف غني د اسلام له دائرې څخه وایستل او د کافر ټاپه یې پرې ولګوله او اسلام یې یوائې تر ځان پوري منحصر کړل.

دا چې دوی خپله بریا یقیني ګڼله، ځکه ځانونه یې مجاهدین ګڼل، او رایه اخستل یې خپل واجبي حق ګڼل، دوی دعوه کوله چې زموږ ګیرچاپیره ټول مجاهدین دی، او د مخالف لوري ګیر چاپیره ټول غربیان دي، خو افغانانو دوی پیژندلي دي، د دوی جهاد یې لیدلی دی، چې تل یې له یرغلګر ځواک سره یو ځای د افغانانو په خلاف جنګ کړی، بل لوري ته هم اشرف غني او دوستم ورته سم نه ښکاریدل، د دوستم سابقه خو ټولو ته معلومه ده، او اشرف غني هم په افغاني ټولنې کې د یادونې وړ شخصیت نه شمارل کیږي، د هغه ښځه یهودۍ ده، هغه له سر نه تر پښو پوري غرب پلوی او غرب لوریلی ده، نو افغانان په سخت فکر او اضطراب کې ډوب شوو، چې څه وکړي، ولې بیا یې فیصله وکړه، چې ستونزي خو په دواړو کې دي خو اخف د ضررینو انتخابول پکاري دي، یعني د بدتر پر ځای بد انتخابول پکاري دي، نو اشرف غني ته یې رایه ورکړه، تر څو هغه په اصطلاح د کامیابي په درشل کې شو.

افغانان د في الحال لپاره له دوارو څخه ښه تمه نه لري، ولې دوی فکر کوي، چې که چیرته ډاکټر عبدالله یو ځل د واک واګې له لاس کې واخستې بیا به یې له مرګه پرته له لاسه ورنکړي، همداسې افغانان فکر کوي چې که ډاکټر عبدالله برسر قدرت شي، نو کیدای د افغانانو وژنه زیاته شي، همداسې ممکن د هیواد تجزیې ته زمینه سازي وشي، ولې د اشرف غني د قدرت په مهال کیدای شي افغان له قتل څخه خو بچ شي، خو دا امکان څوک نشي رد کولای چې سخت به وزورول شي او د غرب جرړې به نوري هم وځغلول شي.

البته د اشرف غني د واک ته رسیدو په صورت کې یوه ستره خطره د دوستم په بڼه لیدل کیږي، هغه داسې چې که چېرته غربیانو یا خپله دوستم د یو پلان له مخې کوشش کړی وي، چې اشرف غني را مخته کړي، په لوی لاس افغانان بیا په ځانګړي توګه پښتانه د ډېته وهڅوي، چې هغه ته رایه ورکړي، چې کله هغه د قدرت واګې په لاس کېواخلي، د افغانستان رئیس جمهور شي، نو لږ یا ډېر وخت وروسته اشرف غني د یاسرعرفات په شان له ناوړه برخلیک سره مخ شي، یعني په خفیه توګه د قلبي حملې، مرض یا بلې بانې له امله له منځه یوووړل شي او مړ یې کړي، د قانون له مخې به واک دوستم ته ورسي، هغه به د اشرف غني په ځای د هیواد جمهور رئیس شي، لکه څرنګه چې په ګاونډي هیواد پاکستان کې د بې نظیري د وژنې له امله آصف زرداري واک ته ورسیدو، نو په دې صورت کې دې د افغانانو خدای مل شي، ممکن بیا د دوستم راتلونکی له ډاکټر عبدالله څخه هم بدتره شي، د پخوا په شان په افغانانو خپل هیواد سور تنور کړي

. مطلب د ډاکټر عبدالله بدتر دی، اشرف غني بد دی، خو د همدې بد په ضمن کې بدتر دوستم پروت دی.

دا ټولې د غربي جمهوري نظام دوکې او فریبونه دي، باور وکړئ، ټول انتخابات په تقلب، رشوت او بدمعاشئ ولاړ وي، چې څوک د غرب خوښ وي، د هغه په ګټه ټول مطبوعات او رسنۍ را وڅرخوي، له هغه څخه بې ځایه اتل او قهرمان جوړ کړي، خو چې څوک یې بیا خوښ نه وي، هغه له انسانیت او ټولنې څخه وباسي. همداسې که د ټولنې پنځه اویا فیصده خلک رایه ورنکړي، خو پنځه ویشت فیصده رایه ورکړي، نو دوی تري اکثریت جوړ کړي، او هغه پر ټول ملت واکمن کړي.

دمجاهدینو میډیا غښتلي ده !

دکندهار داجیري اداري دوالي ویندوی ، جاوید فیصل وایي چې دطالبانو میډیا زمونږ له رسنیو او تبلیغاتي دستګاه څخه غښتلي او مخ په وړاندې ده ، هغه وایي ، طالبان هره پیښه له مونږ څخه مخکې خلکوته رسوي او اذهان دځان په ګټه څرخوي .

دوالي ! ویندوي اعتراف کوي چې طالبان دانټرنیټ، فیسبوک او ټویټر له لار ي په سریع او عاجل ډول خپل خبرونه ، اعلامیې ، پیغامونه او غبرګونونه خپروي ، په داسې حال کې چې دولتې سرچیني او هځې دومره پخې او کمزوري دي ، چې حتی موظف کسان هم په ډیرمشکل پیداکیږي ترڅو خبریالانو ته معلومات ورکړي ، نو په دغه صورت کې خبریالان اړ دی چې دطالبانوخبرونوته پام واړوي او ډیرڅه له هغوترلاسه کړي .

دنیویارک ټایمز خبریال ، تیمور شاه وایي چې طالبان په مطبوعاتي میدان کې له سختې ځیرکتیا او هوښیاری څخه استفاده کوي ، هغه وایي طالبان دایمیلونو، تلیفوني میسجونو، برښنایی ډله ییزو رسنیو او مهالنیو مجلو په مټ خپل پیغامونه او پرمختګونه په مختصرو جملو او ټکوکي په داخل او بهرکې خلکوته رسوي .

پکتیکاولایت د ګوملې په ولسوالۍ کې د د مفسدي اداري د سناتورانو دخپلمنځي اختلاف له کبله د یو شمیر مکاتبو د بندیدو په اړه

دافغانستان د اسلامي امارت د پکتیکا ولایت د معارف دریاست لخوا وضاحت

باسم رب الشهداء والمجاهدین

د پکتیکا ولایت چه د مساحت په لحاظ ډیر لوي او ډیرې لرې پرتې سیمې لري او اولس او بچیان یي د علم ترږي دی ولې متاسفانه چې په هر وخت کې تر ډېره حده له علمي رڼا څخه د زورواکو لخوا بې برخې کیږي چې په دي وروستیو کې یوځل بیا د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالۍ له مظلومو ولسونو او بچیانو سره د فاسدې ادارې دسناتورانو لخوا د خپل منځي اختلافاتواو د شخصي منافعو د حصو ل په غرض او د مفسدی ادارې د پوهنې د وزیر ، د پکتیکا د والي او د معارف د رئیس د بې کفایتي له وجې د همدي معصومو بچیانو راتلونکې د علم له رڼا څخه بې برخې شوي : هغه دا چې له دوو میاشتو راهیسې د یادې ولسوالې د معارف د مدیریت په سر د همدې ولسوالۍ ددوو سناتورانو قدیر خان او محمد حسن ترمنځ بز کشي روانه ده هریوغواړي چې یاد مدیریت ته د خپلې کورنۍ کسان راولیږی ترڅو له همدې لارې له معلمینو سره په معاشاتو کې خپله ناحقه فیصدی تثبیت کړی او د معارف وزیر هم په هره میاشت کې نوی نوی احکام ورکوی او د پکتیکا والی او د معارف رئیس هم د خپل منصب د ساتلو په غرض د همدې مظلومو بچیانو د علمي حقوقو ضائع کیدو ته د تماشې په سترګو ګوري ..... بدتره لا دا چې فعلا هغه یو شمیر مکاتب چې د مفسدی ادارې تر کنټرول لاندي دي چي تعداد یي په یاده ولسوالي کې تر ۱۷ پورې رسیږي د ماشومانو په مخ د سناتورانو په زور بند شول .... ولې الحمدلله دافغانستان اسلامي امارت د معارف عالي کمیسیون خاصا د اسلامي امارت د پکتیکا ولایت د معارف ریاست ددي موضوع اسلامي او افغاني ارزښت ته په کتلو سره لاندې اجرات ترسره کړل .

۱. ساحې ته دی معارف د مدیرانو او مجاهدینو په لیږلو د خپلو هڅو په برکت او د اولس د قانع کولو او د همکار کولو په مټ د یادې ولسوالې ۱۱ بابه مکاتب بیرته د ماشومانو په مخ خلاص کړل او معلمین یي په حاضری او تدریس کولو مجبور کړل .

۲. هم یي د مفسدې ادارې له لوري دمعارف مدیر د مجاهدینو د کنټرول لاندي ساحې کې نظر بند کړو تر څو له دې بزکشي څخه معارف شفاف او خلاص کړي ولې بیا هم د اسلامي امارت د پکتیکا دولایت د معارف د مسئولینو ، مجاهدینو او عام ولس د هڅو باوجود له (۵)نه تر (۷) بابو مکاتب چې د مفسدې ادارې او د سناتورانو د زور واکي تر مستقیم اثر لاندي دي لا اوس هم د معصومو بچیان په مخ بند پاتي شوي دي ،

لهذا ـــ د اسلامي امارت د پکتیکا ولایت د معارف مسؤلین په ټولو ازادو علمي فرهنګي او باحساسه اسلامي او افغاني ټولونو غږ کوي چې د یادې فاجعې د مخ نیوي په اړه د خپل مسؤلیت احساس وکړي او جدي قدم پورته کړي او د اسلامي امارت د معارف د مسؤلینو د هڅو سره خپلې هڅې ملګرې کړي او د پکتیکا ولایت د ګوملی د ولسوالۍ د بچیانو د راتلونکي په روښانه کولو کې په ذي دخلو لورو د حق ږغ وکړي ترڅو د معارف شفافیت ، تقدس او بې پري والی وساتل شي

د اسلامي امارت د پکتیکا ولایت
د معارف دریاست لخوا

آمریکاییها

ومقام های رژیم کابل هم کاسه بودند

مخدر به خارج از افغانستان توسط هواپیماهای ناتو می باشد که این روزها شدت زیادی یافته است.

دلیل این ادعا هم اقدام تامل برانگیز نیروهای خارجی به ویژه آمریکا است که از نابودی مزارع خشخاش جلوگیری می کنند !!! چندی پیش مقام های آمریکایی در توجیه این رفتار خود گفتند که

در سایه حمایت نیروهای خارجی، مقام های دولتی روزها در فعالیت های اداری خود مشغولند و شب هنگام به قاچاق مواد مخدر می پردازند به همین دلیل هم می باشد که انها با صداقت خواهان مبارزه با مواد مخدر نیستند و فقط شعار می دهند.

امروز پنجم ماه سرطان برابر بود با روز جهانی مبارزه با مواد مخدر. پدیده ای که سالانه میلیون ها انسان را به کام مرگ می فرستد اما جیب میلیون ها نفر دیگر را نیز پر پول می کند.

به همین مناسبت مجالسی در کشور برگزار شد که باز هم مقامات کابل وعده دادند تا قاچاقچیان مواد مخدر در هر مقام و موقعیتی که باشند، به پنجه قانون سپرده شوند. ادعایی که بیشتر به یک شعار شبیه است تا یک وعده عملی.

براساس گفته های اربابان قدرت هم اکنون سه میلیون افغانها اعم از زن و مرد و کودک برای تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان سهیم می باشند، یعنی تقریبا یک دهم از جمعیت کشور. که از این میزان یک میلیون نفر نیز معتاد به مواد مخدر هستند.

حال باید از مسوولان ذی ربط پرسید که چگونه می خواهید با این تعداد نفر دخیل در امور مواد مخدر، مبارزه نمایید و یا بهتر است بگوییم طی این سالها برای کاهش این آمار چه اقدامی انجام داده اید؟

سوال دیگر را باید از مقامات غربی پرسید که چگونه در حضور بیش از صدهزار سرباز خارجی کشت مواد مخدر در افغانستان طی ده سال ۴۰ برابر شده است !؟ سال ۲۰۰۱ و پیش از حضور نظامیان خارجی میزان تولید سالیانه مواد مخدر ۲۰۰ تن در سال بود، که در سال ۲۰۰۷ میلادی به هشت هزار و ۲۰۰ تن یعنی دوبرابر سال **۲۰۰۵** رسید و امسال نیز سازمان ملل اعلام کرد انبارهای کنونی تریاک در افغانستان تا ده سال دیگر جوابگوی نیاز مواد مخدر جهان می باشد.

جواب این سوال مشخص است. در سایه حمایت نیروهای خارجی، برخی مقام های دولتی روزها در فعالیت های اداری خود مشغولند و شب هنگام به قاچاق مواد مخدر می پردازند به همین دلیل هم می باشد که مقام های کابل با صداقت خواهان مبارزه با مواد مخدره نیستند و فقط شعار می دهند.

براساس گزارشات رسیده از منابع موثق یکی از علتهای افزایش تولید مواد مخدر طی سال های اخیر، ترانزیت هوایی انبارهای تریاک و دیگر مواد

تحلیل:

از تحلیل وضعیت کنونی با انطباق سیاست دراز مدت امریکا چنین برداشت میشود که امریکایها نه میخواهند به میل خود افغانستان را از نیروهای اشغالگر تخلیه نمایند، البته سعی دارند که ذهنیت منفی در آمریکا را نسبت به جنگ افغانستان تغیر دهد، شماری از نیروهای خود را اخراج نموده و آن را اعلام دارد.

ولی عملا تعداد زیادی از نیروهای خود را در ۹ پایگاه در خاک افغانستان باقی خواهد گذاشت، با اخذ موافقه اداره کابل ولو که بعدا از انتخابات باشد، مستقر ساختن نیروهای خود را در کشور ما قانونی خواهد دانست، حمایت بین المللی را نیز برای این هدف به دست خواهد آورد، ذهنیت منفی تعدادی زیادی از امریکایها را کی خواهان اخراج عملی نیروهای امریکا از افغانستان اند توسط تبلیغات تغیر خواهد داد، تلفات وارد شده به نیروهای امریکایی رابعد از اعلام اخر جنگ هرگز نه خواهد پذیرفت، ونیز نه خواهد گذاشت چنین خبرها به رسانه ها راه یابد.

اداره کابل به خصوص عساکر، پولیس و سائر ادارات امنیتی آن اداره را در کمربند محافظوی پایگاه های خویش قرار خواهد داد، عوض امریکایها قیمت تلفات جانی را افغانها بخاطر کسب چند پول خواهد پرداختند، بدین گونه امریکا جنگ در افغانستان را هنوز هم به درازا خواهد کشید.

قابل درک است که افغانهای غیور هرگز مجال آرام و استراحت را به اشغالگران تحت هر عنوانی که باشد نه خواهد دادند، مگر طبعا قربانی ها در این راستا زیاتر خواهد شد.

آمریکا مزارع خشخاش را نابود نمی کند زیرا مقام های افغانستان در این مورد تقاضا نکرده اند!

یکی نیست تا از این بی انصافها بپرسد مگر مقام های افغانستان حملات هوایی به مردم بی دفاع و غیر نظامی و همچنین تلاشی های شبانه و استفاده از بمبهای شیمیایی و ... را از شما تقاضا کرده اند، که اکنون در زمینه مبارزه با مواد مخدر خواهان درخواست رسمی هستید؟!

یکی از مقامات ارشد وزارت مبارزه با مواد مخدر گفته است: برنامه تخریب کشت خشخاش در ولایات جنوب شروع و به کشاورزان بذرهای اصلاحی دیگر محصولات همراه با کود توزیع شده اما نیروهای ایساف مانع تراشی می کنند و به بهانه نبود امنیت اجازه نمی دهند برنامه های تخریب مزارع در این مناطق عملیاتی شود. دلیل خنده دار آنها هم این است که به علت وجود ماین و نبود امنیت در این مناطق، پاکسازی آنها از کشت خشخاش ممکن نیست.

همه این مسایل را مطرح کردیم تا به مقامات بالارتبه و زیر دست دولت بگوییم اگر راست می گویید و مدعی مبارزه با مواد مخدر هستید، آمریکا و انگلیس عاملان اصلی کشت، تولید و توزیع مواد مخدرهستند، با آنها مبارزه و برخورد نمایید.

اگر واقعا بخواهید با این پدیده مبارزه نمایید مطمئنا آن کشاورز بیچاره توان مقابله با شما را ندارند، اما اگر باز هم می خواهید تنها در روز جهانی مبارزه با مواد مخدر حرفی زده باشید، پی حرف نروید و به سکوتی که طی این دوازده سال در برابر مقامات غربی کرده اید !!! ادامه دهی

srak

مست شول بیا اموفرات

مست شول بيا اموفرات مستې يې څپې شولې
مست يې غور ځنګونه شول مستې جذبې شولې
هاغه دي زلمي ولاړ الجهاد نارې وهي
توري يې لاسو کې دي شپې وهي تيارې وهي
ويرکړي د تيارو زامن چپې يې چې شپې شولې

